د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## دولسم ټولگی

(د دیني مدارسو لپاره)







ټولنیز لوستونه- دولسم ټولگی

۱۳۹۸
هـ. ل

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه
لري. پيرودل او پلورل منع دي.
curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## دولسم ټولگی

**(د دیني مدرسو لپاره)**

۱۳۹۸

هـ . ش.

## مؤلفين

- سرمؤلف عبدالغیاث غوری
- د سرمؤلف مرستیال عبدالمالك عابد
- مؤلف ستوری سادات
- سرمؤلف محمدرفیق مومند
- د سر مؤلف مرستیال غلام سرور گلابزی صافی
- سرمؤلف میرعبیدالله فاضل
- سرمؤلف محمد افضل حضرتی
- د سرمؤلف مرستیال محمد انور مشفق

## مسلکي ایډیټ

- پوهندوی زلمی هوتک
- سرمؤلف نجیب الله امین افغان
- پوهنیار محمد فاروق امرخیل

## د ژبې ایډیټ

- سرمؤلف امین الله نژند
- مؤلف سهراب دیدار

## دیني، سیاسي او کلتوري کمېټه:

- دکتور عبدالصبور فخري
- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

## اشراف

- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحيمِ

# د پوهنې د وزیر پیغام

الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی رسوله محمد و علی أله و آصحابه آجمعین، آما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هیواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې، بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی چې بیاکتنې او ودې ته یې جدي اړتیا لیدل کېده؛ څکه له یوې خوا باید د دیني مدرسو فارغان د ټولنې د معنوي مخکښانو په توګه د معارف د هڅو د پوره پام وړ وګرځي او له بلې خوا د دیني مدرسو په نصاب کې د اسلام د سپېڅلي دین عقاید، احکام او لارښوونې راغلې دي چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه د قیامت تر ورځې پورې، د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف او د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه، په تېره بیا د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او مؤسسو د تعلیمي نصاب په تدریجي وده کې، خپله دنده سرته رسولې ده.

د اسلامي علومو تاریخ ته کره کتنه، دا څرګندوي چې د دیني مدرسو او علمي مرکزونو نصاب تل د اسلام د تلپاتې او ثابتو احکامو پر بنسټ، د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلانده تاریخ په درلودلو سره د علم او پوهې زانګو او د وخت لوی علمي مرکز و چې د اسلامي ستر تمدن په جوړښت کې یې مهم رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ډګرونو، په ځانګړې توګه د عقایدو، تفسیر، حدیث، فقهې او د فقهې د اصولو په څېر په شرعي علومو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون، زموږ ددې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ویښتابه له پراختیا سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي زده کړو د شومره والي او څرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیان او ځوانان په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د خپل مسؤولیت او دندې له مخې د هېواد له اساسي قانون سره سم د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

په دې لړ کې د پوهنې وزارت، د هېواد د ډاډ وړ تجربه لرونکو عالمانو، استادانو او متخصصانو څخه په بلنه د دیني مدرسو د تعلیمي نصاب، د لا ښه کولو لپاره، مروج کتابونه، د متنونو د شرحې او توضیح او د فعالیتونو، ارزونو او تمرینونو په ورزیاتولو د درسي کتابونو له نویو معیارونو سره سم چمتو کړل.

هیله من یم، د پوهنې وزارت د عالمانو او متخصصانو د ستاینې وړ دا هڅې، په افغانستان کې د اسلامي زده کړو د لا پراختیا او بډاینې او د لوی خدای جل جلاله د رضا د ترلاسه کولو لامل شي.

وبالله توفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

## مقدمه

### قدرمنو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو!

د ديني مدارسو د اجتماعياتو درسي کتاب د افغاني ټولنې د اړتياوو، د معارف د محترم وزارت د پاليسي د نصاب د ليکنې فن او معاصرو معيارونو او درسي مفرداتو د افقي او عمودي تسلسل په پام کې نيولو سره ليکل شوي دي.

د ديني مدارسو د اجتماعياتو په مضمون کې پر تاريخي مطالبو سربېره د جغرافيې او مدني معلوماتو مفاهيم شتون لري. د تاريخ په برخه کې هڅه شوې چې د ديني مدرسو زده کوونکي د زده کړې په وخت د افغانستان او نړۍ له لرغوني تاريخ، منځنيو پيړيو، نوې پيړۍ او معاصرو پېښو سره پېژندګلوي او معلومات تر لاسه کړي او هم په دې پوه شي چې انسانانو په ټوله نړۍ په ځانګړې توګه په افغانستان کې کوم تاريخي پړاوونه تېر کړي دي او په راتلونکې کې ښايي څرنګه چلند وکړي.

د جغرافيې په برخه کې د علمي اړتياوو په پام کې نيولو سره علمي مطالب داسې توضيح شوي چې زده کوونکي د موقعيتونو، طول البلد، عرض البلد، غرونو، سيندونو، جهيلونو، بحرونو، کرنې، څارويو، معادنو، ځمکني، بحري او فضايي ترانسپورت، اوبو او هوا، نژاد، ژبو، مذهب، لويو وچو او هېوادونو په اړه معلومات تر لاسه کړي چې د ژوند په سمون کې له هغه څخه ګټه پورته کړي.

د مدني معلوماتو په برخه کې د بشري ټولنو، ارزښتونو، مقرراتو او قوانينو، اعتقاداتو، اقتصاد، سازمانونو، ټولنو، جوړښتونو او د مادي او معنوي اړتياوو په اړه لازمي او اړين مطالب توضيح شوي چې زده کوونکي په ورځينې ژوند کې ورڅخه ګټه پورته کولای شي.

د اجتماعياتو د مضمون د يوې بشپړې دورې (له اووم څخه تر دولسم ټولګي پورې) له زدکړې وروسته تمه کېږي چې د ديني مدرسو زده کوونکي د ټولنيزو علومو په مباديو او اساساتو پوه شي، د دې علم له مهمو اصطلاحاتو سره آشنايي تر لاسه کړي. د هيواد او نړۍ د ورځنيو پېښو په خبرونو وپوهيږي، سياسي اقتصادي او ټولنيزې پيښې تجزيه او تحليل کړای شي او پايله ورڅخه واخيستلای شي او په دې توګه په ټولنه کې فعال غړي شي او د ديني او اجتماعي علومو په يو ځای کولو سره د خدای(ج) د دين ريښتيني او اغيزمن مبلغين ورڅخه جوړ شي.

هيله کېږي چې د دغه مضمون محتويات د ديني مدرسو د استادانو لپاره په زړه پورې او زده کوونکو ته يې د ټولنيزو معلوماتو يوه ګټوره منبع وګرځي.

و الله ولي التوفيق

# لړلیک

**سرلیک** **مخونه**

## د تاریخ برخه


لومړی څپرکی........................................................ ۱
تر میلاد وړاندې پېر ................................................... ۳
د مسیحیت ظهور او د رومي امپراطورۍ زوال ............................ ۶
په ختیځو او لوېدیځو برخو د روم د امپراطورۍ ټوټه کېدل................ ۹
د بیزانس د ودې مشخصات............................................ ۱۱
په اروپا کې له شپږمې تر یوولسمې زېږدیزې پېړۍ لوی بدلونونه............ ۱۴
صلیبي جګړې ......................................................... ۱۹
د اموي اندلس او عثماني خلافتونو سره د اروپا اړودوړ.................... ۲۴
د اروپا د نوي مدنیت پر جوړېدو د اسلامي تمدن علمي اغېزې .............. ۲۸
رنسانس په اروپا کې................................................. ۳۰
جغرافیايي اکتشافات او د سمندري چلند وده .............................. ۳۴
دویم څپرکی ......................................................... ۳۷
د امریکا کشف او د هغو پایلې........................................ ۳۹
د فرانسې لوی انقلاب ............................................... ۴۱
صهیونیزم........................................................... ۴۴
آزادي غوښتونکي غورځنګونه ........................................... ۴۷
د اسلامي هېوادونو سازمان او سره میاشت ................................ ۵۱


## د جغرافیې برخه


**لومړی څپرکی........................................................ ۵۴**
دافغانستان موقعیت او څلور خواوې..................................... ۵۴
شمالي – ختیځ او سویلي سرحدي کرښې.................................. ۵۷
لوېدیځ سرحدونه ..................................................... ۶۳
اداري تشکیلات ...................................................... ٦٦
نفوس او هېوادکې د نفوسو مېشت کېدل ................................. ۷۱
داخلي او بهرني مهاجرتونه............................................. ۷۴
د نفوسو څرنګوالی.................................................... ۷۷
ژبې .................................................................. ۷۹
**دویم څپرکی ......................................................... ۸۱**

حمل و نقل او نړیوالې اړیکې ........................................................ ۸۱
نړیوال لیږد رالیږد (حمل و نقل) ........................................................ ۸۴
اړیکې او نړیوالی کېدل ........................................................ ۹۰
د اړیکو دغوره وسیلو ډولونه ........................................................ ۹۳
**دریم څپرکی ........................................................ ۹۸**
بشري جغرافیه ........................................................ ۹۸
د نفوسو میشتیدل او ګڼوالی ........................................................ ۱۰۴
مهاجرتونه او دهغو لاملونه ........................................................ ۱۰۹
نژادونه ........................................................ ۱۱۴
د نژادونو جغرافیای ویش ........................................................ ۱۱۷
د نړۍ مهم دینونه او آینونه ........................................................ ۱۲۳
داسلام سپیڅلی دین ........................................................ ۱۲۶
د نړۍ مهمې ژبې ........................................................ ۱۳۱

## د مدني زده کړو برخه

لومړی څپرکی ........................................................ ۱۳۴
پلورالیزم ........................................................ ۱۳۶
دیپلوماسي ........................................................ ۱۳۸
پارلمانتاریزم ........................................................ ۱۴۰
تکنالوژي ........................................................ ۱۴۲
نړیوال کېدل ........................................................ ۱۴۴
سیاست ........................................................ ۱۴۶
ستراتېژي ........................................................ ۱۴۸
مدرنیزم، پسامدرنیزم ........................................................ ۱۵۰
دوم څپرکی ........................................................ ۱۵۲
د ملګرو ملتونو سازمان ........................................................ ۱۵۳
د ملګروملتونو د سازمان اصلي او فرعي ارکان ........................................................ ۱۵۵
په افغانستان کې د ملګروملتونو د سازمان کارونه ........................................................ ۱۵۷
اساسي حقونه ........................................................ ۱۵۹
د بشر د حقونو تاریخچه ........................................................ ۱۶۱
د بشر حقونو نړیواله اعلامیه ........................................................ ۱۶۳
اسلامي بشري حقوق ........................................................ ۱۶۵
په افغانستان کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ........................................................ ۱۶۷

# د تاریخ برخه

## لومړی څپرکی

### د اروپا لومړنۍ او منځنۍ پېړۍ

په دغه څپرکي کې به له میلاد څخه وړاندې دوره (د مسیحیت له ظهور څخه مخکې)، د یونان او روم د تمدن پیر، له شپږمې زېږدیزې پېړۍ تر دیارلسمې زېږدیزې پېړۍ پورې د اروپا ستر بدلونونه، صلیبي جګړې، له اندلسي او عثمـاني امویانو سـره د اروپا اړو دوړ، پر اروپا د اسلامي تمدن اغېزې، په اروپا کې د رنسانس دوره، په اروپا کې جغرافیایي کشفیات او پر سیاسي او اقتصادي اوضاع د هغو د اغېزو په اړه معلومات تر لاسه کړئ.



# موخې

هیله ده زده کوونکي ددغه څپرکي په پای کې لاندې موخو ته ورسېږي:

- تر مسیحیت وړاندې پېر، د مسیحیت ظهور، د رومي امپراطورۍ ټوټه کېدل، د ختیځ روم د امپراطورۍ پراختیا، له شپږمې تر دیارلسمې زېږدیزي پېړۍ د اروپا لوی بدلونونه، صلیبي جګړې، اروپا د اندلسي او عثماني امویانو د اړودوړ پر وړاندې، د اروپا پر مدنیت د اسلامي تمدن اغېزې، د اروپا د رنسانس دوره او په اروپا کې به د جغرافیایي اکتشافاتو په اړه په لنډه توګه پوه شي؛
- پورتني موضوعات او مطلبونه تحلیل او وارزولای شي؛
- د اسلامي احکامو په پلي کېدلوکې ونډه واخلي او ګټه ترې پورته کړي.

# ترمیلاد وړاندې پېر

په دې لوست کې به تر مسیحیت وړاندې د عقیدتي، سیاسي، ټولنیز وضعیت له څرنګوالي یعنې د لرغوني یونان او روم د تمدنونو د پېر په اړه په لنډه توګه آشنا شي.

یونانیانو پر ارباب الانواع (په خپــل لاس جوړ کړیو خدایانو) باور درلود چــې کائنات له څلورو عــناصــرو (ارو، اوبو، خاورو او باد) څخه جوړ شوي دي.
ځینې په دې باور وو چې نوښتونه حقیقت لري او نړۍ د نوښت په حال کې ده. ځینو لکه: فیثاغورث، واقیعت د ریاضي په عددونو کې ګڼل. هغوی وو چې ساینسي علومو بنسټ یې کېښود او د منطق علم یې رامنځ ته کړ. لوی یوناني حکیم چې د یونانیانو افکار او نظر یې د دغو ټولو موضوعاتو په اړه راټول او ولیکل، ارسطو و چې له (۳۸٤ ق. م) څخه تر (۳۲۲ ق.م) پورې یې په آتن ښار کې ژوند کاوه.
په (۱٤٦ ق.م) کې یونان د رومیانو په ولکه کې راغی سربېره پردې چې رومیانو خپله ژبه وساتله، د یونانیانو فرهنګ او هنر یې هم زده کړ. د دوو درېو پېړیو په اوږدو کې رومیانو په روم کې امپراطوري جوړه کړه چې د ایران لوېدیځې سیمې، مصر، یونان، کوچنۍ آسیا (ترکیه) او سوریه په کې را نغښتې وو، چې په دغو ټولو سیمو کې یې هم رومیانو ژور نفوذ ونه کړ، خو له سیاسي پلوه په لوېدیځ کې( تونس، الجزایر، مراکش، اسپانیا، پرتګال، فرانسه، سویس او بلجیم) کې رومیان د نوي تمدن وړونکي او د اروپا، آسیا، افریقا په سیمو کې چې د رومي امپراطورۍ څخه وروسته پاتې سیمې وې د رومیانو د ختیځ د نــوي تمدن فرهنــګ له ځان سره یووړ.
په هر حال د روم امپراطوري د بدلونونو او لوړو ژورو سره سره له ۳۱ ق.م څخه د میلادي پنځمې پېړۍ تر وروستیو پورې دوام وکړ. په دغه موده کې ټول لوېدیځ هېوادونه له سیاسي پلوه په خپلو کې متحد شول، خو په ډېرو کورنیو سیاسي چاروکې مستقل او خپلواک وو، خو ددوی ټولو په سرکې د امپراطورۍ حاکمان اوامیران وو چې د مرتبې له پلوه په تدریج سره لوړېدل، ترڅو د روم امپراتور ته رسېدل.
د روم امپراطورۍ تر یو اندازې د خپلو وګړیو په منځ کې عدالت کاوه. رومي قانون جوړوونکي پر دغه باور وو چې د قانون قوت په دې کې دی چې د یوې معتبرې او صالحې مرجع له خوا پلې شي. دغه مختاري مرجع یا قــوې د قــوانینو جــوړول مــاج ستاس(Majstas) یا مـطلق اخــتار نومــول او هغه یــې د روم امپراطور ته منسوبول . په دې توګه رومیانو له یوې خوا قانون له عرف او عاداتو او له بلې خوا له نفساني تمایلاتو جــلا کړ. په حقیقت کې روم قانون د عاموګټو پلوی و چې په وروستی پېړۍ کې یې پر اروپا ډېرې اغېزې وکــړې.

رومیانو د غلامانو په وسیله ځانته ډېرې ښکلې ماڼۍ (قصرونه) جوړول او ډېر وخت به یې په عیش او عشرت کې تېراوه. پر خلکو یې هر ډول ظلمونه کول، لکه چې خلک له دغو ظلمونو په تنګ شول او د یو زړور سړي په مرسته یې چې اسپارتاګوس نومېده پاڅون وکړ او د روم ښار تر نژدې سیمو پورې وړاندې راغلل، خو رومیانو هغوی ټول ووژل . په داسې شرایطو کې عیسیٰ(ع) په فلسطین کې چې د رومیانو تر ولکې لاندې و، د انسانانو د لارښوونې لپاره ظهور وکړ.

## لا ډېر پوشئ:

## د اسپارتاګوس په مشرۍ د غلامانو پاڅون

په اوومه ق.م پېړۍ کې د رومي مریانو ډېرې ستونزې ددې سبب شوې چې دخپلو بادارانو پر وړاندې پاڅون وکړي. په ۷٤ ق.م کال کې مریانو په پټه توګه یې د عمومي پاڅون لپاره تیاری ونیو. باداران یې له دغې خبرې خبر شول، مریان په غرونوکې پټ شول او هلته یې اسپارتاګوس خپل مشر وټاکه او پر خپلو بادارانو یې یرغل وکړ.

مریانو په خپلو پرله پسې یرغلونو سره باداران یې له ماتې سره مخ کړل. ډېرې وسلې یې تر لاسه کړې او خپلو یرغلونو ته یې دوام ورکړ او د نورو مریانو په یو ځای کېدلو دهغو شمېر ډېر پدلو.

په زرګونو رومي عسکرو، په غرونو کې مېشت مریان کلا بندکړل او د غره درې لورې دهغوی په واک کې وو او یو لوري ته چې یوه لویه او ژوره کنده یې مخې ته وه او ګومان نه کېده چې له هغو څوک تېر شي، مریانو له رسۍ څخه اوږده زینه جوړه کړه او پرې کښته شول او په پټه او ناڅاپي توګه یې د رومیانو پر لښکر یرغل وکړ او ډېر زیانونه یې ورته ورواړول.

سپارتاګوس پاڅون کوونکي په پیبلو او سپورو ډلو تنظیم کړل او له هغوی څخه یې د مریانو ساتونکو پر ضد غښتلی ځواک جوړ کړ. سپارتاګوس د غښتلي عسکري لښکر په وسیله رومیانو ته پر له پسې ماته ورکړه، تر هغو چې د ایټالیا سویل ته ورسېدل.

په دغه مهال د بریالیو غلامانو په منځ کې دوې نظریې پیدا شوې . سپارتاګوس او د ډېرو غلامانو ویل چې باید خپلو اصلي هېوادونو ته لاړ شو او په آزاده توګه ژوند وکړو. نورو بیا ویل چې باید روم ته لاړشو او د رومي بادارانو دولت نسکور او ټول مریان له اسارت څخه آزاد کړو. په دې ترتیب پاڅون کوونکي پر دوو ډلو ووېشل او کمزوري شول او په مقابل کې د رومیانو لښکر چې تر پاڅون کوونکو ډېر او منظم وو، له وخت څخه په ګټې اخیستلو، پر مریانو یې یرغل وکړ او پاڅون کوونکو ته یې ماتې ورکړه. اسپارتاګوس یې وواژه او تر (٦٠٠٠) ډېر مریان په دار وځړول شول.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او د لاندې مطالبو په اړه دې خبرې وکړي:

- د یونان او روم تمدن کومو تاریخي دورو ته نژدې و؟
- د پخوانۍ زمانې یونانیانو عقیدې څه ډول وې؟ په دې اړه لنډ معلومات ورکړئ.
- ساینسي علوم له ټولنیزو علومو سره څه توپیر لري؟ هغه لست کړئ.

## پوښتنې

۱. د ساینسي علومو بنسټ چا کېښود؟

۲. یونان د کومو لښکرو له خوا ونیول شو او له نیول کېدو وروسته یې برخلیک څه شو؟ په لنډۀ توګه معلومات ورکړئ.

۳. د روم امپراطوري څه وخت جوړه شوه؟

٤. د ختیځ او لوېدیځ لورته کومې سیمې د رومي امپراطورۍ په واک کې شوې؟

۵. مریانو د اسپارتاګوس په مشرۍ څه وکړل؟ په لنډه توګه معلومات ورکړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

په ټولنه کې د قانون د ارزښت او اهمیت په اړه یوه مقاله ولیکئ.

# د مسیحیت ظهور او د رومي امپراطورۍ زوال

په دې لوست کې به په لنډه توګه د یونان او روم د تمدن د رامنځ ته کېدو او قوي کېدوځرنګوالی او د مسیحیت له ظهور سره بلد شئ.

## د مسیحیت ظهور

د عقیدتي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو لاملونو له مخې چې تر میلاد وړاندې یې شتون درلود وو او په مخکني لوست کې یې یادونه وشوه، حضرت عیسیٰ (ع) په فلسطین کې چې د رومیانو د حکومت تر ولکې لاندې و، د انسانانو د لارښوونې لپاره د پیغمبر په توګه څرګند شو.

حضرت عیسیٰ(ع) په ښه بیان او ښو اخلاقو سره خلک د یوه خدای(جَلَّ جَلالُه) عبادت او له ظلم او ناروا څخه پرهېز کولو ته راوبلل .

هغه د مظلومانو او محرومو خلکو پلوی و او خدای پاک هغه ته داسې قدرت ورکړی و چې ناروغان یې روغ کولای شوای. د عیسیٰ (ع) زده کړو، رومیان چې د ډېرو خدایانو په عبادت او پر خلکو او غلامانو تېري کولو عادت وو، په غوسه کړل. له دې سره هم عیسیٰ (ع) له خپلو یارانو سره چې حواریون بلل کېدل، ښارونو او کلیو ته تلل او خلک یې د یوه خدای (جَلَّ جَلالُه) عبادت او شوکړونو ته رابلل او هغه آسماني کتاب چې ده ته نازل شو، انجیل نومېده. د وخت په تېرېدو د هغه حضرت(ع) لارویان چې مسیحیان وو، ډېرېدل. په پای کې امپراطوران او د روم مشران چې په لومړي سرکې یې مسیحیان ځورول، ددغه حالت په لیدلو سره مسیحیان شول. له هغو وروسته د مسیحیت د پراخېدلو لپاره شرایط لابنه شول. څرنګه چې په څلورمه میلادي پیړۍ کې د روم امپراطور (کنستانتین) او په پنځمه میلادي پېړۍ کې د روم ټولې امپراطوري مسیحیت ومانه .عیسوي پوهانو د عیسویت عقاید د یونان او روم له عرف او فرهنګ سره یوځای خپرول.

له فکري پلوه مسیحیت یو انقلاب رامنځ ته کړ، ځکه متعدد خدایان او ارباب الانواع یې له منځه یووړل. او په خپل لاس جوړکړیو خدایانو په لارکې د وینو تویول او د افراد قرباني کول یې منسوخ کړل. کوډې کول او د طالع لیدل یې له منځه یووړل . مسیحیانو خلکو ته د وحدانیت زده کړې کولې او ټول انسانان یې د یوه پلار زامن بلل.همدا وجه وه چې د نړۍ یووالی ځانګـړی مفهوم او معنا پیدا کـړه. همدا د مسیحیت اسانتیاوې دعیسی(ع) د دین د لا پراختیا سبب شوې.

## د رومي امپراطورۍ زوال

د روم امپراطوري نړیوال دولت و. امپراطور مطلق واک درلود او د خلکو په آند د خدایانو په ډله کې ګڼل کېده، څرنګه چې هغه یې سزارخدای باله (Divas' caesar) په دې ترتیب په خلکو کې یو ډول قیصر لمانځنه رامنځ ته شوې وه. د امپراطور پلویانو له عقیدتي پلوه د امپراطور د سیمو په ساتنه کې ځانونه مکلف ګڼل.

مسیحیان د دغو نظریاتو سخت مخالف وو او څرنګه چې د قیصر عبادت کول یې نه منل د رومي امپراطورۍ مامورینو به هغوی جنجال خوښونکي ګڼل چې د ټولنې د نظم له منځه وړونکي دي، نو ځکه باید تعقیب او له منځه لاړ شي، دغسې ناسم باور او د امپراطورۍ د سیمو ډېره پراختیا ددې سبب شوه چې امپراطوري ړنګه شي.

**لا ډېر پوشئ:**

### په یونان کې علم او فلسفه

علم او فلسفې په یونان کې ډېر پرمختګ وکړ، ځکه :

۱. یونانیانو له علمي خبرو اترو سره ډېره مینه لرله.

۲. یوناني تجارتي بېړۍ په مصر او کوچنۍ آسیا ته تلې، راتلې . له دغې لارې د آسیا او افریقا د خلکو ډېرې علمي لاسته راوړنې به یونان ته تللې او لاسته راوړنې یې ډېرېدلې.

۳. وابې کله چې سکندر آسیایي هېوادونه نیول، کتابتونونه یې یونان ته وړل او یونانیانو له هغو څخه ګټه اخیستله.

د خېرونکو په ډله کې د یونان فیلسوفان په ځانګړې توګه سقراط، افلاطون او ارسطو ډېر مشهور دي.
سقراط لوی حکیم و، کله به چې هغه په کوڅو او بازارکې ګرځېده او له خلکو سره به یې بحث کاوه.
هغه ډېر زده کوونکي او مینه وال لرل چې تر ټولو مشهور یې افلاطون دی.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، د لاندې مطالبو په اړه دې بحث وکړي او یوتن دې د بحث پایله نورو ته بیان کړي.

- د مسیحیت د ظهور عقیدتي شرایط.
- د مسیحیت د ظهور ټولنیز او سیاسي شرایط.

## پوښتنې

١. حضرت عیسیٰ(ع) چیرته او په څرنګه شرایطو کې څرګند شو؟ توضیح یې کړئ.
٢. حضرت عیسیٰ(ع) خلکو ته څه تبلیغ کاوه؟ په لنډه توګه یې بیان کړئ.
٣. پر عیسیٰ(ع) کوم آسماني کتاب نازل شو؟
٤. کوم خلک حواریون نومېدل؟
٥. د روم لومړنی امپراطور چې مسیحي شو، څوک و؟
٦. د روم د امپراطورۍ د زوال علتونه څه وو؟ لنډ معلومات ورکړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

لاندې جدول په مقایسوي توګه په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ.

| مسیحیت | تر مسیحیت وړاندې |
|---|---|
| - د یوه خدای (جَلَّ جَلالُه) عبادت (توحید) | - د معبودانو او ارباب الانواعو عبادت |
| - له ظلم څخه ځان ساتل | - |
| - د محرومو او مظلومانو ملاتړ | - |
| - د ښو کارونو سرته رسول | - |
| - د کوډو او طالع لیدلو منعه کول | - |
| - په خپل لاس جوړکړیو بتانو ته د قرباني منعه کول | |

# په ختیځ او لوېدیځ برخو د روم د امپراطورۍ ټوټه کېدل

په دې لوست کې به پوه شی چې د روم امپرطورۍ په ۳۹۵ زکال کې څرنګه په دوو برخو (ختیځ روم او لوېدیځ روم) ټوټه شوه. د ختیځ روم پلازمېنه کنستانتین (قسطنطنیه) او د لوېدیځ روم پلازمېنه هم د روم ښار وټاکل شو.

د ختیځ روم امپراطورۍ د بالکان ټاپو وزمه (ایتالیا، رومانیا، بلغاریا، یونان او د اروپايي ترکیې ځینې برخې، مصر او د رومي امپراطورۍ آسیایي مستعمرې وې، خو لوېدیځ امپراطورۍ ایټالیا او د لوېدیځې اروپا ځینې سیمې رانغاړلې وې.

د لوېدیځ روم د امپراطورۍ حالت تر ختیځ روم ډېره خرابه وه. په پایله کې له بهر څخه د بربرو یرغل او له دننه څخه د غلامانو (مریانو) پاڅونونه د رومي امپراتورۍ د ټوټه کېدو لاملونه شول.

## د پخواني روم ټوټه کېدل او د لوېدیځ روم د امپراطورۍ زوال

تر هرڅه وړاندې د روم امپراطورۍ په تېره بیا په لوېدیځ کې ړنګه شوې وه. د روم امپراطور کستانتین چې د مسیحیت په منلو یې هیله لرله، د خپلې امپراطورۍ بنسټ کلک کړي، یوبل کار یې هم وکړ. هغه په ۳۳۰ زیږدیز کال د لرغوني یونان په ښار بیزنتیوم کې چې د لرغوني یونان مرکزو، نوې پلازمېنه جوړه کړه او هغه یې قسطنطنیه (نننی استانبول یا بیزانس) ونوماوه . له هغه وروسته د روم امپراطورۍ دوې پلازمېنې درلودې چې یوه یې روم او بله قسطنطنیه وه. د اداري او حکومت له مخې هم په ختیځ اولوېدیځ روم وویشل شوه.

د رومي امپراطورۍ په شاوخوا کې بربریان اوسېدل. رومي امپراطورانو او سردارانو له دغه قوم څخه په پوځ کې داوطلب (په خپله خوښه) کسان نیول او کله به چې د هغوی د خدمت موده پای ته رسېدله یوه ټوټه کرنیزه ځمکه به ورکول کېده، ترڅو هستوګن شي، واده وکړي، کورنۍ جوړه او له خلکو سره مینه پیدا کړي. په څلورمه او پنځمه زیږدیزه پېړۍ کې ددغو بربریانو ځینو کسانو داسې پرمختګ وکړ چې ان په لوړو دولتي مضبونو ته ورسېدل. دغه مهال د نا معلومو لاملونو په وجه د لوېدیځ روم د امپراطورۍ ښارونه له پرمختګه ولوېدل، سوداګري کمزورې شوه، ځایي اداري له کاره ولوېدې، ، مالیات تر ډېره ملاماتوونکي شول، هغه بزګران چې آزاد وو، ځانونه یې د ځمکو اسیران ګڼل . پوځ به امپراطور ټاکلو او له امپراطورۍ څخه به یې لېرې کاوه. د پوځ سرداران به د قدرت پرسر سیالي او

جګړه کوله . د لوېدیځې امپراطورۍ له دغه ګډوډ حالت څخه به ګټې اخیستلو سره د الاریک په مشرۍ د ګوټانو په یرغلونو پسې، جرمنیانو او هونانو هم پرلوېدیځې امپراطورۍ یرغلونه پیل کړل او له دولت څخه د خلکو د ناخوښۍ له امله، له مقاومت پرته پرمخ تلل. ګول (فرانسه)، ایټالیا او اسپانیا او د اسپانیا له لارې، شمالي افریقا ته ننوتل او په پای کې په ٤٧٦ زېږدیز کال یې د لوېدیځ روم امپراطوري نسکوره کړه . د لوېدیځ روم د امپراطورۍ ړنګېدل د پخوانۍ نړۍ د تاریخ پای ګڼل کیږي. ختیځ روم د کرنیزو ځمکو او سوداګریزو لارو لرلو په وجه تر ډېر وخته دوام وکړ، ترڅو په ١٤٥٣ زېږدیز کال د سلطان محمد فاتح په مشرۍ د عثماني ترکانو په وسیله ړنګه شوه.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او دلوست له متن څخه په ګټې اخـیستلو دې د لوېـدیځ روم د امپراطورۍ د ړنګېدو علتونه ولیکي او یو تن دې هغه نورو زده کوونکو ته بیان کړي.

## پوښتنې

۱. د روم امپراطورۍ په کوم کال په څو ټوټو ووېشل شوه؟ د دې ترڅنګ د هغو پلازمېنې هم په نقشه کې وښیئ.

۲. د رومي امپراطورۍ په شاوخوا کې کومې پرګنې او قومونه اوسېدل او څرنـګه د روم پوځ ته ورتلل، په لنډه توګه یې بیان کړئ.

۳. د لوېدیځ روم امپراتوري په کوم کال او څرنګه ړنګه شوه او د یرغل کوونکو پروړاندې د خلکو د مقاومت نه کولو علت څه و؟ په لنډه توګه یې بیان کړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

ولې خلکو د لوېدیځ روم د امپراطورۍ ملاتړ ونه کړ؟ په دې اړه یوه مقاله ولیکئ.

# د بيزانس د ودې مشخصات

په تېر لوست کې مو په لنډه توګه ولوستل چې د روم امپراطوري په ۳۹۵ ميلادي کې څرنګه په دوو ختيځو او لوېديځو برخو ووېشل شوه. په دغه لوست کې به په لنډه توګه ولولئ چې د ختيځ روم امپراطوري يا بيزانس څرنګه مقاومت وکړ او په خپل حال پاتې شوه او څرنګه ددغې امپراطورۍ مرکز، په قسطنطنيه کې چې د يونان يو زوړ او کوچنی ښار و د بيزانس په نوم شتون درلود. د بيزانس د امپراطورۍ په نامه، د دې ښار د لرغوني نوم باندې ونومول شو.

## د رومي امپراطورۍ له ټوټه کېدو وروسته د بيزانس پرمختګ

مصر، سوريه، کوچنۍ آسيا (ترکيه) او يونان د ختيځ روم د امپراطورۍ تر واک لاندې شتمن او متمدن هېوادونه وو. په دغه امپراطورۍ کې د غلامانو شمېر لږ او د آزادو بزګرانو شمېر د لوېديځ روم د امپراطورۍ په پرتله ډېر و. بزګرانو په ښارونو کې غنم، کوچ، غوښه او نور خوراکي توکي پلورل، په داسې حال کې چې په لوېديځه اروپا کې يوازې کنډوالو د پر مختللو پخوانيو ښارونو استازيتوب کاوه.

په بيزانس کې ښارونه لوی او خلک يې په ډېرېدلو وو.، د دې ښار په کوڅو او بازارونو کې ډېر دوکانونه او د کار اوکسب فابريکې په کار بوختې وې.

د بيزانس ښارونه تل په جوش او خروش کې وو. د بيزانس د کارګرو جوړې کړې جواهر، ښيښه يي لوښي او ورين ټوکران له امپراطورۍ څخه بهر ډېر مشهور وو. له قسطنطنيې څخه دوه مهمې سوداګريزې لارې تېرې شوې وې چې يوه يې د وچې له لارې له اروپا څخه آسيا ته او بله بحري لاره وه چې د تورې بحيرې څخه وه. په بندري ښارونو کې تل په لسګونو بېړيو تګ را تګ کاوه . د بيزانس د سوداګرو پانګې له ايران، هند او چين سره د سوداګرۍ له لارې ډېرېيدلې.

د بيزانس امپراطورۍ د سوداګرۍ او کسب له لارې ښه عايدات ترلاسه کول او همدارنګه يې له کسبګرو او بزګرانو څخه ماليات او له سوداګرو څخه يې ګمرکي عايدات تر لاسه کول. د امپراتور خزانه تل له سروزرو او سپينو زرو څخه ډکه وه، ځکه خو هغه کولای شو، ګڼ شمېر اجير عسکرو وګوماري او قوي بحري پوځ ولري.

د بيزانس د دولت اوږده موده وکولای شو چې له خپلو سرحدونو څخه دفاع وکړي او ان نوې سيمې هم ونيسي. امپراطورانو هڅه کوله چې د پوځ، مامورينو او کليسا په مرسته د برده دارۍ نظام قوي او وساتي.

## د ژوستینین د حکومت په پېرکی د بیزانس حالت

د بیزانس امپراطوري د ژوستینین د امپراطورۍ پر مهال (۵۲۵- ۵٦۵ میلادی) پورې ډېر واک ته رسیدلی و. ژوستینین غوښتل چې د لرغوني روم شان او شوکت ژوندي او د برده گی نظام ته قوت وبښي. هغه داسې قوانین جوړ کړل چې د لوړې طبقې د حکومت قوت یې موخه وه . د ژوستینین د قوانینو تولگه د امپراطور ټول قدرت د ټولنې په نورو پرگنو او قشرونو باندې تحمیلوه. دولتي واک په مطلقه توگه د امپراطور په لاس کې و او خلک د ټولنیز ژوند په چارو کې په بشپړه توگه بې برخې وو. ژوستینین د پخواني روم د واک او د پخواني شان او شوکت د بیا ترلاسه کولو په موخه له گاونډیانو سره ډېرې جگړې وکړې، خو په ټول کوښښ او زیار سره ونه توانېد، خپله موخه ترلاسه کړي. له یوې خوا د خونړیوجگړو لپاره د ډېرو اجیر عسکرو دگومارلو لگښتونو او همدا راز د مالیاتو زیاتېدلو د خلکو ژوند په تنگسه کې راوستلو. له بلې خوا د امپراطور اجیرو عسکرو چې په هغو کې قبایلي وگړي هم  شامل وو.د نیول شویو سیمو او هېوادونو خلک یې په ظالمانه توگه لوټول.د دغه چور او تالا له امله د خلکو مقاومت ورځ په ورځ ډېر او اقتصادی وضعه یې تنگېدله. دوامدارو جگړو ډېر لگښتونه غوښتل چې د زیاتو مالیاتو له لارې لاسته راتلل. همدا رنگه د دولتي مامورینو ډېر ظلم او ناروا د خلکو د ناخوښۍ سبب کېدل. د دغو لاملونو له امله د امپراطورۍ په مختلفو سیموکې ولسي پاڅونونه رامنځ ته کېدل، د بېلگې په توگه: د قسطنطنیې خلکو په ۵۳۲ زېږیز کال پاڅون وکړ. ددغه پاڅون لمن پراخه شوه د دې پاڅون په پایله کې ژوستینین غوښتل چې وتښتي، خو دولت د ډېرو هڅو او د اجیرو عسکرو څخه په گټه اخیستلو سره پاڅون کوونکي وټکول . په دغه پاڅون کې تر ۳۰ زرو ډېر پاڅون کوونکي ووژل شول. د چورتالان جگړو او ولسی پاڅونونو د بیزانس امپراطورۍ کمزورې کېدلو ته لاره اواره کړه .

## د سلاویانو یرغل

سلاویانو چې د ډانیوب د سیند هغې لوري ته ژوند کاوه، په شلورمه میلادي پېړۍ کې د بیزانس پر امپراطورۍ یرغل وکړ. سلاویان تکړه عسکر وو. هغوی له بیزانس سره په جگړو کې ډېرې تجربې لاسته راوړې وې. هغوی  په منظمو لیکوکې جگړه کوله او په ناڅاپي توگه یې پر پوځي کلاگانو یرغلونه کول او د بیزانس اجیرو لښکرو ته یې ماتې ورکوله. غلامان او کلونان (هغه بزگران چې د لویو ځمکه والو یو څه لږې ځمکې به یې په اجاره نیولې)، آزادو بزگرانو به له سلاویانو سره مرسته کوله او هغوی یې د دولت او بادارانو له ظلم څخه د خلاصون وسیله گڼل. د بالکان ټوله ټاپووزمه (د البانیا، بلغاریا، یونان او د اروپایي برخې ترکیه) په گډون هېوادونه دغو... ولسي پاڅونونو وینوله .دغه حالت د سلاویانو له پرمختگ سره مرسته

وکړه. هغوی لومړی د بالکان د ټاپووزمې شمالي برخې ونیولې او بیا یې د یونان پر لوري پرمختګ وکړ.
د بالکان د ټاپووزمې شمالي او لوېدیځې برخې سربي او کرواتي قبیلو ونیولې. د اوومې میلادي پېړۍ په پای کې د ډانیوب د سیند په سویلي برخو کې د سلاوي (بلغارستان) لومړی دولت جوړ شو. وروسته بلغاریانو د بالکان د ټاپووزمې ډېره برخه تر واک لاندې راوسته. په اوومه زیږدیزه پېړۍ کې، عربان د بیزانس سویلي برخو ته ورسېدل او سوریه او مصر یې ونیول. د هغوی لښکرو څو ځلې قسطنطنیه کلا بنده کړه، خو ویې نه نیوله. د بیزانس دولت دغه مهال وتوانېد یوازې کوچنۍ آسیا (ترکیه) او د بالکان ټاپووزمې ځینې سویلي برخې په واک کې وساتي.
د سلاویانو یرغلګرې قبیلې د بیزانس په سیمو کې د امپراطور او بادارانو مالونه چور او له منځه وړل. ډېر غلامان او کلونان په آزادو بزګرانو بدل شول او د خپلو اربابانو له وېشل شوو ځمکو څخه د رعیتي اربابي نظام اخیسته. لوی باداران چې غلامان او بزګران یې لرل، یوازې په کوچنۍ آسیا کې پاتې شول. ارباب رعیتي نظام (برده ګی) چې په بیزانس کې کمزوری شوی و، د سلاویانو د یرغل او ولسي پاڅونونو پر وړاندې له منځه لاړه.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي، د لاندې مطالبو په اړه دې بحث وکړي او پایله دې د یوې ډلې مشر نورو ته بیان کړي.

۱. د لوېدیځې رومي امپراطورۍ په پرتله د ختیځې رومي امپراطورۍ د ودې عوامل .
۲. د بیزانس امپراطورۍ د ړنګېدلو لاملونه.

## پوښتنې

۱. د بیزانس په امپراطورۍ کې کوم هېوادونه شامل وو؟ نومونه یې واخلئ.
۲. د بیزانس په امپراطورۍ کې سوداګري څنګه وه ؟ لنډه یې تشریح کړئ.
۳. د بیزانس په امپراطورۍ کې کار او کسب څنګه و؟ بیان یې کړئ.
٤. کلونان تعریف کړئ.
۵. د بالکان په ټاپو وزمه کې کوم هېوادونه شامل وو؟ نومونه یې واخلئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

د بیزانس د امپراطورۍ د ړنګېدلو مهم لاملونه له کتاب او کتابتون څخه په ګټه اخېستلو سره ولیکئ او خپل ښوونکي ته یې وښیئ.

# په اروپا کې له شپږمې تر یوولسمې زېږایزې پېړۍ لوی بدلونونه

آیا د منځنیو پېړیو له اصطلاح سره مخ شوي یاست، یا مو اورېدلي چې وايي دغه یا خو د بیان دغه اصطلاح هغه مهال کارول کېږي چې یو کار په زړه طریقه تر سره شي او یا د ننني پوهې له فکر سره برابر نه وي.

## اروپا په منځینو پېړیو کې

یو وخت و چې په اروپا کې ښاري ژوند دود نه و، د علم او پوهې زده کړې ته د خلکو دغومره پام نه و. دغه شرایط د اروپا په هغه پېر پورې تړاو لري چې منځنۍ پېړۍ نومېږي. تاریخ لیکونکي د لوېدیځ روم د امپراطورۍ ړنګېدو (۴۷۶ ز) څخه تر (۱۴۵۳ م) د ختیځ روم تر زواله پورې منځنۍ پېړۍ نوموليې ده . د مذهب کلیسا او فیوډالیزم واکمني د اروپا ددغه پېر له ځانګړتیاوو څخه ګڼل کېږي.

د منځنیو پېړیو پېر چې له لرغوني نړۍ وروسته رامنځ ته شو، نږدې زر کاله په اروپا کې اوږد شو او له منځنیو پېړیو وروسته د تاریخ بل پېرته نوې پېړۍ وايي. په دغه لوست کې د منځنیو پېړیو په لومړۍ نیمايي کې چې له شپږمې تر یوولسمې زېږیزې پېړۍ پورې رانغاړي، د اروپا د تاریخ لوی بدلونونه تر بحث لاندې نیسي.

## سیاسي اوضاع (حالت)

هغه لوی بدلون چې د لوېدیځ روم د امپراطورۍ ړنګېدل یې رامنځته کړ، هماغه د پخوانی یا لرغوني تمدن، ړنګېدل وو. د رومي امپراطورۍ په زوال او منځنیو پېړیو په پیل کې، په اروپا کې ډېره ګډوډي راغله. د اروپا په سویل ختیځ (د بالکان په ټاپووزمه) کې د ختیځ روم (بیزانس) قوي حکومت واکمني کوله او د پخواني روم د واکمنۍ د پراخولو په فکر کې و، خو له ساسانیانو او وروسته بیا له مسلمانانو سره جګړو هغه حکومت کمزوری کړ، که څه هم د بیزانس امپراطورۍ د حکومت موده د منځنیو پېړیو تر پایه اوږده شوه، خو د کورني زوال له امله یې ونه کړای شو پخوانی قدرت او واکمني لاسته راوړي.

د بیزانس د امپراطورۍ پرسیمو سربېره، د اروپا په نورو سیمو کې یرغلګر قومونه چې د لرغوني روم امپراطوري یې ړنګه کړه په یرغلونو او تېریو بوخت وو. دغه اړودوړ د هغوی تر ځای پرځای کېدلو (هستوګن کېدلو) او مسیحي کېدلو پورې اوږد شو. هغه مهال پاپ د روم له ښار (د لرغوني روم له پلازمېنې) څخه د بربر قبیلو په منځ کې د مسیحیت تبلیغ کاوه. له هغو قبیلو څخه چې مسیحي شوي، فرانکان وو.

فرانکانو د کلوویس (koloviss) په مشرۍ لوی حکومت چې فرانسه، آلمان او بلژیک یې تر واک لاندې وو، جوړ کړ. د کلوویس حکومت د مروه نژین (Marvanigeen) د کورنۍ د حکومت په نوم یادېده او دغه نوم د کلوویس د غور نیکه له نامه څه اخیستل شوی دی.

د فرانکانو له مشهورو او با تدبیرو پاچاهانو څخه یو شارلمان نومېده. هغه په نهمه زېږدیزه پېړۍ کې وتوانېد چې لویه امپراطوري او پرتمین دربار رامنځ ته کړي او د پاپ په مرسته یې وکړای شو چې په اروپا کې مسیحیت خپورکړي او هم له مسلمانانو سره چې د هسپانیې له لوري اروپا ته ننوتلي وو، وجنګېدل. شارلمان د منځنیو پېړیو په لومړۍ نیمایي کې د اروپا لوی پاچا و او تل د اروپا د مختلفو برخو د یووالي په فکر کې و او د ملوک الطوایفی د پرمختګ پر وړاندې خنډ و.

له شارلمان وروسته د هغه د لویې امپراطورۍ پراخې سیمې ټوټه شوې اوسنی آلمان یا په اصطلاح کې د روم سپېڅلې امپراطوري رامنځ ته شوه چې تر نورو پېړیو پورې یې دوام وکړ او هغوی ځانونه د لرغوني روم وارثان ګڼل.

له شارلمان وروسته چې کوم دولتونه رامنځ ته شول، کمزوري او ناتوانه وو چې د هغو په پایله کې یو ځل بیا مختلفو قومونو له شمال او ختیځ لوري پر اروپا پیل شول. د اروپا په ختیځ کې روسان او مجاریان ځای پر ځای شول .

د انګلوساکسون قومونو د بریتانیا پر ټاپووزمه د خپلو پرله پسې یرغلونو په پای کې د انګلستان د حکومت او دولت بنسټ کېښود. په دې ترتیب فنیانو د فنلند او دانیانو د ډنمارک د هېوادونو بنسټ کېښود. دغه بدلونونه او پېښې نژدې زرکاله اوږدې شوې. وروسته له هغو هم د څو پېړیو په بدلونونو او نوښتونو اروپا رامنځ ته شوه . هغه مهال پر هېوادونو یرغل او د هغو نیول او وروسته له هغو د فیوډالي حکومتونو جوړول او د مسیحیت منل ددغو ملتونو د جوړښتونو اصلي بنسټونه ګڼل کېدل . په دې توګه، آداب، دودونه، ژبه، لیک او تاریخ هم پر هغو ورزیات شول.

په دې اساس کولای شو د ډېرو اروپایي هېوادونو د رامنځ ته کېدلو اصلي ریښې په منځنیو پېړیو کې وګورو.

## ټولنیز او اقتصادي حالت

په (۴۷۶ زیږدیز )کې د یرغلګرو قومونو په لاس د روم د ښار تر نیولو وروسته د منځنیو پیړیو دوره پیل شوه. د جرمن، مجار، فرانک او ... یرغل کوونکو د څو پېړیو په اوږدو کې، کابو ټوله اروپا ونیوله او له ډېرو ورانیو وروسته په کلیو او کلاګانو کې هستوګن شول. د دغو یرغلونو په پایله کې د اروپا د

تمدن ډېرى لاسته راوړنې، لکه: ښاري ژوند، سوداګري، علمي مرکزونه هېر او له منځه لاړل، تردې چې ترخوېږېږيو وروسته د منځنيو پېړيو په پای کې کې يوځل بيا په اروپاکې ښاري ژوند، تجارت او د علمي د زده کړو مرکزونه جوړ شول او پرمخ لاړل.



د فیوډالي ټولنې د مراتبو لړۍ

په منځنيو پېړيو کې په اروپا کې فيوډالي نظام واکمن و. هر فيوډال يا مالک يا ارباب ډېر ملکيتونه لرل چې کله به يې يو لوى ولايت په برکې نيوه. په دغو لويو ملکيتونو کې کرنيزې ځمکې، ښکاري ځايونه، ځنګلونه، چينې، ويالې او کلي راتلل او د خپلو اړتياوو د تيارولو له مخې په بشپړ ډول پرځان بسيا ګڼل کېدل.

هغه خلک چې د فيوډالانو (ځمکه والو) د ملکيتونو په سيموکې اوسېدل، د فيوډلانو رعيت ګڼل کېدل . له همدې امله فيوډالي نظام ته ارباب رعيتي نظام هم وايي. رعيت په بشپړه توګه ارباب ته تابع واو ارباب د ملک د اداري او قضا دنده پرمخ بيوله . په منځنيو پېړيو کې کرنه د اروپايانو اصلي کار و. ارباب د محصولاتو لويه برخه اخيستله اوکومه برخه به يې چې رعيت ته ورکوله، رعيت په ناچارۍ په هماغه لږه برخه يو کال تېراوه.

د منځنيو پېړيو فيوډالان يا اشراف په اصل کې د لښکرو قوماندانان وو چې له جګړو وروسته د اروپا په مختلفو سيمو کې د ځمکو خاوندان کېدل جنګسالارانو به خپل وار د هرې سيمې اصلي خلک خپل رعيت ګرځول. ډېر مهم کار چې فيوډالانو کاوه د خپل ملک نظم او امنيت ټينګول او په جګړو کې ګډون کول وو.

د دغه کار لپاره هر فيوډال ډېره لويه او محکمه کلا لرله چې ارباب او رعيت به يې د دښمنانو له ګواښه ساتل. هر فيوډال ډېر جنګيالي کسان هم لرل چې د اړتيا پر مهال به يې له خپلو دښمنانو سره جګړه کوله ارباب له رعيت څخه دفاع خپله دنده ګڼله، په مقابل کې رعيتونو هم پرته له دليله د هغوی مطلق تابعت کاوه.
فيوډال يا ارباب چې په خپل ملکيت کې مستقل(آزاد) و، د پاچا يا د لوی فيودال تابع و او پاچا د فيوډالانو په واسطه ټاکل کېده. فيودلانو د پاچا د وفادارۍ لپاره سوګند کاوه، کله به چې له بهرنيو

دښمنانو سره جګړه پېښه شوه، فيوډالانو به له خپلو جنګياليو سره د پاچا ملاتړ کاوه. د منځنيو پېړيو په پېر کې په اروپا کې ډېرې کورنۍ جګړې د فيوډالانو تر منځ کېدلې، نه له بهرنيو دښمنانو سره. له همدې امله پاچاهانو ډېر واک نه درلوده، خو د منځنيو پېړيو په وروستيو کې پاچاهانو کرار کرار واک ترلاسه کړ او فيوډالان يې ځان ته تابع کړل.

په منځنيو پېړيو کې د ټولنې مشهور خلک سپاره نجيب زادګان(شواليه) وو چې ټول ژوند به يې په جګړو، د جګړو د فنونو په زده کولو او وسله کارولو بوخت و. د ځوانمردۍ رعايت او وفاداري د هغوی له اصولو څخه وو. پوهې او شتمنې ورته ارزښت نه درلود.

د شواليه وو ترلاس لاندې رعيت چې په ځمکو کې يې په کار کولو او په کلاګانو کې يې د ژوند شپې او ورځې تېرولې او د کرنې له لارې به يې چې کوم محصول ترلاسه کاوه، په هغو کې يې برخه لرله او د ځمکې پرېښودو حق يې نه درلود. دوی ته به يې سرف يا په ځمکو پورې تړلي رعيت ويل او همدغه شرايط له پلرونو څخه اولادونو ته په ميراث ورته رسېدل، خو ځينې داسې هم وو چې له بې ځمکې رعيت په نامه به د کار لپاره له يوه ځای څخه بل ځای ته تلل او د کار په بدل کې به يې محصول ورکول کېده.

په منځنيو پېړيو کې په معمولي توګه هر څوک به له وړوکتوب څخه وروسته که له اشرافو (فيوډال) څخه و، جنګيالی کېدل او که په ځمکه پورې به تړلي رعيت و، په ځمکه کې به يې کار کاوه، ښوونځي ته تلل او د تعليم زده کړه يوازې د هغه چا لپاره و چې کشيش کېده به. هغوی به د ځوانۍ په لومړيو کې کليسا ته تلل او هلته به يې ديني علوم زده کول .

## کليسا

د پانګوالو تر واک لاندې سيمو کې به خو کليساګانې وې چې د کشيش په وسيله اداره کېدې، کشيشانو به د خپل ژوند يوه موده له خلکو لېرې (په جلاځايونو کې په زده کړه تېروله. هغوی ته به يې راهب ويل. د هغوی زده کړې لاتيني ژبه، فلسفه، منطق، رياضيات او نجوم وو او ساينسي علومو ته يې پاملرنه نه کوله . ګڼ شمېر کشيشان د زده کړو په پای کې کليسا ته تلل او د ځينو دندې يې، لکه: د تعميد غسل ( مسيحيانو به د يو لړ مراسمو په ترڅ کې ماشومانو ته غسل ورکول)، د دعا او عبادت او واده مراسم



د کليسا د مراتبو لړۍ

به يې پرغاړه و. کشيشانو به د لوی کشيش چې اسقف يې ورته ويل تابعيت کاوه.
اسقفانو به دلوی اسقف تابعيت کاوه چې سر اسقف نوميده.
سراسقف به د هيواد پر ټولو کليساگانو څارنه کوله.
سراسقف د مسيحيت د لوړ مقام له لوري چې پاپ نوميده، منسوب کيده . پاپ چې د ټولو مسيحيانو مشر و، د ټولې اروپا پر کليساگانو يې واک درلود او له همدې وجې د هغوی مقام تر اروپايي پاچاهانو لوړ و. پاپ د روم په ښار کې ژوند کاوه چې د لرغوني روم پلازمينه وه او د لويديځ روم د امپراطورۍ تر زوال وروسته په ايټاليا کې بل حکومت نه و. له دې امله د روم ښار او څېرمې سيمې د پاپ د واک سيمې گڼل کيدې.

## په ټولگي کې فعاليت

زده کوونکي دې په څلورو ډلو وويشل شي او له مشورې وروسته دې يو تن د لاندې موضوعاتو لنډيز نورو ته ووايي:

١. فيوډاليزم څه ته وايي؟
٢. د کليسا د مراتبو لړۍ.
٣. د فيوډاليزم د مراتبو لړۍ.
٤. منځنۍ پېړۍ کومې دي؟

## پوښتنې

١- فيوډالانو په اروپا کې کوم واکونه لرل؟ په لنډ ډول يې شرحه کړئ.
٢- شواليه او سرف يوتر بله څه توپير لري؟ په لنډ ډول يې شرحه کړئ.
٣- د اروپا په منځنيو پيړيو کې د علم او پوهې حالت بيان کړئ.

## له ټولگي څخه بهر فعاليت

د هغو قومونو د رامنځ ته کېدو په اړه چې په منځنيو پيړيو کې اروپا ته راغلل يو مطلب وليکئ او په ټولگي کې يې وړاندې کړئ.

# صليبي جګړې

صليب د مسيحيت تر ټولو مهمه نښه ده. د مسيحيانو په باور دغه نښه د صليب په وسيله د حضـرت عيسىٰ (ع) د شهادت خاطره ده. مسيحيان د بيرغونو او کليساګانو په ښايسته کولو کې له هغو کار اخلي، د بېلګې په توګه: مسيحي لښکرو په منځنيو پېړيو کې د بيت المقدس د نيولو لپاره له اروپا څخه پر شام او فلسطين يرغل وکړ او پر خپلو جامو يې د صليب انځور کښلي او دوه سوه کلنې جګړې چې د مسلمانانو او مسيحيانو تر منځ وشوې، صليبي جګړې وبللې شـوې. که څه هم دغو جګړو مذهبي انګېزه لرله، خو په هيڅ دليل نه شوکولای د اروپا سياسي، اقتصادي او ټولنيز شــرايط له پامه وغــورځو. صلــيبي جګــړې چې د منځــنيو پېړيو د دويمــې نيمايي په منــځ (۱۰۹۹ تر ۱۲۹۱) پورې وشوې، د تاريخ له مهمو پېښو څـخه دي چــې په لنډه توګه پرې بحث کوو.

## د صليبي جګړو پيل

له لومړۍ هجري پېړۍ راهيسې چې له اوومې ميلادي پېړۍ سره برابره ده، اسلامي نړۍ او مسيحيت يو د بل پر وړاندې ودرېدل . په لومړۍ هجری پېړۍ کې مسلمانانو د شام، فلسطين، مصر، د افريقا شمالي سيمې او اسپانيا د مسيحيانو له واک وويستلې او وروسته د کوچنی آسيا (ترکيې) په وچه او لمده برخه، مديترانه، ايتاليا او اسپانيا کې د هغوی او د مسيحيانو ترمنځ جګړې رواني وې. د منځنيو پېړيو په منځنيو کلونو کې د اروپا يې مسيحيانو او اسلامی نړۍ تر منځ د جګړې نورې لارې برابرې شوې چې په لنډه توګه پری بحث کوو.

### ۱- د حضرت عيسىٰ(ع) د راتګ انتظار

ځينې مسيحيان باور لري چې حضرت عيسىٰ (ع) به زرکاله وروسته بيا په بيت المقدس کې راڅرګندېږي، همدا لامل دی چې مسيحي زيارت کوونکي او په تېره بيا راهبان، هغه ښار ته راتلل او ورځ په ورځ به د هغوی شمېر ډېرېده، البته هغه پېښه چې مسيحيانو يې انتظار کاوه، رامنځ ته نه شوه، خو دغو سفرونو يوه مهمه پايله لرله او هغه د مسلمانانو د اجتماعي او اقتصادي ژوند له شرايطو څخه د اروپايانو خبرېدل وو.

### ۲- په اروپا کې د وګړيو ډېرېدل او د ستونزو رامنځ ته کېدل

په اروپا کې له څو پېړيو يرغلونو او د بېلابېلو قومونو له مهاجرتونو څخه وروسته په دغه وچه کې د وګړو شمېر ډېر شو. دغو مهاجرتونو د کرنيزو ځمکو د کمښت ستونزه له ځان سره لرله. د ځمکو

کمښت د فقر سبب کېده او په کرارکرار ځمکه والو د رعیت شمېر لږ او د بې ځمکو رعیت شمېر ډېرېده. دغه ستونزه یوازې د رعیت پورې تړلې نه وه، بلکې شوالیه هم ورځ په ورځ ډېـر اغېزمن کېدل، ځکـــه د اروپا په فیوډالي نظـــام کـــې دود و چې د فیوډال ملکیت د هغه مشر زوی ته رسېده. له دې امله د فیوډال نور زامن د شوالیه وو له لیکو سره یوځای کېدل. د شوالیه وو د شمېر په ډېرېدو او د هغوی په اړودوړ کې په اروپا کې نا امني ډېره شوه . ددغو لاملونو له وجې فیوډالان او پاچاهانو د نویو ځمکو په لټه کې شول، څرنگه چې اروپا څه نا څه کوچنۍ وچه او له دریـــو لوریو په اوبو پـــورې تړلـــې ده، خپلې وچـــې د پراخولو امکانات یې نه لـــرل، نو د ختیـــځې مدیترانې (شام او فلسطین) په لور یې چې د مسلمانانو په ولکه کې وو. حرکت وکړ.

## ۳- په اندلس (هسپانیه) کې د مسلمانانو پرمختگ

د لومړۍ پېړۍ په وروستیو کې اندلس د مسلمانانو تر ولکې لاندې شو. دوی له پېړیو را په دې خوا د هغې سیمې له مسیحیانو سره په سوله کې ژوند کاوه، خو د فرانکانو په دوره کې اروپایي مسیحیانو د اندلس په بېرته نیولو ټینگار کاوه. اندلس سره له دې چې له پاتې اسلامي نړۍ سره یې لږې اړیکې لرلې، خو بیا هم نه یوازې د دوی د فشار په وړاندې ودرېدل، بلکې مسلمانانو یې هلته یو لوی تمدن هم رامنځ ته کړ، خو د خپلمنځیو جگړو له امله، مسلمانانو ته ډېر تاوانونه ورواوښتل او د هسپانیا شمالي څنډې یې له لاسه ووتې.

په همدې وخت کې سلجوقیانو په (۱۰۷۱ ز) کال کې پر شرقي روم(بیزانس) د بـــریښنا په څېر چټک بریالـــیتوب تر لاسه کړ او د بیزانس امپراطورۍ د کوچنۍ آسیا برخه یې له لاسه ورکړه. له پاپ څخه یې مسلمانانو په وړاندې د مرستې غوښتنه وکړه او دا د پاپ لپاره غوره وخت و چې د بیزانس کلیسا چې د روم له کلیسا څخه په (۱۰۵۵ ز) کا ل کې جلا شوې وه، یو ځل بیا د خپل واک لاندې راولي. په پایله کې د بیزانس کلیسا چې په ځان یې ارتودوکس نوم ایښی و او د روم کلیسا چې د کاتولیک په نامه وه، پاپ دبیزانس غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړ. چې په دې توگه صلیبي جگړې پیل شوې.

## لومړنۍ صلیبي جگړې څرنگه پیل شوې؟

پاپ دویم اوربان په ۱۰۹٦ زېږدیز کال د بیت المقدس د نیولو لپاره د مسلمانانو پرضد د جگړې اعلان وکړ. د اروپا له مرکزي او لوېدیځو سیمو څخه لویو لښکرو د بیزانس پرلور حرکت وکړ، ترڅو له هغه لوري ځانونه بیت المقدس ته ورسوي. دغه لـښکرې چې تر ډېره له شوالیه وو او بزگرانو څخه جوړې شوې وې، د یو بې نظمه او بې مشره لـښکر په توگه یې د خپلو لارو په اوږدو کې ډېر کلي چور

او تالان کړل. کله چې قسطنطنيې ته ورسېدل، د بيزانس امپراطورۍ ددغه ياغي او وږي لښکر په ليدو وارخطا شوه او هغوی يې د مسلمانانو د سيمو په لور ور برابر کړل. که څه هم چې ډېر مسيحيان په دښتو اوبيدياوو کې ورک شول او يا له لوږې مړ شول، خو پاتې کسانو يې د مديترانې د ختيځو سيمو له لارې ځانونه شام او فلسطين ته ورسول او په ۱۰۹۹ ز کال د بيت المقدس په نيولو بريالي شول. د صليبي جګړو په پيل کې اسلامي نړۍ له تفرقې او کورنيو جګړو سره لاس او ګرېوان وه.

فلسطين د مصر فاطميا تر واک لاندې د ضعف او زوال په حال کې و. شام د سلجوقيانو په واک کې د عباسي خلافت طرفدار و، خو نه سلجوقيان په خپلو کې سره يوموټي وو او نه هم عباسيانو خپلو جغرافيايي سرحدونو ته پام کاوه. بلخوا فاطميان او عباسيان هم په خپلو کې دښمنان وو. په دې ترتيب شام، فلسطين او بيت المقدس پراخې ځمکې د صليبيانو لاس ته ورغلې، لومړۍ صليبي جګړه د صليبيانو په بريالیتوب پای ته ورسېدله . ددغې پېښې د خبر خپرېدل مسلمانان ويښ کړل، ځکه خو د زنګي کورنۍ چې د شام په سرحدونو کې يې حکومت کاوه، د صليبيانو پرضد يې جګړه پيل کړه او د مسلمانانو له لاسه وتلې ځينې سيمې يې بېرته ونيولې. د صليبيانو ماتې د بيت المقدس په لور د نويو لښکرو د حرکت سبب شو، خو په دغه جګړه کې فيوډالان هم له شواليانو سره يوځای او صليبيانو ماتې وکړه، ځکه مسلمانانو ډېر تياری نيولی و او بلخوا د لومړۍ صليبي جګړې ګټونکي د نويو مهاجرينو له راتګ سره خوښ نه وو.

په دويمه جګړه کې د صليبيانو ماتې، پاپ اړ ويست ترڅو اروپايي پاچاهان هم له مسلمانانو سره جګړې ته وهڅوي، ددغې هڅونې په پايله کې د انګلستان، فرانسې او آلمان (د روم امپراطورۍ) فلسطين ته ورغلل او دريمه صليبي جګړه پيل شوه. په همدغه جګړه کې د مسلمانانو يوتن قوماندان چې صلاح الدين ايوبي نومېده، سخت مقاومت وکړ. صلاح الدين ايوبي چې د زنګي کورنۍ او د فاطميانو د حکومت له ړنګېدو وروسته يې په مصر او شام کې لوی اسلامي حکومت جوړ کړی و، وکولای شول بيت المقدس د دويم ځل لپاره ونيسي او د شام او فلسطين پراخې سيمې له صليبيانو څخه آزادې کړي او يوازې سواحلي برخې له صليبيانو سره پاتې شوې . د دغې ماتې زغم مسيحي او اروپايي حکومتونو ته سخت و، نو نوې جنګي لښکرې يې تيارې کړې.

## نورې صليبي جګړې

د څلورمې صليبي جګړې لپاره اروپايانو ډېرې لښکرې او زيات تجهزات تيارکړي وو، صليبيانو د بيت المقدس نيول او غنيمتونو په حتمي لاسته راوړلو کلکه هيله وه، خو کله چې د مسيحيانو تر

لوی ښار (قسطنطنیې)ته ورسېدل، د هغې ښار چورتالان یې له مسلمانانو سره تر جګړې او د بیت المقدس تر نیولو غوره وګڼل.

له څلورمې او پنځمې جګړې وروسته، د صلیبي جګړو لاره بدله شوه. له یوې خوا د بیزانس امپراطورۍ اجازه ور نه کړه چې صلیبي ځواکونه د مسلمانانو سیمو ته د تللو لپاره د دوی له سیمو تېرشي. له همدې امله صلیبیانو د ایټالیا له شمالي بندرونو څخه حرکت پیل کړ، د مدیترانې څخه په تېرېدلو د شام سواحلو او بندرونو ته چې د صلیبیانو په واک کې و، ورسېدل. له بلې خوا پاپ د صلیبي لښکرو د تیارولو لپاره پر اروپایي پاچاهانو تکیه وکړه . په دې اساس له شپږمې تر نهمې صلیبي جګړې پورې مشري، له پاچاهانو سره شوالیه او فیوډالانو ملګرتیا کوله، هغوی نه یوازې دا چې لېرو سیمو ته تلل په خپله ګټه نه ګڼل، بلکې په دې باور وو چې صلیبیان به د مدیترانې د ختیځو سیمو په نیولو ونه توانېږي، ځکه خو سیاسي فعالیتونو ته یې تر جګړو ډېر لومړیتوب ورکاوه.

د صلیبي جګړو په پای کې چې کوم مهم بدلون رامنځ ته شو، له مسلمانانو سره د مسیحیانو د سوداګرۍ مینه وه چې د شمالي ایټالیا د بندرونو ماڼوګانو د دې تجارت څخه ډېره ګټه اخیستله. څرنګه چې صلیبیانو ته دې سوداګرۍ ښه انګېزه درلوده، له دې امله دغه تجارت د صلیبیانو پرورانډې د مسلمانانو په قوت تمام شو. د (ایوبیانو) د ا سلامي حکومت پرځای چې کوم قوي حکومت را منځ ته شوی و، وتوانید په پرله پسې پوځي ګوزارونو سره یې د شام په سواحلو کې د صلیبیانو وروستۍ مورچې او مرکزونه ونیول او په دې ترتیب صلیبي جګړې له دوو پېړیو وروسته په ۱۲۹۱ ز کال د مسلمانانو په بریالي کېدلو پای ته ورسېدې.

## د صلیبي جګړو پایلې

• صلیبي جګړې د اروپایانو په ماتې سره پای ته ورسېدې، خو هغوی یې د اسلامي تمدن سره بلد کړل او له هغو یې ګټه واخیستله.

• صلیبي جګړې د هغه وخت له تر ټولو لوی تمدن (اسلامی تمدن) د اروپایانو د اړیکو سبب شو. دغه کار په خپل وار د هغوی د فکري پراختیا او د نړیوالو واقعیتونو په وړاندې او د هغوی د موقعیت په اړه د اروپایانو د پوهېدلو په عملیه کې ډېر اغېزمن وو.

• صلیبي جګړې د نویو اقتصادي ډګرونو د پرانیستل کېدو سبب شوې. اروپایانو د مدیترانې او افریقا له شمالي سیمو څخه د مسلمانانو محصولات، لکه بوره، کاغذ، قهوه، قطب نما، وربښمیني ټوکران، درمل او ... د اروپایانو لاسته ورغلل. دغه ډول توکي او محصولات په اروپا کې نه پیدا کېدل .

د دغو محصولاتو لاسته راوړل او وروسته بیا د هغو تولید په اروپا کې د ژوند د کچې د اوچتوالي، کار، فعالیت او د کلتور سبب شول.

• د هغو بېلابېلو درملو تر څنګ چې اروپايانو ورته ډېره اړتیا لرله، هغه کتابونه چې د طب په اړه وو، لکه: کیمیا، درمل جوړول، درمل پېژندنه، بیالوژي، مېخانیک او ... څخه یې هم په پراخه پیمانه ګټه واخیستله، همدا راز هغه علوم چې اروپايانو ورته پاملرنه وکړه، جغرافیه او ستور پېژندنه وه، دغو دوو علومو له هغوی سره د سیمو، سمندري لارو او د سوداګرۍ په پېژندلو کې ډېره مرسته وکړه. عقلي علوم لکه فلسفه هم په اروپا کې مینه وال لرل او د اسلامي نړۍ د لویو فیلسوفانو (ابن سینا- فارابي) آثار په لاتیني ژبه وژباړل شول. دغه مهال اندلس (اسپانیا)، تونس، د شام سواحل (سوریه) او د مصر اسکندریه د اسلامي نړۍ د اقتصادي، علمي، فکري، او فني لاسته راوړنو د انتقال ډېرې مهمې دروازې وې.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکی دې په دوو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې له مشورې وروسته د یوه تن زده کوونکي په وسیله لاندې پوښتنې له مشورې وروسته نورو ته تکرار کړي.

۱-د بیزانس حکومت ولې اجازه ورنه کړه چې صلیبي جنګیالي له مسلمانانو سره د جګړې لپاره د هغوی د واکمنۍ له سیمو څخه ګټه واخلي؟

۲- د لومړۍ صلیبي جګړې فاتحان ولې د نویو مسیحیانو له راتګ څخه ناراضه و؟

## پوښتنې

۱- د اروپا ټولنیز حالت څرنګه د صلیبي جګړو لپاره لاره اواره کړه ؟ لنډه توضیح ورکړئ.

۲- درېمه صلیبي جګړه څرنګه پیل شوه او پایله یې څه وه؟ لنډه توضیح ورکړئ.

۳- په څلورمه صلیبي جګړه کې د صلیبیانو کړنه د کوم واقعیت بیا نوونکې وه؟ لنډه توضیح ورکړئ.

۴- د صلیبي جګړو په پای کې د اروپايانو په فکر کې د اسلامي نړۍ په اړه څه بدلون راغی ؟ په لنډه توګه یې توضیح کړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

د صلیبي جګړو د پایلو په اړه یو مطلب ولیکئ او په ټولګي کې یې ووایئ.

# د اموي اندلس او عثماني خلافتونو سره د اروپا اړودوړ

په دې لوست کې به اروپا ته د مسلمانانو د دوو خلافتونو (اموي خلافت او عثماني خلافت) د ورتګ او د هغوی د کړنلارو په اړه چې په دغه سيمه کې د اسلام د دين خپرېدو سبب شول، لنډ معلومات ترلاسه کړئ.

په اروپا کې د مسلمانانو د اتو پېړيو شتون په بشري تمدن کې د وياړنو، مېړانو او لاسته راوړنو نوي فصل دی. هغوی هلته د خپل لړ شتون په موده کې د اروپا په سويل کې د نوی او ځلېدونکي تمدن بنسټ کېښود او په اروپا کې يې د قدرت تر ټولو لوی مرکز جوړکړ، خو د وخت په تېرېدلو د هغوی په ګټه نه و، په پای کې يې له ناچارۍ هغه ځای پرېښود.

د لومړۍ هجري پېړۍ په لومړيو لسيزو کې مسلمانان د افريقا شمال ته ورسېدل، هغوی د اطلس غـرونو ته نژدې له بيديا مېشتو خلکو (بربريانو)سره نښته وکړه. په ۸۹ هجري کال د وليد بن عبدالمالك لخوا موسیٰ بن نصير د ټولې افريقا د حکمران په توګه وټاکل شو، موسیٰ يو مېړنی او پرهېزګار سړی و. هغه له سختو جګړو وروسته وکړای شول د افريقا د شمال بربريان ځانته تابع کړي او له هغوی څخه يې په سيمه کې يو منظم لښکر جوړ کړ.

په ۷۱۱ ز کال کې د موسی بن نصير په لارښوونه د اسپانيا د فتحه کولو په موخه د طارق بن زياد په مشرۍ د مديترانې شمالي سيمو ته يو لښکر واستول شو.

طارق د شل زرو عسکرو په مرسته چې ډېر يې بربريان او پاتې يې عربان وو، د مغرب د شمال له تنګي څخه تېرشول او هسپانيا ته ورسېدل. هغه نقطه چې مسلمانان له هغه ځايه اسپانيا ته ننوتل. هغه تنګو چې وروسته د تل لپاره د هغه په نوم (جبل الطارق) ونومول شو. طارق اسپانيا ته له ننوتلو وروسته خپلې ټولې بېړۍ وسوځولې، ترڅو سپاهيان د تېښتې او بېرته ستنېدو فکر له سره وباسي. په دې ترتيب په اروپا کې د لومړي ځل لپاره د مسلمانانو د شتون زمينه برابره شوه.

اسپانيا ته د مسلمانانو له ورتلو وړاندې، دغه سيمه د يو اقليت چې ويزيګوټان نومېدل، تر ولکې لاندې وه چې د روم امپراطورۍ په څېر يې د تورې په زور او د سردارانو پر مټ او زور سره حکومت کاوه. د ماليات زياتېدل او کورنۍ جګړې ددې سبب شوې وې چې بزګران د ولږې او د تباهۍ مرحلې ته ورسېږي او د اسپانيا زياتو خلکو، لکه د مريانو په څېر، اشرافو او مسيحي روحانيونو ته کار کاوه. له دې امله اسپانويان کله هم له حکومت څخه خوښ نه وو او د دغې حالت څخه د خلاصون په لټه

کې وو. په اسپانیا کې د طارق بن زیاد لومړنۍ جګړه له ویزګوتیانو سره وه، سره له دې چې د مسلمانانو د لښکر شمېر لږ و، خو قوي ایمان او لوړ جنګي مورال ددې سبب شو چې په سخته جګړه کې مسلمانان بریالي شي. په دغه جګړه کې د مسلمانانو بریالي کېدل د اروپا زړه ته د مسلمانانو د پرمختګ لپاره سریزه شوه. سره له دې چې ډېر اروپایان مسیحیان وو، له مسلمانانو په وړاندې یې په جګړه کې مقاومت ونه ښوده، خو په زړونو کې یې د ویزیګوټان له منځه تلل غوښتل. په دې ترتیب طارق بن زیاد د اسپانیا ډېرې سیمې ونیولې او هلته یې د اسلامي دولت بنسټ کېښود. ځینې سیمې چې له طارق څخه پاتې شوې وې، هغه د اسلام د بل فاتح (موسیٰ بن نصیر) په وسیله د اسپانیا په ختیځ کې فتحې شوې . هغه و توانېد چې په لږ وخت کې د اسپانیا په ټولو سیمو کې د فرانسې تر سرحدونو پورې خپلې لښکرې ورسوي او غوښتل یې چې له فرانسې او آلمان څخه تېر شي او د اروپا د ختیځو سیمو په نیولو سره، قسطنطنیه فتحه کړي، له هغه وروسته شام ته ځان ورسوي او د اسلام په لاره کې په جهاد سره دغه سیمې د شام تر واک لاندې راولي، خو د ژوند برخلیک هغه ته ځینې پېښې رامنځ ته کړې چې دغې موخې ته ونه رسېد او وروسته وفات شو.

د موسیٰ بن نصیر مړینه په اسپانیا کې د مسلمانانو د کار پای نه و او د عمر بن عبدالعزیز د خلافت په پېر کې سمح بن مالك خولانی د اسپانیا حکومت ته وګومارل شو. هغه د اسپانیا د خلکو د خوښۍ لپاره د پلونو جوړولو او عدالت پلي کولو ته ملا وتړله.

په( ۷۲۱ ز) کال کې سمح پر اسپانیا له بشپړ واک وروسته، د فرانسې په لور مخه کړه او دخپلو پوځونو د لس برابره لښکرو سره مخ شو. د اسلام لښکر په غیرت او ایماندارۍ وجنګېده. په داسې حال کې چې مسلمانان بري ته نژدې وو. سمح شهید شو او د اسلام لښکر ماتې وکړه. دغه ماتې د اسلام په تاریخ کې د تولوز د ماتې په نامه مشهوره ده . په دغه جګړه کې د مسلمانانو ډېر قوماندانان شهیدان شول.

د تولوز ماتې وروسته د سمح له قوماندانانو څخه یوه تن چې عبدالرحمن بن عبدالله عافقي نومېده، د اسلامي لښکرو مشر شو او په چټکۍ یې د اسلام عسکر راټول کړل او د تولوز د جګړې د جبران په لټه کې شو، ترڅو چې په( ۷۳۲ ز / ۱۱٤ هـ ق )کې عبدالرحمن وتوانیده چې د فرانسې ځینې ښارونه فتحه کړي. دا کامیابي د دې لامل شوه چې د فرانسې پاچا شارلمان د قوتونو په راټولولو پیل وکړي او تردې ړ شول چې د (ژرمن) قوم څخه د مرستې غوښتنه وکړي. کله چې دغه دواړه قوتونه یو بل سره مخامخ شول،

فرانسویانو د چل (هیلې) څخه کار واخیست چې د مسلمانانو د عسکرو د بې نظمۍ، د زیاتو قوماندانانو او خپله د قوماندان عبدالرحمن د شهادت لامل وګرځید او دغه جنګ د تورو پوانیه په نامه مشهور شو.

په اسپانیا کې د اسلام له بریالي کېدلو وروسته، هلته داسې تمدن جوړ شو چې په اروپا کې د لویو علمي او اخلاقي بدلونونو ویښتابه سبب شو او همدا راز د لویو ځمکه والو د زور زیاتي، سرکښو او اړودوړو مخنیوی وشو. د عمر بن عبدالعزیز د خلافت پر مهال کرنې پرمختګ وکړ، د نورو پرمالونو تېرى له منځه لاړ، اقتصادي اصلاحات رامنځ ته شول. همدارنګه مسیحیانو او یهودیانو په اسپانیا کې په آزاده توګه ژوند کاوه.

## عثماني دولت څنګه جوړ شو؟

په نویو پېړیو کې چې اروپایانو د نوي تمدن په جوړولو بوخت وو او د نوي علم او تکنالوژۍ په مرسته يې هڅه کوله پر نړۍ واکمنان شي، په اسلامي نړۍ کې څه تېرېدل؟ آیا هغوی هم د بدلون او نوښت په فکر کې وو؟ آیا د تمدن له نویو لاسته راوړنو يې ګټه اخیستله؟ د استعمار له پدیدې سره يې څه چلند کاوه؟ په نویو پېړیو کې د مسلمانانو تر ټولو مهم دولت، عثماني دولت و.

د ملازګرد په جګړه کې د سلجوقي ترکانو بریالي کېدل چې د آلپ ارسلان او ختیځ روم د امپراطور ترمنځ وشوه، ځو عواقب يې لرل چې په کوچنۍ آسیا کې د اسلام پرمختګ او د مسلمانانو او مسیحیانو ترمنځ د دوه سوه کلنو صلیبي جګړو رامنځ ته کېدل يې له مهمو پایلو څخه دي. د ایران له ختیځ څخه کوچنۍ آسیا (ترکیه) ته د مسلمانو ترکانو د تلو په پایله کې په کرارکرار کوچني محلي حکومتونه رامنځ ته شول چې د ځان د بقا او پراختیا لپاره يې له مسیحي ګاونډیانو سره جګړې کولې.

له دغو قبیلو څخه ډېره مشهوره قبیله د «قایي» قبیله وه چې له انقرې سره په ګاونډ کې مېشت شو. ددغې قبیلې مشر ارطغرل و چې خپل واک ته يې پراختیا ورکړه. له هغه وروسته يې زوی، عثمان په ۶۹۹ ز کال کې دولت جوړ کړ چې په خپل نوم يې (عثماني حکومت) و نوموه.

دغه عثماني دولت چې د شلمې پېړۍ تر لومړیو پورې دوام وکړ، د ختیځې نړۍ وروستنۍ خواکمنه امپراطوري وه. چې نوم او اوازه يې د اروپایانو لپاره پېرۍ، پېرۍ د ویرې سبب ګرځېدلې و. او له همدې وجې هغوی ددغې امپراطورۍ د له منځه وړلو لپاره ډېرې هڅې کولې. عثماني ترکانو

د خپلې واکمنۍ د پراختیا او د خپل ځواک د ټینګښت لپاره دوه مهم پوځي ځواکونه جوړ کړل. یو یې عثماني او بل یې یني چري پوځ و، عثمانلي د عثماني دولت اصلي پوځ و چې د تُرک قبایلو او د نظامي متحدانو څخه دغه دولت جوړ شوی و چې غړو یې د دغې خدمت په بدل کې ځمکه ترلاسه کوله او په غنمتونو کې یې هم برخه ترلاسه کوله، خو یني چري مسیحي مسلمان شوي ځوانان وو چې د دوی دنده د عثماني پاچا ساتنه وه او د خپلو خدمتونو په بدل کې یې حقونه ترلاسه کول او د ۳۰ کلونو خدمت وروسته به ورته ځمکه ورکول کېده.

سلطان محمد فاتح چې د عثماني امپراطورۍ مشهور پاچا و، وکولی شو چې د ختیځ روم (بیزانس) زرکلنه امپراطورۍ سیاسي ژوند ته د پای ټکی کېږدي. د هغه ډېر ځلېدونکې فتحه، د قسطنطنیې فتحه(دکنستانتین ښار) و چې د ختیځ روم د امپراطورۍ پلازمېنه وه چې له هغه څخه وروسته دغه ښار اسلامبول د (اسلام ښار) ونومول شو او سلطان محمد هم د فاتح لقب واخیست. دغه فتحه د نړۍ په تاریخ کې د ډېرو بدلونونو سبب او د اورپا په تاریخ کې د نویو پېړیو د تاریخ د پیل نښه شوه.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي او د عثماني دولت د کمزور کېدلو په لاملونو باندې دې یو له بل سره خبرې وکړي، له خبرو اترو وروسته دې دډلې یوغړی د مطلب لنډیز نورو ته ووایي.

## پوښتنې

۱. اروپا ته د مسلمانانو لومړی ځل تلل څرنګه ترسره شول؟ لنډه توضیح ورکړئ.

۲. د اسپانیا خلکو ولې د مسلمانانو څخه هرکلی وکړ؟

۳. په اروپاکې د اندلس له خلکو سره د مسلمانانو او سردارانو چلند څرنګه و؟ توضیح یې کړئ.

٤. عثماني دولت څه ډول جوړ شو؟

۵. سلطان محمد فاتح څـــوک و؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

ځینې زده کوونکي دې د اندلس د اموي خلافت او ځینې نور دې د عثماني دولت په اړه مطلب تیار کړي او په ټولګي کې دې ولولي.

# د اروپا د نوي مدنيت پر جوړېدو د اسلامي تمدن علمي اغېزې

په دې لوست کې به په لوېديځ کې د اسلامي تمدن د عظمت، د اروپا پر نوي مدنيت د هغه د اغېزو، د پوهانو او شاعرانو د ظهور د څرنګوالي او د هغه صنعت او تجارت چې د اروپا زړه ته د مسلمانانو د علمي لاسته راوړنو د انتقال سبب شو، په اړه خبرې وکړئ.

مسلمانانو د اسپانيا له فتحې وروسته هلته د داسې تمدن بنسټ کېښود چې هم د اسلامي نړۍ او هم د اروپا لپاره د ډېرو لويو علمي پرمختګونو او بدلونونو سبب ګڼل کېږي. په اندلس کې اسلامي تمدن، په شرق کې د اسلامي تمدن د عظمت يوه برخه وه چې د دغه تمدن حاصل د اروپا په سويل کې د پوهانو، فقهاوو، شاعرانو، فيلسوفانو او د هنر او معمارۍ د آثارو ظهور او د صنعت او تجارت پرمختګ و دغه پرمختګونه د دې ښکارندوی کوي چې په اسپانيا کې د مسلمانانو د ورتګ انګېزه، جګړه او غنيمت نه وو.

په اندلس کې اسلامي تمدن د اروپا او آسيا ترمنځ د يوه پل په څېر رول درلوده او د اروپا زړه ته يې د اسلامي تمدن علمي لاسته راوړني ولېږدولې . د هند لومړی وزير، نهرو په خپل کتاب (د نړۍ تاريخ ته يوه کتنه) کې ليکي : د اسپانيا مسلمانانو په قرطبه کې داسې حيرانوونکی حکومت رامنځ ته کړ چې د منځنيو پېړيو له حيرانتياوو څخه ګڼل کيږي، هغه مهال چې ټوله اروپا په جهل، بربريت او جګړو کې غوټې وهلې، دوی د تمدن او پوهې ډېوه بله ساتلې وه چې رڼا يې پېړۍ پېړۍ پر لوېديځه نړۍ وړانګې غوړولې وې. د قرطبې ښار (۵۰۰) کاله ددغه حکومت پلازمېنه وه . قرطبه يو لوی ښار و چې يو ميليون وګړي يې لرل. دغه ښار يو باغ ته ورته والي درلود چې اوږدوالی يې د ۲۰ ميلونو او عرض يې ۴۵ کيلومترو ته رسېده.

په دغه ښار کې ډېر کتابتونونه وو، تر ټولو لوی يې د امير کـتابتون و چې څلورسوه زره (۴۰۰۰۰۰) کتابونه په کې وو. د قرطبې پوهنتون په ټوله اروپا او لوېديځه آسيا کې مشهور و او په هغو د غريبانو لپاره وړيا مدرسو شتون درلوده. هغه مهال په اسپانيا کې نژدې ټول خلکك په ليک لوست پوهېدل په داسې حال کې چې په مسيحي اروپا کې له روحانيونو پرته آن ټولني لوړ پوړو کسانو هم په غربت کې ژوند کاوه. د اسپانيا مسلمانانو اسلامي معماري او د ښارونو سينګارته ډېر ارزښت ورکاوه او په دې ترتيب په لږ وخت کې په بېلا بېلو سيمو کې ښاري لارې، نوي پلونه او د ښايسته جوماتونو جوړول پيل شول.

د اسپانيا مسلمانانو پوهنه او د مدرسو جوړول خپل مهم کار وګاڼه، داسې چې په څو پيړيو کې اسلامي اسپانيا په تېره بيا د قرطبې ښار په اروپا کې د پوهنې د خپرېدو مرکزشو، انګليسي مؤرخ(لين بول) په

اسپانیا کې د مسلمانانو د حکومت د قدرت او د برم په اړه لیکي: په څو پیړیو کې اسپانیا د علم تمدن، هنر او د فرهنګي ځلا روښانه مرکز و.

هیڅ اروپایي هېواد د دې جوګه شوي نه دی چې په اسپانیا کې د مسلمانانو فرهنګي واکمني ته ورته حالت ولري. په اندلس کې د اسلامي تمدن څرګندېدل د بېلا بېلو پــوهانو او متفکــرینو له څــرګندېدلو سره هم مهال وو چې هر یوه یې د اسلامي تمدن په بشپړولو کې ارزښتمن رول لوبولی دی او بشریت ته یې بې شمېره خدمتونه وړاندې کړي دي چې له دغو کسانو څخه د ابن ماجه، ابن رشد، ابن طفیل، ابن میمون او ... نومونه اخیستلی شو. په اسپانیا کې د مسلمانانو پر تاریخي ویاړونو سربېــره د وخت په تېرېدلو سره د دې ملت په ګټه نه و.

په وروستیو پیړیو کې د مسلمانانو ضعف او لوېدل نه یوازې په دغه هیواد کې پر اسلامي ښارونو د متعصبو مسیحیانو د واکمن کېدلو لامل شول، بلکې په اسپانیا کې د مسلمانانو د سیاسي واک په ړنګېدو مسیحیانو د مسلمانانو د علمي او فرهنګي تمدن آثار له منځه یوړل، تر هغه ځایه چې اوس د اسپانیا په زړه کې د دغه تمدن غږ چپ شوی دی.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي او د اندلس د اسلامی دولت د کمزورتیا په لاملونو باندې دې یو له بل سره خبرې وکړي او د خبرو پایله دې د ډلو استازي نورو ته بیان کړي.

## پوښتنې

۱- په اندلس او اروپا کې د اسلامي تمدن په اړه څه پوهېږئ په لنډه توګه یې بیان کړئ؟

۲- د قرطبې د ښار په اړه څه پوهیږئ؟

۳- ولې په اسپانیا کې اسلامي تمدن له منځه لاړ؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې په اروپا کې د اسلامي تمدن د عظمت په اړه یوه مقاله ولیکي.

# رنسانس په اروپا کې

رنسانس څه ته وايي او څرنګه منځ ته راغی؟

د منځنيو پېړيو وروستي وختونه چې له فکري او فرهنګي بدلونونو سره يوځای وو د رنسانس يعنې د نوښتګرۍ په نوم يادېږي او موخه يې د يونان او لرغوني روم د فرهنګ او تمدن بيا ژوندي کول دي چې د منځنيو پېړيو له پيل سره هېر شوی و. هغه څه چې د رنسانس پر مهال رامنځ ته شول او د اروپا قرون وسطايي بڼه يې بدله کړه، لاندې څيزونه وو:

۱. د ښاري کېدلو وده او د هغوی د واک ډېرېدل؛

۲. د پاچاهانو د واک ډېرېدل او د فيوډالانو کمزورتيا؛

۳. د سوداګرۍ او کار او کسب وده؛

٤. جغرافيايي کشفيات.

له هغه ځای څخه چې رنسانس د منځنيو پېړيو په وروستيو کې رامنځ ته شو په دې لوست کې د اروپا تاريخ له ۱۳۰۰ تر ۱٦۰۰ زېږديز تر څېړنې لاندې نيسو.

صليبي جګړو د اروپا د وګړيو ستونزې حل نه کړې، په اروپا کې د ځمکې کمښت له امله ډېرځمکه وال رعيتونه په بې ځمکو رعيتونو بدل شول. ځينو بزګرانو د فيوډالانو د ظلم او تېرې له امله په شورشونو لاس پورې کړ او له کليو به تښتېدل او د پاچاه رعيت کېدل. همدغه ډله په مختلفو کسبونو او په راکړه ورکړه بوخته شوه او په اروپا کې يې نوي ښارونه جوړ کړل. د سوداګرۍ وده چې له صليبي جګړو وروسته رامنځ ته شوه، د ښاري هستوګنو خلکو له اقتصادي ودې سره يې مرسته وکړه. او هم ښاري هستوګنو خلکو ته به يې بورژوا ويل چې د ښاري هستوګنو



د رنسانس په پير کې د اروپا سياسي وضع

معنا ورکوي. ښارونه چې د مالونو د پلورلو او پېرودلو ځايونه دي، د هغوی د راکړې ورکړې ضروري وسيلې پيسې دي، له دې امله د پيسو کارېدل ډېر شول. په لومړي سرکې د ښارونو پراختيا په سواحلي سيمو کې وه، ځکه هلته فيوډالان لږ وو. د ښارونو او سوداګرۍ د ودې په پايله کې، په اروپا کې فيوډاليزم کمزوری شو. پاچاهانو له فيوډالانو څخه غوښتل چې ماليات ورکړي او دغه ماليات هم بايد د پيسو په توګه ورکړي چې د پيسو د لاسته راوړلو لپاره ښاري سوداګرو او د بانکونو خاوندانو ته د هغوی ورتګ ضروري و. په پای کې دغه حالت پر فيوډالي اقتصاد د ښاري هستوګنو د اقتصاد د برلاسي کېدو سبب شو او ښاري اشراف يې د ځانګړي مقام خاوندان کړل. په دغه پېر کې فيوډالو اشرافو هڅه کوله چې خپل پخوانی مقام وساتي. دغه ټولنيز اړودوړ ډېره موده اوږد شو او په پای کې بوژوازان بريالي شول. د لرغوني روم د ژوند طريقو او قوانينو د ښاري اروپايانو د نوي ژوند بنسټ جوړ کړ.

## د پاچاهانو د واک ډېرېدل

هغه ماليات چې اروپا يې پاچاهانو له فيوډالانو اخيستل، د هغو ډېره برخه يې يوازې د خپلو حکومتونو د ټينګښت لپاره لګوله، پاچاهانو د ډېرو سرتېرو په ګومارلو، منظمه او دايمي اردو جوړه کړه او د وسلې جوړل او په تېره بيا د توپ جوړول يې پيل کړل. په پايله کې پاچاهانو د فيوډالانو پوځي قوت ته اړتيا نه لرله، په تېره بيا چې توپ کولای شي د اړتيا په صورت کې د فيوډالانو کلکې کلاګانې و ړنګوي. په دې اساس د فيوډالانو قوت د پاچاهانو په نسبت لږ شو.
څرنګه چې په اصل کې پاچاهانو له همدغې طبقې څخه وو، له هغه وروسته به اشرافو، فيوډالان دناحيو د حکمرانانو او دولتي لوړو چارواکو په توګه ټاکل. په دې توګه واک د پاچاهانو لاسته ورغی. له دغه بدلون څخه پر پاچاهانو سربېره بورژوازان هم خوښ وو، ځکه د مرکزي حکومت ټينګښت د اداری يووالي د واحد نظم او امنيت او قوانينو د مساوي پلي کېدو سبب کېده. دغه کار د سوداګرۍ او تجارت په اسانتيا او پراختيا کې چې د بورژوازانو د طبقې غوښتنه وه، اغېز کاوه. د پاچاهانو د واک ډېرېدل د دې سبب شو چې هغوی د کليسا په چارو کې هم مداخله وکړي او وتوانېدل چې تر يوه حده د پاپ واکمني هم محدوده او خپل واک ډېر کړي.

## سياسي بدلونونه او د مرکزي حکومتونو جوړېدل

د رنسانس په دوره کې مرکزي حکومتونه ګډې واکمنۍ او ملتونه ورو ورو د جوړېدلو په حال کې وو او د اوسنۍ اروپا هېڅ کوم هېواد اوسنی  حالت نه درلود.

په انګلستان کې اشرافو فیوډالانو په پارلمان کې په خپل ګډون سره د مشروطه پاچاهۍ حکومت رامنځ ته کړی و. د اوسنی فرانسې ډېرې سیمې د انګلستان پاچاهانو په واک کې وې، خو فرانسوي پاچاهان چې د فیوډالانو له ټکولو وروسته ډېر غښتلي شوی وو، ددغو سیمو د نیولو لپاره را ورانديې شول او د دغې جګړې پایله ورانې او ویجاړې وه، څکه دغه جګړې سل کاله اوږدې شوې په پای کې فرانسویان د ژاندراک (Jeandrarc) په نامه د یوی پېغلې نجلی په پاخون سره بریالي شول.

د اسپانیا په شمال کې شمالي ولایتونه چې د مسیحي پاچاهانو په لاس کې وو، په سهیل کې یې د مسلمانانو پرضد بریالیتوبونه ترلاسه کړل او وتوانېدل چې د مسلمانانو وروستی مقاومت پای ته ورسوي.

د اروپا په مرکزي او ختیځو سیمو کې یو قوی حکومت ته د رسېدلو لپاره انګلستان، فرانسه او اسپانیا د لوېدیځو سیمو په پرتله لږ په کرار په حرکت کې و. څکه د فیوډالانو اشرافو په هغوی کې ډېر واک درلود.

په آلمان (د روم سپېڅلې امپراطورۍ) کې اشرافو په رسمي توګه د امپراطور مقام منلو. په روسیه کې هم فیوډالانو ډېر واک درلود، تر دې چې د واک ته د څلورم ایوان (Ivan IV ) په رسېدلو( ۱۵۳۳ - ۱۵۸٤ م) کې وټکول شول. که څه هم چې له یوې مخې ورک نه شول، خو په روسیه کې مرکزي غښتلی حکومت جوړ شو او د ارتدوکس د مذهب پراخیتیا د روسانو د معنوي یووالي له غښتلی کېدو سره مرسته کوله. د سویلي اروپا د سیمو سیاسي اوضاع د نورو سیمو بر عکس د متمرکز قدرت په لور نه تله. د بالکان په ټاپو وزمه کې د بیزانس حکومت له هغه زیان وروسته چې له صلیبیانو څخه یې ولید، د خپل واک په بیا لاسته راوړلو بریالي نه شول او مخ په زوال شول. د عثماني ترکانو پرمختګ، صربانو او مجاریانو خپلواکۍ غوښتنې هم دغه زوال ګړندی کړ.

د ایټالیا په ټاپو وزمه کې د دغې سیمې شمالي ښارونه او بندرونه د سوداګرۍ او ښاري ژوند د ودې له لارې د ډېرو پانګو خاوندان شوي وو، خو یو مرکزي حکومت یې نه درلود.

## په اروپا کې علمي او فرهنګی رنسانس

په اروپا کې د رنسانس په زمانه په بېلابېلو برخو، لکه: فکر، هنر، علم او کسب کې له ټولنیز، اقتصادي او سیاسي بدلونونو سره په یو مهال، پراخ بدلونونه رامنځ ته شول.

د رنسانس مهمو لاملونو څخه یو هم انسان پالنه (هیومانیزم) او فرد پالنه ده. له صلیبي جګړو وروسته، له فلسفي آثارو او په ځانګړې ډول د لرغوني یونان له اړوندو آثارو سره د اروپایانو بلدتیا د دې لامل شو چې پر انسان او د انسان پر عقل ډېر باور وشي.

د رنسانس د عصر پر فلسفي او اخلاقي آثارو سربېره چې د انسان پالنې فکرونه یې رامنځ ته کړي وو، د هنر په ډګر کې هم په آسانی سره ددغو فکرونو اغېزې لېدلای شو. د رنسانس د زمانې د انځورګرۍ

او مجسمې جوړولو د ډېرو آثارو موضوع انسان و. په دغو آثارو کې چې لويو انځورګرانو، لکه: داوينچي، د انسان احساس، د انسان فکر، د انسان کړنې او همدارنګه طبيعت په کې د پام وړ وو. د رنسانس په دوره کې ادبياتو په ډګر کې هم مهم بدلونونه ښکاره شول. دانته اوپترارک (Dante – Petrark) ددغه وخت له اديبانو څخه دي.

طبيعي (تجربي) علوم هم چې مخکې هومره پام ورته نه کېده، د رنسانس په زمانه کې مينه وال پيدا کړل. اروپا ته د اسلامي علومو لېږدول په دغه کار کې مهم اغېز درلود. ددغه پېرله پوهانو څخه يوتن «راجربيکن» په علمي پېژندنه کې د تجربې پر اهميت په علمي پېژندنه ټينګار وکړ. د ويليام هاروي په نوم يو پوه د انسان په بدن کې د وينې د ګرځېدلو څرنګوالی کشف کړ.

همدا رنګه په رياضياتو، ستور پېژندنه او جغرافيه کې هم نوي فکرونه مطرح شول.کپرنيک، د ځمکې کُروي توب او له هغه څخه وروسته ګاليله د لمر پر شاوخوا د ځمکې ګرځېدل ثابت کړل.

د اختراعاتو په ډګر کې که څه هم هومره پرمختګ نه و، بيا هم مهم شيزونه اختراع شول، لکه چې د ګوتنبرګ په وسيله د چاپ د ماشين او دګاليله له خوا د تلسکوب اختراع کېدل .

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په درېو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د هيومانيزم يا انسان پالنې، دويمه ډله دې د سياسي بدلونونو او درېمه ډله دې د رنسانس د زمانې په علمي او فرهنګي بدلونونو خبرې وکړي او د ډلو يو غړی دې د خبرو پايلې نورو ته بيان کړي.

## پوښتنې

۱. د رنسانس په دوره کې په اروپا کې د ښاري ژوند د پراختيا لاملونه څه وو؟ بيان يې کړئ.

۲. په اروپا کې د رنسانس پر مهال د پاچاهانو د واک د ډېريدلو لاملونه څه وو؟

۳. د رنسانس په زمانه کې د ادبياتو او طبيعي علومو په برخه کې څه بدلونونه رامنځ ته شول؟ په لنډه توګه يې بيان کړئ.

٤. د رنسانس په دوره کې د ستور پېژندلو او جغرافيې په برخه کې څه بدلونونه رامنځ ته شول؟

٥. د اوينچي څوک ؤ؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د رنسانس د دورې د يوه عالم په اړه يوه مقاله وليکي او په ټولګي کې دې ولولي.

# جغرافيايي اکتشافات او د سمندري چلن وده

په دې لوست کې به په لنډه توګه د جغرافيايي اکتشافاتو او د سمندري چلند د ودې سره بلد شئ.

انسانانو په خپل ځو زره کلن ژوند کې، د ځمکې د ځينو برخو په اړه معلومات نه لرل او جغرافيايي پوهه يې يوازې د آسيا، اروپا او افريقا په وچوکې ايساره وه. د همدغو برخو په اړه يې هم بشپړ معلومات نه لرل، د بېلګې په توګه: سويلي نيمه کره کابو ناپېژندل شوې پاتې وه او د لوېديځې نيمايي کرې په اړه هم معلومات نه وو. په داسې حال کې چې په دغو برخو کې خلک هم اوسېدل او تمدنونه هم وو، خو دغو تمدنونو د آسيا، اروپا او افريقا نورو تمدنونو سره اړيکې نه لرلې.

چين ته د مارکوپولو سفر هم د اروپايانو له جغرافيايي پوهې سره ډېره مرسته وکړه، هغه د ايټاليا له وينيز(Veeniz) ښار څخه د آسيا لوېديځ ته او له ايران او افغانستان څخه په تېرېدلو چين ته ولاړل او شل کاله وروسته د هند د سمندر له لارې بېرته وينيز ته ولاړل. هغه لومړنی سړی و چې اروپايان يې د جاپان او آرام سمندر په اړه خبرکړل او همدارنګه يې اروپا ته د هند او ايران د سوداګريزې لارې په اړه هم معلومات ورکړل.

له صليبي جګړو مخکې د اروپايانو سمندري چلند تر ډېره د شمالي اروپا په سمندرونو کې و، خو وروسته له هغه چې صليبي جګړې سمندرونو ته اوږدې شوې، اروپايانو په کرار کرار په مديترانه کې سوداګري پيل کړه. هغوی د اروپا او اسلامي هېوادونو له بېړۍ جوړولو څخه په ګټې اخيستنې، نوې بېړۍ جوړې کړې چې تر پخوانيو بېړيو قوي او لويې وې او ډېر ګړنديتوب، قابليت او د لارښوونې تخنيکي ورتياوې يې لرلې. هغه قطب ښوونکې وسيله چې مسلمانان د چينايانو په مرسته ورسره بلد شوي وو، د اروپايانو لاسته ورغله او په دې توګه سمندري سوداګرۍ ډېر پرمختګ وکړ. د منځنيو پېړيو په وروستيو کې د سمندري سوداګرۍ له لارې د واک او پانګې د لاسته راوړلو لپاره د مديترانې د ټاپو په شاوخوا کې سيالي ورځ تر ورځې ډېرېدله او سياسي او مذهبي اختلافاتو هم دغې سيالۍ ته لمن وهله.

په(١٤٥٣ ز )کال عثماني ترکانو چې د مديترانې د شمال ختيځو سيمو ډېرې ځنډې نيولې وې، پر دې بريالي شول چې د قسطنطنيې په نيولو د بيزانس امپراطورۍ ژوند ته د پای ټکی کېږدي او د مديترانې د شمال ختيځ سوداګري هم خپله کړي. له هغو وروسته اروپايي حکومتونو د بيزانس پر ځای له عثماني دولت سره راکړه ورکړه پيل کړه، خو د اسپانيا او پرتګال حکومتونه چې له عثمانيانو سره په جګړه بوخت وو، نه شوای کولای له دغې سوداګرۍ څخه ګټه پورته کړي. نو په دې لټه کې شول چې د مديترانې د ټاپو پرځای د اطلس له سمندر څخه ګټه واخلي. هغوی فکر کاوه چې د اطلس

سمندر له لارې کولای شي هندوستان او چين ته ورسېږي او ارزښتناك توکي، لکه: درمل، عطر او وربښم لاسته راوړي .

په دغه کار د بريالیتوب په صورت کې هغوی کولای شوای په ارزانه بيه د خپلې خوښې د ځيزونو په لاسته راوړلو بريالي شي او عثماني دولت ته به د ډېرو پيسو په ورکولو اړ نه وي او په بدل کې يې کولای شول چې دغه مالونه په اروپا کې په لوړه بيه وپلوري.

په دغه فکر سره پرتګاليان په دې باور شول چې د افريقا له وچې په راتاوېدلو، د سويل له لورې ختيځ ته رسېدلای شي. هر څومره چې هغوی له نويو نقشو په ګټه اخيستلو د وچو او سيندونو په اړه معلومات لرل، خو له دې هرڅه سره يې د افــريقا پراخه وچه نه وه پيژندلې او له اروپا څــخه تر هــند پورې اوږده لاره يې تصور کړې نه وه، بل خوا پرتګاليان او اسپانويان په دغه باور وو چې د اطلس سمندر چې د اروپا په لوېديځ کې دی، د آرام له سمندر سره چې د چين په ختيځ کـــې پروت دی، نښتی دی او کـــولای شي د اطلس په سمندر کې د لوېديځ په لور حرکت سره د آسيا ختيځ ته ورسېږي.




د جغرافيايي اکتشافاتو مسير

## پرتګالیانو د ختیځ په لور سمندري لاره څرنګه پیدا کړه ؟

د پنځلسمې میلادي پیړۍ له نیمایی راهیسې پرتګالیانو د افریقا د غربي سیمو له لارې د سویل په لور سمندري سفرونه پیل کړل. په هماغه حالت کې یې د غلامانو او عاج سوداګري پیل کړه. د هغوی د فکر پر خلاف د افریقا سویلي برخه ډېره لرې وه. په (۱٤۸۷) زېږدیز کال (بارتولو مودیاز) د افریقا له سویلي سیمې څخه چې (دماغه امید) نومېدله، تېر شي او په ختیځ کې د هند سمندر ته ورسېږي. دغه کشف ډېر مهم و . له هغه وروسته (واسکو دوګاما) پرتګالي سمندر ګرځېدونکی وتوانید د هند په ټول سمندر کې وګرځي او د هند، اندونیزیا او خلیج فارس لاره پیدا کړي.

د اطلس له سمندر څخه د هند سمندر ته د لارې په پیدا کولو، پرتګالیانو ځانونه په چټکۍ د آسیا سویلي او ختیځو سیمو ته ورسول او همدا راز اسپانویانو هند ته د رسېدلو په موخه د اطلس سمندر د لوېدیځ په لور حرکت وکړ او په پایله کې یو نوي هېواد ته ورسېدل چې راتلونکي لوست کې به په تفصیل پرې خبـــرې وشي.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکی دې په ډلو ووېشل شي او د لاندې مطلب په اړه دې سره خبرې وکړي.

((په جغرافیايي کشفیاتو کې د مسلمانانو ونډه))

### پوښتنې

۱. اروپایانو ته د جغرافیايي اکتشافاتو زمینه څرنګه برابره شوه ؟

۲. پرتګالیانو د ختیځ په لور خپل سمندري سفرونه څرنګه پیل کړل؟ په لنډه توګه یې بیان کړئ.

۳. جغرافیايي اکتشافاتو څه لاسته راوړنې لرلې؟

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې چین ته د مارکوپولو د سفر په اړه یو مطلب برابر کړي چې له دوو مخونو څخه لړنه وي.

# دويم څپرکی

## د اروپا د نويو او اوسنيو پېړيو تاريخ

په دې څپرکي کې به د امريکا د کشف او د هغو له پايلو، د فرانسې لوی انقلاب، صهيونيزم، په نړۍ کې د آزادۍ غوښتونکو ملي غورځنګونو، د اسلامي هېوادونو د سازمـــان او سرې مـــياشتې د رامنځ ته کېدلو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.



# د څپرکي موخې

هیله کېږي د څپرکي په پای کې زده کوونکی لاندې موخوته ورسېږي.

- د امریکا کشف او د هغو پایلې، د فرانسې د لوی انقلاب د رامنځ ته کېدلو لاملونه او دهغو پایلې
- په نړۍ کې به د صهیونیزم پیداکېدلو، د آزادۍ غوښتونکو غورځنګونو رامنځ ته کېدلو، د اسلامي هېوادونو د سازمان او سرې میاشتې د منځ ته راتګ په اړه معلومات ترلاسه کړي.
- پورتني مطالب به بیان، تحلیل او وارزوي او همدارنګه مهمې پېښې، لکه: د فرانسې لوی انقلاب، جغرافیایي اکتشافات او ...به یو له بله جلا کړي.
- په نړۍ کې به د پېښو له رامنځ ته کېدو څخه پند او عبرت واخلي.

# د امریکا کشف او د هغې پایلې

په دې لوست کې به د امریکا د کشف یا پیدا کېدو له څرنګوالي او دا چې ولې دغه وچه امریکا ونومول شوه، همدا راز دغې وچې ته د اروپایانو د مهاجرت انګېزه او د هغو د پایلو په اړه به لنډ مطالب ولولو.

هغه مهال چې پرتګالیان د افریقا پر شاوخوا راتاوېدلو سره د ختیځ پر لور په حرکت کې وو، اسپانوي سمندر ګرځېدونکي د کریستف کلمب په مشرۍ له څو بېړیو سره هندوستان ته د رسېدلو په موخه د اطلس سمندر د لوېدیځ په لور خپل سفر پیل کړ. هغوی د سیند پر لاره بلد نه وو او بلخوا د لېږې پرتو سیمو له اقلیم سره هم نابلد وو. په پایله کې ځینې بېړۍ ډوبې شوې، د خوراکي توکو کمښت هم هغوی ناروغ کړل او ځینې مړه شول . په پای کې کریستف کلمب او ملګري یې په وچه او لمده کې له میاشتو میاشتو لالهاندۍ او ستونزو ګاللو وروسته په ۱۴۹۲ ز کال ټاپوګانو ته ورسېدل. کریستف کلمب په دې ګومان چې د هندوستان کوم ټاپو ته رسېدلی دی، د هغه ځای اصیل سره پوستي یې هندیان و نومول.

هغه اسپانیا ته وګرځېد او دویم ځل له لومړني سفر له تجربو په ګټه اخیستلوسره، وتوانېد چې په آسانۍ نویو سیمو ته ورسېږي او همدا رنګه یې فکر کاوه چې هندوستان ته رسېدلی دی. هغه د ژوند ترپایه په خپله تېروتنه کې پاتې شو.

نورو سمندرګرځېدونکو هم له کرستف کلمب څخه وروسته دغه کارته راوړاندې شول او اکتشافات یې وکړل او تر ډېره وخته نه پوهېدل چې نوې وچې ته رسېدلي دي، ترهغه چې یو سمندرګرځېدونکی چې امریکووسپوچي نومیده پوه شو چې دغه هېواد هند نه، بلکې نوې وچه ده او دغه لویه وچه یې د هغه په نــوم (امریکا) ونوموله.

انګلیسي او فرانسوي سمندر ګرځېدونکي د امریکا شمالي سیمې کشف یا پیدا کړې چې اوس کاناډا او د امریکا متحدایالتونه دي. یوتن انګلیسي سمندر ګرځېدونکي آسترالیا کشف کړه. په دې ترتیب ډېرې سیمې او ټاپوګان په تدریج سره کشف شول او ورو، ورو د ځمکې نقشه تر پخوا زیاته وپېژندل شوه، انسانانو ته لویې وچې، سیندونه او د هغو جغرافیایي بریدونه معلوم شول او په کرار، کرار د ځمکې اوسنی نقشه وپېژندل شوه.

هغه سیمې چې پرتګالیان، اسپانویان او نور ورغلي وو، له خلکو تشې نه وې، خو څرنګه چې اروپایانو هغه سیمې نه پېژندلې، فکــر یې کاوه چې دغه سیـمې مخکې کشف شــوې دي. د بېلګې په توګه:

په امریکا کې د سوریوستکیو تمدن موجود و . په هر حال اروپایانو به د جنګي بېړیو او توپونو په کار اخیستلو، ډېر بومي یا د امریکا اصیل خلک مړه او چورتالانول. اسپانویان د امریکا د پانګې ترلاسه کولو په تمه د پوځي لښکرو په لېږلو د سوریوستو په وژلو پیل وکړ او د آزتکانو او اینکانو تمدن یې له منځه یووړ. استعمار چې هر ځای ته ولاړ ډېر زیانونه یې واړول.

له هغه وروسته د اروپا لویو دولتونو د نوې نړۍ (امریکا) په لور مهاجرت پیل کړ. هغوی د خپلو پانګو د ډېرېښت په نیت د امریکا ډېرې سیمې ونیولې. اسپانویانو او پرتګالیانو د امریکا مرکزي او سویلي سیمو ته په ننوتلو زور زیاتی وکړ، هغوی یې د ځان تابع کړل او د بومي خلکو ټول د سرو او سپینو زرو زېرمې یې ونیولې. ځمکې یې په خپلو کې ووېشلې او هغوی یې د مریانو په توګه په کار کولو اړ ایستل او آن چې ډېر امریکایي بومیان به په معدنونو کې د کار د سختوالي له امله مړه کېدل.

وروسته د انګلستان او فرانسې په شان نور هېوادونه د امریکا د پانګو او سرچینو د ترلاسه کولو لپاره شمالي امریکا ته لاړل. امریکا ته د سپین پوستو له مهاجرت سره جوخت د افریقا ځینې تور پوستي هم د معدنونو او د کرنې د کارونو لپاره امریکا ته ولېږل شول او د بومي سور پوستو او واکمنو سپین پوستو ترڅنګ د غریبو او وروسته پاتې لړه کیو په توګه د استعمار په زمانه کې، امریکا کې پاتې شول.

د نوې نړۍ (امریکا) د پیدا کېدو په پایله کې اروپا ته ډېر سره اوسپین زر، کرنیز او صنعتي محصولات صادر شول. د سیند د تګ راتګ لارو بدلون وموند، د نړۍ په اړه د نړیوالو معلومات څو چنده زیات شو. اروپایي تمدن امریکا ته لاړ او هلته یې ډېر پرمختګ وکړ، اروپایانو پراخې سیمې ونیولې. بلخوا مهاجرتونه د اروپا د لویو ځواکونو ترمنځ د جګړو لامل شو. پر اشغال شویو سیمو د اروپا د لویو جګړو له امله د امریکا د خلکو د خپلواکۍ اخیستلو لپاره هم لاره اواره شوه.

## پوښتنې

۱. د امریکا د کشف یا پیدا کېدلو پړاوونه بیان کړئ؟

۲. د امریکا لومړنیو کاشفانو د امریکا په اړه څه فکر کاوه ؟

۳. اروپایان د څه لپاره امریکا ته ولاړل.

٤. د امریکا کشف اروپایانو او امریکایانو ته څه پایلې لرلې، بیان یې کړئ؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د کریستف کلمب په اړه یو مطلب برابر کړي او په ټولګي کې دې ولولي.

# د فرانسې لوی انقلاب

په دې لوست کې به په لنډه توګه په فرانسه کې د سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او د فرهنګي لویو پېښو د رامنځ ته کېدلو له امله چې نړۍ ته یې لوی بدلون او نوښت راوست او په تاریخ کې د فرانسې د لوی انقلاب په نامه یادېږي، بلد شئ.

**د فرانسې ټولنه د انقلاب په درشل کې له درېو طبقو جوړه شوې وه.**

**۱- لوړه او معتبره طبقه** : چې په دې طبقه کې اشراف، درباري، نجیب خلک او جګپوړي روحانیون وو. سره له دې چې دوی لږ وو، د پانګې او واک ټولې سرچینې د دوی په لاس کې وې او پراخې ځمکې او لوی، لوی دولتي منصونه د هغوی په واک کې وو او له ډول ډول امتیازاتو څخه لکه مالیاتي معافیت، برخمن وو.

**۲- منځنۍ طبقه**: چې ډېر یې ښارمېشتي خلک وو، دوی سوداګري، وکالت، لیکوالي او صنعت کار وو. روڼ آندي او لوستي کسان وو چې له نویو افکارو سره بلدوو، خو واکمن اشرافیت یعني هماغې معتبرې ټولنې هغوی ته د هېواد په سیاسي ادارو کې ونډه نه ورکوله او مالیاتي او ګمرکي محدودیتونه د هغوی د آزاد اقتصادي فعالیت خنډ کېدل. له همدې امله د منځنۍ طبقې خلک د استبدادي سلطنت له نظام څخه ناخوښې وو او د سیاسي آزادۍ او د ټولنیزو مساوي حقونو غوښتونکي وو.

**۳- ټیټه طبقه**: په دې طبقه کې غریب بزګران او د صنعت کارګران وو. دوی چې د فرانسې د ټولنې ډېره برخه یې جوړوله، د کار او تولید اصلي قوت ګڼل کېدل، خو په دغه حالت کې هم تر ټولو بې وزلې وو، چې په بېسوادۍ او لوږه کې یې ژوند کاوه او ډېر درانه مالیات یې هم ورکول .

د فرانسې د لوی انقلاب عوامل د څوارلسم لویي زماني ته ورګرځي. که څه هم چې فرانسه د څوارلسم لویي په زمانه کې چې نژدې اویا کاله یې حکومت وکړ، لوی قدرت و، خو د حکومت په وروستیو کلونو کې یې قوت په چټکۍ مخ په کمېدلو و، ځکه له انګلستان سره د دوو پېړیو (۱۷او ۱۸) جګړو، فرانسه له ماتې سره مخ کړه. د پاچاه او د درباریانو، لګښتونو او تجملاتو او د امریکا په استقلال غوښتونکې مبارزه کې د فرانسې مداخلې، د خزانې د تشېدو سبب شول. په دې

مهال د مالیاتو ډېرېدل، تېری او ظلم، د ټولنیزو طبقو ترمنځ توپیرونه، اقتصادي کړکېچ او تر دغو ټولو په اروپا کې د مونتسکیو، ولتېر، ژان ژاك روسو او ... په شان پوهانو راڅرګندېدل چې د خلکو ذهنونه یې روښانول، پرګنو د پاڅونونو لامل شول او د ټولنې ډېرو خلکو ته د شپاړسم لویي بې کفایتي څرګنده شوه. په پای کې د خلکو د قهر او کرکې د اور لمبې په(۱۷۸۹ز) کال د فرانسې د لوی انقلاب په بڼه پورته شوې.

د انقلاب په لومړیو ورځوکې، د فرانسې ډېرو سیاسي ګوندونو په خپلو کې مبارزه کوله چې تر ټولو مهم یې په لاندې توګه وو:

**۱- سلطنت غوښتونکي**: دغه ګوند هڅه کوله چې شپاړسم لویي همداسې د یوه مستبد او د مطلق پاچا په توګه وساتي.

**۲- منځلاري**: چې د دوی موخه د انګلستان په څېر د مشروطه سلطنت ټینګـــول او د اساسي قانون جـــوړول و.

**۳- اعتدالي**: جمهوریت غوښتونکي (ژیروندنیان)چې د جمـــهوري حکـــومت غـــوښتونکـــي او د مطلقې پاچاهۍ پر ضد وو.

**۴- تند لاري جمهوریت غوښتونکي (ژاکوبنیان)**

په پای کې د دربېمې یا ټیټې طبقې خلك سره راټول شول او ددې پر ځای چې د پورتنیو طبقاتو له استازیو سره یو ځای شي، په خپله یې غونډه جوړه او هغه یې ملي غونډه وبلله او ژمنه یې وکړه چې ترڅو فرانسې ته اساسي قانون جوړ نه کړي، خپاره به نه شي.

دوی داسې وانګېر له چې پاچا غواړي د دوی دغه غونډه له منځه یوسي، نو له دې کبله یې په شور او غوغا لاس پورې کړ، د جنـــوري په څوارلسمه یې د باستیل پر زندان یرغل وکړ او زندانیان یې آزاد کړل. د فرانسویانو آزادي غوښتونکې مبارزې، شپاړسم لویي تسلیمېدلو ته اړویست او د دې سبب شو چې پاخون کوونکي په (۱۷۸۹ ز) کال مشروطه سلطنتي نظام جوړ کړي، خو د پخواني رژیم د بیا راګرځولو لپاره د شپاړسم لویي هڅو، پاخون کوونکي اړ کړل چې څو کاله وروسته د سلطنتي نظام د رنګولو تر څنګ، په (۱۷۹۲ز) کال جمهوري نظام جوړ کړي. دغه مهال شپاړسم لویي او مېرمنې

يې (ماري انتوانت) له فرانسې څخه د تېښتې هڅه وکړه، خو پر دغه کار بريالي نه شول، ونيول شول او اعدام شول.

د شاهي رژيم زوال او د جمهوري نظام ټينګېدل د فرانسې د عامو خلکو په ژوند کـــې بدلون راوست، څکه د بشري حقوق اعلاميه تصويب شوه؛ حقوق، فيوډالي امتيازات او د مالياتو له ورکولو څخه د اشرافو او روحانيونو خلاصون او د اشرافيت عناوين او القاب يې له منځه يوړل، د کليسا مالونه ضبط او د دولت تر واک لاندې راغلل.

د فرانسې د لوی انقلاب اغېزې نه يوازې په فرانسه کې، بلکې په زياتو اروپايي هېوادونو کې لېدل کېدې، يعنې دا چې جمهوريت غوښتونکي افکار په ټوله اروپا کې خپاره شول او له هغو سره د بشري حقونو اصول هم اعلان شول او په خلکو کې يې ځای پيدا کاوه . له همدې امله دغه انقلاب ته د فرانسې لوی انقلاب وايي.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، لومړۍ ډله دې د فرانسې د انقلاب د لاملونو او دويمه ډله دې د فرانسې د لوی انقلاب د پايلو په اړه په خپلو کې بحث وکړي او پايله دې د ډلې يو استازی نورو ته بيان کړي.

## پوښتنې

۱. د فرانسې لوی انقلاب ولې او څرنګه رامنځ ته شو؟

۲. په فرانسه کې ملي غونډه څرنګه رامنځ ته شوه ؟

۳. د فرانسې انقلاب ته ولې لوی انقلاب وايي؟

٤. هغو ګوندونو او ډلو چې د فرانسې د انقلاب په مهال په خپلو کې مبارزه کوله کوم وو، نومونه يې واخلئ؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د جمهوريت او شاهي نظام توپيرونه په يوه چارټ کې ترتيب او په ټولګي کې دې پرې خبرې وکړي.

# صهیونیزم

په دې لوست کې به په لنډه توګه زده کړئ چې صهیونیزم څه ته وايي، څرنګه رامنځ ته شو، د اسراييلو دولت څرنګه او چېرته جوړ شو او ولې ترننه پورې د فلسطينيانو او اسرائيلو ترمنځ لانجه روانه ده ؟

صهیونیزم یو یهودي غورځنګ دی چې د یو مستقل یهودي حکومت د جوړېدلو په موخه رامنځ ته شو، ترڅو چې د نړۍ ټول یهودیان چې تیت او پرک د نړۍ په مختلفو سیمو کې پراته وو، په فلسطین کې راټول او یو واحد حکومت جوړکړي. ددغه غورځنګ نوم د صهیون له غره څخه چې د داوود (ع) مقبره او په اورشیلم کې ده اخیستل شوی دی.

## د اسراييلو دولت څرنګه رامنځ ته شو؟

یهودیان د اسلام له پیله تر اوسه بېلې ځانګړتیاوې لري چې په نورو ادیانو کې په دومره شدت سره نه لیدل کېږي. ملیت پالنه د هغوی له مهمو ځانګړتیاوو څخه ده . په دې معنا چې یهود خپل قوم تر نورو قومونو غوره او خپل نژاد تر نورو نژادونو اوچت بولي. دویم داچې یهودیان له مال او پانګې سره ډېره مینه لري. پردغه بنسټ د هغوی ترمنځ سودخوړل، پانګه ټولول، رشوت اخیستل، له حده ډېر دود دی او د مال او پانګې د راټولو لپاره هرې وسیلې ته لاس اچوي.

مهاجرت او په ګوښه کې ژوند یهودیان دېته اړکړل چې سره راټول شي. ددغې موخې لپاره په دې اړه ډول، ډول نظریات مطرح شول، ترڅو چې یوتن مشهور یهودي لیکوال (تئودوهرتزل) په (۱۸۹۵ ز) کال ( د یهودو دولت ) په نامه کتاب کې خپل نظریات مطرح کړل چې په لړه موده کې د یهودي دولت د جوړېدلو په اړه د هغه نظریات د یهودو له خوا ومنل شول او د یهودي دولت د جوړولو په فکر کې شول.

په دې اساس له (۱۸۸۵ ز) کال تر(۱۹۰۱ ز) کال پورې اروپايي یهودیانو د یهودیانو د غونډې (کنګرې) لپاره د لومړني تدابیر پیل کړل او وتوانېدل چې د سویس د بال په ښارکې د نړۍ د صهیونیزم لومړنی غونډه(کنګره) جوړه کړي چې د صهیونیزم اصلي بنسټ په همدغه غونډه کې کېښودل شو او صهیونستان په دې بریالي شول ترڅو خپلې موخې او کاري پلانونه د رائیو په اتفاق سره تصویب کړي.

په (۱۹۱۷ ز) کال کې انګلستان د بالفور د اعلامیې په ترڅ کې دصهیونیستانو په فکر په فلسطین کې د یو یهودي دولت په جوړیدو هوکړه اعلان کړه. له هغو وروسته یهودیانو د انګلستان د اشرافو په مرسته په فلسطین کې د ځمکو پېرودل پیل کړل او د مانچستر پوهنتون د کیمیا استاد (ډاکټر وایزمن) د اروپا د یهودیانو د کمېټې د منشي په توګه وټاکل شو چې د هغه په کارونو سره د دغه ګوند سیاسي چارې اداره کېدلې.

په ۱۹۲۰ زیږدیز کال کې وروسته له هغه چې د ملګرو ملتونو ټولنې د فلسطین قیمومیت انګلستان ته ورکړ فلسطین ته د یهودیانو د پراخ مهاجرت لاره پرانیستل شوه او ډلې ډلې یهـــودیانو فلسطین ته




مهاجـــرت پیل کړ چې دغه کار د مسلمانو عربو د نیوکې سبب شو. په(۱۹۲۱ ز) کال د یهودو پرضد نیوکې او پاڅونونه ډېر شول، خو چرچیل د انګلیس د مستعمراتو وزیر چې دغـه وضعه ولیده، اعلامیه یې خپـره کړه او په ډاګه یـې کـړه چې د انګلیس دولت هوډ نه لري د فلسطین ټوله ځمکه د یهودي دولت خاوره وګرځوي، بلکې مهـــاجرت به د فلسطین د اقتصادي امکاناتو تراجازې ورکولو وځارل شي، خو د هرې ورځې په تېرېدو د یهودیانو د مهاجرت د لړۍ په پراخیدلو په(۱۹۳۰ز) کال دغه ستونزه نوره هم لویه شوه، ځکه په المان کې واک ته د هتلر رسېدل د دې سبب شو چې د اروپایي یهودیانو لویې ډلې فلسطین ته کډه وکړي چې دغه کار د انګلیس او مسلمانانو د اړیکو د خرپړ کېدلو سبب شو، په دې اساس انګلیس اړشو چې له فلسطین څخه ووځي او د فلسطین موضوع د ملګروملتونو ټولنې ته پرېږدي. په (۱۹٤۷ ز) کال د ملګـــرومـلـتونو سازمان سپارښتنه وکـــړه چې فلسطـــین دې په دوو برخو (عربي او یهودي) وویشل شي، چې په دې ترتیب یهودیان پر لوېدیځ فلسطین واکمن شول او داسراییلو جمهوریت یې هلته جوړ کړ.

د اسراییلو د دولت له جوړېدو وروسته د عربو او اسراییلو ترمنځ جګړې اور واخیست، خو د اردن د ځینو پوځي مشرانو د خیانت له وجې، دغه جګړه د عربو په ماتې پای ته ورسېده. په (۱۹۵٦ ز) کال د مصر د جمهور رییس جمال عبدالناصر په وسیله د مصر د کانال په ملي کولو، فرانسې او انګلیس پر مصر یرغل وکړ. اسراییلو هم دغه وخت غنیمت وګاڼه او ځانونه یې د سویس کانال ختیځو څنډو ته ورسول، خو د مصر کلکه دفاع د مصر د بریالیتوب سبب شوه.

د (۱۹٦۷ ز) کال په شپږ ورځنۍ جګړه کې چې د مسلمانانو او اسراییلو تر منځ وشوه له اسراییلو څخه د امریکا د ملاتړ له امله، مصر، سوریې او اردن ماتې وکړه او اسراییلیانو له مصر څخه د سینا دښته او له اردن څخه د اردن سیند لوېدیځه غاړه ونیول، خو له دغه بهیر وروسته په (۱۹۷۳ ز) کال د انور سادات د جمهوري ریاست پر مهال د اسراییلو او مصر ترمنځ جګړه ونښته. په دغه جګړه کې سره له دې چې سادات د سینا د دښتې لږه برخه بېرته ونیوله، پټ جوړ جاړی (سازش) یې وکړ او په (۱۹۷۷ ز) کال اسراییلو ته لاړ او د امریکا د دیوید په کمپ کې یې د امریکا د جمهور رییس جیمي کارټر په منځګړتوب له اسراییلو سره سوله وکړه او په بدل کې یې د سینا دښته بېرته د خپلې اصلي خاوند (مصر) سره یو ځای شوه. په (۱۹۷۹ز) کې د انور سادات له وژنې وروسته د فلسطین د آزادۍ غوښتونکي سازمان رییس، یاسرعرفات او د اردن پاچا ملک حسین په هڅونه د جوړجاړي (سازش) بهیر ته را وسټل شو او د اسلو په کنفرانس کې (۱۹۹۳ ز) د اسراییلو د شتون د منلو ترڅنګ یې د غزې ترانګه او د اردن سیند لوېدیځه څنډه د فلسطین د خپلواک حکومت د سیمې په نامه لاسته راوړه. عرفات د فلسطین د پلازمېنې په توګه د قدس د بېرته اخیستلو غوښتونکی هم و، خو اسراییلو تر اوسه دغه غوښتنه نه ده منلې. له اسراییلو سره د عرفات له توافقاتو سره سره د اسراییلو پر ضد د فلسطین د خلکو پاڅونونه دوام لري.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او د صهیونیزم او د اسراییلو د دولت د جوړېدلو په اړه دې په خپلو کې خبرې وکړي او پایله دې د هرې ډلې استازی په ټولګي کې بیان کړي.

## پوښتنې

۱. د صهیونیزم کلمه څه ته وایي او څرنګه رامنځ ته شوه؟ توضیح یې کړئ.
۲. د اسراییلو د دولت د جوړېدلو عوامل څه وو؟ توضیح یې کړئ.
۳. فلسطین ته د یهودیانو مهاجرت څرنګه پیل شو؟ تشریح یې کړئ.
٤. یهودیانو ولې خپل دولت اسراییل اعلان کړ؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د یهودیانو د تاریخ په اړه یوه لنډه مقاله ولیکي او په ټولګي کې دې ولولي.

# آزادي غوښتونکي غورځنګونه

په دې لوست کې به په لنډه توګه پوه شئ چې په اروپا کې آزادي غوښتونکي غورځنګونه څنګه پیدا شول؟ اروپا یې سیاستوال څنګه د سولې او امنیت غوښتونکي شول؟ دغه امنیت نه یوازې د جګړې پروړاندې، بلکې د حکومت لپاره ترڅو وکولای شي د ټولنې موجود حال د هغوکسانو پروړاندې چې بیایې د ټولنې د ملکیت وېشل غوښتل او یایې غوښتل چې د ټولنې پر معتبروکسانو یرغل وکړي، ټینګ او ثابت وساتي.

## د اروپا د امنیت لپاره هڅې

که څه هم د فرانسې د لوی انقلاب په رامنځ ته کېدو سره د ټولنې د معتبرو کسانو او پانګوالو طبقاتو امتیازات له منځه لاړل، خو بیا هم ځینې امتیازات پر خپل حال وو. اروپايي ټولنه لاهم ارستوکراته ټولنه وه.

په فرانسه کې د فیوډالیزم نښې له منځه لاړې، خو له فرانسې څخه بهر که څه هم د « سرف » سیستم په ډېرو هېوادونو کې پای ته رسېدلی و، خو لاهم ارستوکراټانو له بزګرانو څخه ډېرې ځمکې لاسته راوړلې او په مزو چرچو او تنبلی کې یې ژوند کاوه. پانګواله طبقه له ځانګړو سیاسي حقونو څخه برخمن وو او د سیاست تګلاره یې د ټولنې د ټیټو طبقو حقونو ته له پام کولو پرته ټاکله. د دولت پر پوځي چارو، کلیسا او اداري چارو کې لوړ منصبونه عملاً د ارستوکراټانو په لاس کې وو. د محکمو لګښتونه، پرله پسې معاشونه او ... لاهم د دولت د بودجې پر اوږو بار وو، دغه بودجه له مالیات ورکوونکو څخه لاسته راتله.

د انقلاب پروړاندې د برحال نظام د نظم او امنیت ساتل د سیاستوالو لومړنۍ هڅه وه او دغه کار باید د سلاطینو د واک په غښتلي کولو شوی وای او د واک د بدلون د هر ډول غوښتنې پرضد دربېدل. ځکه د یوې غوښتنې په منلو پسې نورې غوښتنې هم مطرح وې. د اطریش د صدراعظم میترنیخ او د اروپا د نورو لویو سیاست پوهانو په فکر اساسي قانون د پام وړ مفهوم و، خو محافظه کارانو دعوا کوله چې د هغې معنا یو ډول نه وه او هغه منصب غوښتنې چې پرون ترلاسه کېدلې، سبابه هم ترلاسه شي.

په ۱۸ مه پېړۍ کې په اروپا کې د دین اغېز کمزوری شو. د روحانیونو امتیازات او د کلیسا پانګې لړې شوې. د فرانسې انقلاب دغه زیان ته نورهم زور ورکړ، تردې چې په فرانسه کې د کاتولیکانو کلیسا د ارتدوکس کلیسا پرضد راولاړ شوه. ناپلیون هڅه وکړه دغه حالت تنظیم کړي، خو له پاپ سره د ده له کړکیچ وروسته هغه کار بیاګډوډ شو او کلیسا ونه توانېدله چې د زړه له کومې د هغه رژیم ومني.

د ناپلیون ناکامي د ډېرو خلکو په فکر د دین بریالیتوب وګڼل شو او دغه باور قوي شو چې د دین او حکـومت (تخت او محراب) یوکېدل به د نظم د ټینګښت سبب شي. میتر نیخ عقیده لرله چې لوی پاچاهان سره یو شي او ثابته کړي چې د دوی یووالی ډېرګټور دی او دغه یووالی به د اروپا سوله رامنځ ته کړي. د پاچاهانو یووالی یو اساسي سیاست دی چې باید له مطلق زوال څخه د ټولنې د ساتلو لپاره ونیول شي.

## د فرانسې پرضد یووالی څرنګه رامنځ ته شو؟

لویو دولتونو پرېکړه وکړه چې د لزوم پر مهال د اروپا د سولې او امنیت د رامنځ ته کولو لپاره په یو فکر راپاڅي، خو د دغه کار د حدودو لپاره یې بیا مختلف نظریات لرل. د انګلیس دولت نظر داو چې لویه قوه دې د فرانسې د یرغل پروړاندې د یوې لویې پوځي قوې پرضد وجنګیږي او د ویانا د کنګرې وېش دې په دې وسیله تضمین شي، خو په دې اړه د دولتونو دندې په اخلاقي ضمانت ولاړې وې نه الزامي ضمانت. د انګلیس دولت حاضرو د فرانسې د احتمالي یرغل پروړاندې خپلې دندې عملي کړي، خو هېڅکله یې نه غوښتل چې د نړۍ وال حکومت لپاره په اتحادیه کې شامل شي.

فرانسس (د اطریش امپراطور)، لومړی الکذاندر (د روسیې امپراطور)، د پروس پاچا (آلمان) او میترنیخ په بل فکر وو. د هغه په فکر په اروپا کې هره انقلابي هڅه د موجود نظام په وړاندې ګواښ و او باید له منځه وړل کېدای او ځمنه یې وکړه، هر کله چې د کوم هېواد د حکمران (مشر) پر وړاندې انقلاب وشي، دوی باید د هغې سره مرسته او ملاتړ وکړي، ترڅو نظم بېرته اعاده شي. د اتحاد دغه فکر(د هغوی باور) یې رامنځ ته کړ، د دغې پیوستون د غړیو دولتونو پاچاهانو پرېکړه وکړه چې په عدالت حکومت وکړي او د اړودوړ پر مهال یو له بل سره مرسته وکړي. تر یو وخته د دغه سپېڅلې پیوستون مادې پلې کېدلې، خو د (۱۸۱۵- ۱۸۳۱) کلونو ترمنځ چې په ایټالیا، جرمني، اسپانیا او پولنډ کې اړودوړ او انقلابونه رامنځ ته شول د غړیو هېوادونو د کورنیو امنیتي پوځونو په وسیله وټکول شول. د پیوستو (اتحادي) قوه د نظم د ټینګښت لپاره وه، خو دغه بهیر دوام ونه کړ. لومړی د هر دولت ګټې څرګندې شوې، د وخت په تېرېدو، نه یوازې انګلیس او فرانسه، بلکې په بالکان کې اطریش او فرانسې له اړودوړ څخه ملاتړ د ملت په ګټه باله، په دویم ګام کې په ایټالیا او جرمني کې انقلابي

روحیه دومره غښتلې شوه چې ایل(تابع) کول یې ناشوني وو. همدا رنګه په ویانا کې سیاست پوهانو ونه کړای شول چې د اروپا د راتلونکو انکشافاتو په اړه وړاندوینه وکـــړي. په دې ترتیب د میترنیخ سیستم ړنـولــو ته د مــنلو وړ شو.

دغــه مهال لــویو هـــېوادونو غــوښتل چې تر وسې وسې د ملــیت غوښتنې او آزادۍ غوښتنې احـساس پرشا وتنبوي . هغه مهال سیاست پوهان په دې بریالي شول چې څلور کاله په اروپا کې سوله ټینګه وي.

د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې د انګلیس دیارلسګونو مستعمراتو په شمالي امریکا کې له لویې برتانیې سره خپلې اړیکې وشلولې او د امریکا د متحدو دولتونو په نامه راښکاره شول. دغه مهال د شمالي امریکا سهیلي برخې، له برازیل پرته ټوله سهیلي امریکا د اسپانیا تر ولکې لاندې راغلل. د دغو مستعمره هېوادونو خلك د آزادۍ په هیله وو چې پر اسپانیا د ناپلیون بناپارت په یرغل، ددغه هېواد ډېرو مستعمرو خپله آزادي وغوښتله. ونیزویلا لومړنی مستعمره هېواد و چې له اسپانیا سره یې خپلې اړیکې وشلولې او خپل استقلال یې اعلان کړ. په همدغه حال کې برازیل چې د پرتګال مسعمره و، مقاومت پیل کړ او په هغو پسې په مکسیکو کې د آزادۍ غوښتنې غورځنګ پورته شو او هلته جمهوري نظام اعلان شو. وروسته د فرانسې ایټالیا او نورو استعماري هېوادونو په مستعمرو کې انقلابي او آزادي غوښتونکي غورځنګونه رامنځ ته شول او یو پر بل پسې مستقل او آزاد شول.

له دویمې نړیوالې جـګړې وروسته (۱۳۱۸ – ۱۳۲٤ هـ . ش / ۱۹۳۹ – ۱۹٤۵ م) نـــړۍ په خـــتیځ بلاك (سوسیالیزم) او غربي بلاك (پانګوالی) ووېشل شوه. د هغو تر څنګ د هغو هېوادونو ترمنځ چې له دغو دوو بلاکونو سره نه وو.د ناپیلتوب غورځنګ رامنځ ته شو. له هغې څخه هم یو افغانستان و. په هر حال د دغو غورځنګونو لویه محتوی د استعماري هـېوادونو پر وړاندې د ملـــي خپلواکۍ ټینګښت، د سیاسي خپلواکۍ ترلاسه کول او وروسته پاتې توب له منځه وړل وو.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په درېو ډلو ووېشل شي او د لاندې مطالبو په اړه دې بحث وکړي.

۱- استعمار

۲- استثمار

۳- مستعمره

## پوښتنې

۱. په اروپا کې آزادي بښونکي غورځنګونه ولې او څرنګه رامنځ ته شول؟ توضيح يې کړئ.

۲. ميترنيخ څوک و او په اروپا کې يې د سولې او امنيت د رامنځ ته کولو لپاره څرنګه باور لرلو؟واضيح يې کړئ

۳. په امريکا کې آزادي بښونکي غورځنګونه څه مهال او څه ډول رامنځ ته شول؟

٤. له دويمې نړيوالې جګړې، نړۍ په څو بلاکونو ووېشل شوه؟ نمونه يې واخلئ.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې په اروپا کې د آزادي بښونکو غورځنګونو عوامل او پايلې فهرست کړي او په راتلونکي لوست کې دې په خپلو کې بحث وکړي.

# د اسلامي هېوادونو سازمان او سره میاشت

د وخت په تېرېدو په نړۍ کې ډېر سیاسي، پوځي، اقتصادي، ټولنیز، مدني، فرهنګي او عقیدتي سازمانونه جوړ شول. په دغه لوست کې به په لنډه توګه د اسلامي هېوادونو سازمان او همدارنګه د سره صلیب او سرې میاشتې د مدني سازمان د دندو او د رامنځ ته کېدلو په څرنګوالي پوه شئ.

## د اسلامي هېوادونو سازمان څنګه منځته راغی؟

د اسلامي هېوادونو سازمان هغه سازمان دی چې په دیني، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې د اسلامي هېوادونو ترمنځ د پیوستون، یووالي او مرستې د رامنځ ته کولو په موخه او همدا راز د نژادي توکم پالنې او استعمار د له منځه وړلو او د فلسطین د مستقیل هېواد د جوړېدلو په موخه رامنځ ته شوی دی.

دغه سازمان چې د اسلامي هېوادونو د غونډې پر بنسټ جوړ شوی په (۱۳۴۱ هـ .ش) کال د نړۍ د اسلامي هېوادونو د اتحادیې جوړولو لپاره د سعودي عربستان د مکې معظمې په ښار کې د وقت د پاچا ملك فیصل په وسیله مطرح شو او په (۱۳۴۵ هـ.ش) کال کې یې په جده کې لومړنۍ غونډه جوړه شوه.

د دغه سازمان اوچته اداره د هېوادونو د مشرانو غونډه ده چې په نامنظمه توګه په (۱۳۴۸ هـ . ش) کې په (رباط والمغرب) کې په (۱۳۵۳ هـ . ش) کال د (پاکستان په لاهور کې)، په (۱۳۶۰ هـ . ش) کال د سعودي عربستان (په مکه معظمه کې) جوړه شوه او پریکړه وشوه چې له ۱۳۷۰ هـ . ش کال څخه به هر درې کاله وروسته به یو وار هر غړی هېواد د دوره یې کنفرانس ریاست پرغاړه اخلي، په دې توګه دغه غونډه په (۱۳۸۰ هـ . ش) کال په سنګال، په (۱۳۸۳ هـ .ش) کال په المغرب او په (۱۳۸۶ هـ . ش) کال په تهران کې او په (۱۳۸۹ هـ .ش) کال په قطر کې جوړه شوه.

ټول ټال ۵۷ هېوادونه او له هغو څخه افغانستان په دغه سازمان کې غړیتوب لري چې ۲۵ هېوادونه یې په آسیا کې او ۲۷ هېوادونه یې په افریقا کې، ۲ هېوادونه په امریکا او ۳ هېوادونه په اروپا کې دي چې بوسنی هرزګوین، تایلند او مرکزي افریقا هم د څارونکو په توګه به په غونډو کې ګډون کوي. د اسلامي هېوادونو د غونډو سازمان ډېرې اداري جوړې کړي چې له هغو څخه څلور تخصصي موسسې

دي چې په لاندې توګه دي:

۱. نړیوال اسلامي خېرندوی مرکز

۲. اسلامي عمراني بانک

۳. د اسلام د علمي او فرهنګي ښوونو سازمان

۴. د اسلامي هېوادونو د تبلیغاتو سازمان چې مرکز یې د عربستان د جدې په ښار کې دی

## سور صلیب یا سره میاشت

کله چې کورنیو او بهرنیو ویروونکو او وېجاړوونکو جګړو انسانان په وینو کې ورغړول، د نړۍ یو خیرغوښتونکی او انسان پال سړی چې (هانري دونانت) نومېده، له سویس څخه چې په خپله د سانمارینو(د ایټالیا د شمال) د جګړو شاهدو، له عاطفې په ډک زړه په (۱۸۶۳ ز / ۱۲٤۲ هـ . ش) کال یو انسان پاله مؤسسه جوړه کړه چې له (۱۸۸۰ م / ۱۲۵۹ هـ . ش) تر اوسه د سره صلیب په نړیواله کمیټه یادېږي.

دغه بشرپاله مؤسسه چې یوازې د انسان په اړه فکر کوي، موخه یې د نړیوالو جګړو او کورنیو شخړو له زیان لیدونکو سره مرسته کول دي چې په دې توګه د خپلو انسان پالو اصولو له مخې د جګړې له قربانیانو او زیانمنو سره روښانه چلند کوي.

د شخړو او اړودوړ د پراخېدلو او همدا راز ټپیانو او ناروغانو او طبیعي پېښو، لکه: (زلزله، سېلاو، طوفان، اور لګېدنې، وچکالیو او قحطیو ځپلیوله اړتیاوو سره د نړۍ په ګوټ ګوټ کې انسان بایې مرستې، په یوه نړیوال غورځنګ اووښتې دي چې د سره صلیب نړیواله کمیټې په نړیوالو فدراسیونونو کې د سره صلیب نړیوال غورځنګ رامنځ ته کړی دی او په افغانستان کې هم په (۱۹۳٤ میلادي، ۱۳۱۳ هجري لمریز) کال د افغاني سرې میاشتې ټولنه جوړه شوې ده او افغانستان په (۱۹۵۵ م – ۱۳۳٤ هـ . ش) کې د سره صلیب د نړیوالې کمیټې غړیتوب ترلاسه کړی دی.



د ژنیو د (۱۹٤۹ میلادي / ۱۳۲۸ هـ . لمریز) کال په

قرارداد کې چې د انسان د درناوي او د هغه د عزت په فکر جوړ شوی دی یادونه شوې ده. هغه کسان چې د ټپ له ناروغی، اسارت او یا هر بل علت له مخې چې په جګړه د اغېزو په وړاندې یې ساتنه وشي او له تبعیض څخه پرته له هغوی څخه څارنه وشي. د نړیوالې سرې میاشتې او د سره صلیب د ټولنو اتحادیې د سوله ییزو هڅو او کوښښونو اغیزو چې دغه بشر دوسته مؤسسه په (۱۹۴۹م ۱۳۴۸ هـ.ش) کې د نوبل جایزې په اخېستلو ویاړمنه شوه.

اوس د افغانستان د سرې میاشتې عالي ټولنه له اړو او زیانمنو خلکو سره د سیـــاسي، مذهبي، سیمه ییزو قومي او ټولنیزو مسایلو په پام کې نیولو پرته د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د اصولو له مخې چلند کوي.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي.

لومړۍ ډله دې د اسلامي هېوادونو د سازمان د رامنځ ته کېدو په اړه او دویمه ډله دې د سرې میاشتې یا سره صلیب د غورځنګ په اړه په خپلو کې بحث وکړي او پایله دې د هرې ډلې استازی نورو ته بیان کړي.

## پوښتنې

۱. اسلامي هېوادونو سازمان څرنګه جوړ شو؟ توضیح یې کړئ.

۲. د اسلامي هېوادونو د سازمان د جوړېدلو موخه څه وه؟ توضیح یې کړئ.

۳. د اسلامي هېوادونو سازمان کومې اداري جوړې کړې دي؟ نوم یې واخلئ.

٤. سور صلیب یا سره میاشت یعنې څه او څرنګه رامنځ ته شو؟

۵. په افغانستان کې سره میاشت څه وخت جوړه شوه او په کوم کال د سره صلیب د نړیوالې کمیټې غړې شوه؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې په افغانستان کې د سرې میاشتې د دندو په اړه یو مطلب تیارکړي او په ټولګي کې دې ولولي.

# لومړی څپرکی

لومړی لوست:

## د افغانستان موقعيت او ځلورخواوې




**د افغانستان د جغرافيايي موقعيت او ځلورخواو په هکله څه پوهيږئ؟**

افغانستان د طبيعي ځرنګوالي له مخې د آسيا د لويې وچې په سويل کې غرنی او په وچې کې ايسار هېواد دی چې اوبو ته ازاده لار نلري او د لرغوني پنځه زره کلن تاريخ په درلودلو سره د آسيا له لرغونو هېوادونو څخه ګڼل کيږي .

د افغانستان پخوانی نوم آريانا و چې د ريګو ويدا په متن کې د آريانا ويجه داصطلاح يادونه شوې ده.

افغانستان په شمالي نيمه کره کې د شمالي عرض البلدونود ۲۹ درجو، ۲۲ دقيقو ، ۵۳ ثانيو او ۳۸ درجو، ۲۹ دقيقو ، ۲۸ ثانيو او په ختيځه نيمه کره کې د ختيځو طول البلدونو د ٦٠ درجو، ۲۸ دقيقو، ٤١ ثانيو او ٧٤ درجو، ٥١ دقيقو او ٤٧ ثانيو ترمنځ پروت دی.

د افغانستان پراخوالی ۰۰۰، ٦٥٢کيلومتره مربع دی چې د پراخوالي له مخې د هريوه اروپايي هېواد څخه له روسيې پرته لوی دی. افغانستان د پراخوالي له مخې په آسيا کې دولسم[1]. هېواد دی د افغانستان د اسلامي جمهوريت په شمال کې د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان جمهوري هېوادونه، په لويديځ کې دايران اسلامي جمهوريت ، په سويل او ختيځ کې د

(۱)-روسيه، چين،- هند، -سعودي عربستان، ايران، منګوليا، قزاقستان، اندونيزيا، پاکستان، ترکيه، برما

پاکستان اسلامي جمهوريت او په  شمال ختيتځ کې د چين د ولسي جمهوريت د سنکيانګ ايالت سره ګډه پوله لري.

د افغانستان ډېر اوږد والی له ختيځ (د پولي له درې) څخه ترلويديځ ( تر ذوالفقار درې) پورې ۱۲۰۰ کيلومتره او سورېې له شمال څخه ( له خماب سيمې) تر سويل پورې ( د چګايي تر غرونو) ۹۱۲ کيلومتره دی او د پامير په برخه کې څه نا څه تر۲٤کيلومترو پورې سور لري چې تاجکستان له کشمير څخه جلا کوي.په مستقيم ډول د هند سمندرته د افغانستان ډېر نږدې واټن د هلمند د ولايت د کشته ګان غره د مزاري کوتل له سويل لويديځ څخه د عرب سمندرګي تر غاړې پورې کابو۳۹۰ کيلومتره دی .

د افغانستان جغرافيايي موقعيت د منځنۍآسيا او سويلي آسيا د هېوادونو په لاره کې له اقتصادي او سياسي پلوه ډېر مهم دی، ځکه چې افغانستان د ايران، هند، پاکستان  درې هېوادونه د منځنۍ آسيا له هېوادونو سره  يوځای کوي. د منځنۍ آسيا هېوادونه هم آزاد سمندر ته لاره نه لري، نو له همدې امله يې سوداګري د آسيا د لوېې وچې له سويلي هېوادونو سره د افغانستان له لارې کېږي همدغې موضوع د افغانستان موقعيت ته زيات ارزښت وربخښلی دی.

## په ټولګي کې د ننه فعاليت:

زده کوونکې دې په مناسبو ډلو و ويشل شي، هره ډله دې د لاندې موضوعاتو په باره کې يوله بل سره بحث وکړي له هرې ډلې څخه  دې يوتن خپله موضوع په ټولګي کې شرحه کړي.

- افغانستان د ځمکې د کرې په کومه برخه کې پروت دی. د طول البلد او عرض البلد له مخې معلومات وړاندې کړئ.
- د افغانستان نقشه رسم کړئ، زيات اوږد والی او سور يې د سيمو له مخې په نقشه کې وښيئ.

- د افغانستان نقشه رسم کړئ او د افغانستان څلور خواوې پکې ولیکئ .

## پوښتنې:

١- افغانستان څه ډول طبیعي ځرنګوالی لري؟

٢- زموږ هیواد له سمندر څخه څومره واټن لري؟

٣ - د افغانستان ډیر پخواني نوم کوم دی .

٤- افغانستان څومره پراخوالی لري ؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د افغانستان نقشه رسمه کړئ او د افغانستان ګاونډیان پکې په نښه کړئ.

دويم لوست:

# شمالي، ختيځ او سويلي سرحدونه

## الف: د امير شير علي خان سرحدي کرښه




**د افغانستان کوم سرحد د پنج او آمو درياب په واسطه ټاکل شوی دی؟**

په ۱۹ پېړۍ کې د انګليسانو او تزاري روسيې دتيري کوونکي کړنلارې له مخې ددې خاورې زياته او مهمه برخه د افغانستان له بدن څخه جلاشوې ده.کله چې په ۱۹ پېړۍ کې تزاري روسيې په منځنۍ آسيا کې په يرغلونو پيل وکړ ، انګليسانو ددې لپاره چې خپلې استعماري ګټې د هند په شمال کې خوندي وساتي، د روسانو له نيت څخه په ويره کې شول او وې غوښتل چې ژر تر ژره د روسانو ديرغل په وړاندې خنډونه رامنځته کړي. په لومړي پړاو کې يې امير شيرعلي خان وهڅاوه چې خپل سرحدونه له تزاري روسيې سره وټاکي، نو له همدې امله د دواړو دولتونو ترمنځ خبرې پيل شوې.

د انګليسانو د بهرنيو چاروو وزير لارد ګرينويل او د تزاري روسيې د بهرنيو چارو وزير پرنس ګورچکوف د افغانستان او تزاري روسيې د سرحدونو د تثبيت لپاره وټاکل شول په پای کې په ۱۸۷۳ ميلادي کال کې د افغانستان شمالي سرحدونه له زرقول جهيل څخه تر خماب پورې چې د پنج او آمو سيندونو مسيردی د امير شيرعلي خان د سرحدي کرښې په نوم وټاکل شول.

د هغه تړون له مخې چې د ۱۳۲۵ لمريز کال د غبرګولې د مياشتې په ۲۲ مه نېټه لاسليک شو

د آموسیند منځنۍ برخه دسرحد په توګه و پیژندل شوه او د درقد ټاپو چې تقریباً ۴۲۲ کیلومتره مربع پراخوالی لري او د تخار ولایت په شمال کې پروت دی، د افغانستان د خاورې برخه وګڼل شوه .

**ب- دریجوي سرحدي کرښه**:کله چې امیر عبدالرحمن خان واک ته ورسیده، وېې پتیله چې پاتې شمالي سرحدونه د ځمکې پرمخ تثبیت کړي، د تزاري روسیي او بریتانیي تر منځ دویم ځلي خبرې پیل شوې او پریکړه وشوه چې د درېو هېوادونو( افغانستان، برتانیې او روسیې) پلاوي دې د ۱۸۸٤ میلادي کال په نومبر کې سرخس ته حاضر شي. د روسیې هیأت په خپل وخت ټاکلي ځای ته حاضرنه شو او برعکس د روسیې عسکرو په منځنۍآسیاکې خپلو یرغلونو ته هم دوام ورکړ، ترخوچې پنجدې ته نژدې شول او د خاتون له پل ځخه یې، چې د هریرود د سیند له پاسه دی د پوځي اډې په توګه کار اخیست. د افغاني پوځیانو شمیرچې دوه زرو تنوته رسیده، د پنجدې د ساتنې له پاره هلته اوسیدل. د جنرال غوث الدین خان په مشرۍ د افغاني پوځیانو او د علي خانوف تر مشرۍ لاندې د روسیې له قوې سره نښته وشوه افغاني پوځیانو، چې شمیرېې لږ او په محاربوي تجهیزاتو هم سنبال نه وو، له پنجدې ځخه یې دفاع ونه شوی کولای. پنجده او آق تپه په ۱۸۸۵ میلادي کال کې د تزاري روسانو لاس ته ورغلې. له دې پیښې وروسته د انګلستان دهغه وخت د ملکې وکټوریا له تهدید ځخه ډک تلګرام د روسې تزار دویم الکساندرته ددې سبب شو چې د روسیې عسکر له زیات پرمختګ ځخه صرفنظروکړ. یوځل بیا د تزاري روسیې او انګلیس د استازو ترمنځ سرحدي خبرې په لندن کې پیل شوې چې د افغانستان شمال لویدیځ سرحدونه له تزاري روسیې سره وټاکل شي. بېلابېلو هیأتونو په بحثونو پیل وکړ، په ۱۸۸۷ میلادي کال کې شپږ فقره یي پروتوکول یې لاسلیک کړ او بیا ورستنی پروتوکول د کرنیل ریجوي Rage way انګلیسي او موسیوزینوف روسي په واسطه په پترسبورګ کې لاسلیک شو او څو نور یادشتونه هم پرې ور زیات شول او شمال لویدیځ سرحد یې چې د ریجوي د کرښې په نوم یادیږي د نقشې پرمخ تثبیت کړ. وروسته دغه سرحدي

کرښه د انگریزانو د استازي د چارلس پت charles pate او د تزاري روسیې د استازي کپتان کامروف په واسطه د څلورو کلونو په موده کې د ذوالفقار له درې څخه ترخماب پورې په یوې قوسي کرښې تثبیت شوه، چې د ۳۰ کیلومترو په اوږد والي د مرغاب د سیند په واسطه او نورې د پیلرونو په واسطه په نښه شوې ده.

## ج: شمال ختیځ سرحدونه:

د افغانستان په شمال ختیځ کې دوه سرحدي کرښې شته. یوه یې د افغانستان او تاجکستان ترمنځ د پامیر سرحدي کرښه او بله یې د افغانستان او د چین د ولسي جمهویت ترمنځ شمال ختیځه سرحدي کرښه نښه شوېده.دهېواد دغه کم سوره خاوره چې د هغې وخت د تزاري روسیې، چین او برتانوي هند ترمنځه پرته وه. په دې ساحه کې د سرحدونو تثبیت له ډېرې مودې څخه تر بحث لاندې و.

د امیرعبدالرحمن خان د دورې په وروستیوکلونوکې په ۱۸۹۵ زکال کې د دریو هېوادنو استازو، چې له افغانستان څخه دهغه وقت د قطغن او بدخشان د ولایت حکمران غلام محی الدین خان، د انگلیسانو د هیأت مشر مجرجرلو او د تزاري اورسیې د هیأت مشر فیفرو شوایکوسکې وو . د کوچني او لوی پا میر په سیمه کې یې په خبرو پیل وکړ. دغې خبرې اترې نه میاشتې اوږدې شوې. په پای کې د افغانستان او تزاري روسیې ترمنځ د پامیر سرحد د زرکول د جهیل له ختیځ څخه د چین تر سرحده (یولي درې) پورې وټاکل شو. د انگلیسانو ځینو سیاستمدارانو د خپلو لاندې شویو سیمو او د تزاري روسیې ترمنځ له یوې حایلې سیمې Buffer state سره مینه درلوده. د پامیر او واخان په ساحه کې د انگلیس او روسیې امپراتورۍ یوله بل سره نښتې وې، نو ددې لپاره چې د هغوی ترمنځ یوه حایله (بیطرفه) ساحه راشي، نود واخان سیمه یې بې پوښتنې افغانستان ته ورکړه. د روسیې دولت د ۱۹۸۶ زکال د مارچ په میاشت کې دغه کرښه ومنله. پدې ډول واخان افغانستان ته د یو نړیوال تړون له مخې ورکړل شو. د همدې کال په اکتوبرکې امیرعبدالرحمن خان درواز ونیو. روسانو روشان او شغنان د آمو په هغه خواکې چې د افغاني قوې له خوا خالي شوی وو، د بخارا امیرته وسپارل .

دچین دولسي جمهوریت له جوړېدو (په ۱۹٤۹. ز .کال کې )څخه وروسته د محمد ظاهر شاه د پاچاهۍ په دوره کې د افغانستان د دولت او دچین د ولسي جمهوریت ترمنځه یوځل بیا سرحدي خبرې پېل شوې. په ۱۳۳٦ لمریز کال کې چې له ۱۹٥۷ میلادي کال سره سمون خوري، هوکړه وشوه چې د دواړو هېوادونو ترمنځه دې سرحدونه وټاکل شي او دځمکې پرمخ دې نښه شي. نوله همدې امله شمال ختیځ سرحد چې دیولي له درې څخه دیوقوس په بڼه د کلیک تر غاښي پورې ،چې د واخبیر دغاښي په سویل ختیځ کې پروت دی د افغاني پامیر او د چین د سنکیانگ د ولایت ترمنځ د ۱۳٤۳ لمریز کال د زمري په میاشت کې په فني ډول د پیلرونو په نصبولو سره علامه گذاري او تثبیت شو.

## د: ختیځ او جنوبي سرحدونه:

په ۱۸۹۳ میلادي کال کې انگلیسانو زیات شمېر لښکرې د افغانستان په لوري راولېږلې او امیر عبدالرحمن خان ته یې یاد داشت واستاوه چې د جنرال رابرټ سیاسي هیأت له یوې عسکري فرقې سره په جلال آباد کې ومني. امیر عبدالرحمن خان په قهرشو او خپلو سلو زرو عسکروته یې دتیارسۍ امر ورکړ او دجهاد د اعلانولو اراده یې وکړه. خوکله چې انگلیسانو دغه مقاومت ولید ، له خپلو پرېکړو څخه تیر شول او پدې قانع شول، چې خپل پنځلس کسیز سیاسي هیأت د مارتمیر ډیورنډ (Mortimer Durand) په مشرۍ کابل ته واستوي. ډیورنډ کابل ته راغی او د ډیورنډ تړون چې مواد یې مخکې د انگلیسانو له خوا ترتیب شوي وو، امیر عبدالرحمن خان ته وړاندې کړل. له ډېرو خبرو وروسته یې په ۱۸۹۳ میلادي کال کې هغه په امیر عبدالرحمن خان د چهلستون په ماڼۍ کې لاسلیک کړ. امیر عبدالرحمن خان د خپلو دولتي اراکینو له مشورې پرته تړون لاسلیک کړ او یولوی تاریخي مسؤولیت یې په غاړه واخیست. ددې تړون په پای کې د ډیورنډ سرحدي کرښه د کلیک له کوتل څخه د هېواد په جنوب لویدیځه زاویه کې د ملک سیاه ترغره پورې وټاکل شوه. چمن، پښین، وزیرستان،کرم، پاړه چنار، افریدي، باجوړ، سوات او چترال د افغانستان له خاورې څخه جلا او د هغه وخت په برتانوي هند پورې وتړل شول .د برتانوی هند د

هیأت د رئیس لخوا پریکړه وشوه، چې د تړون له مخې د روشان او شغنان سیمې ، چې پنج د سیند په شمال کې دي او د آمو دسیند پاسنۍ برخه چې د ۱۸۷۳ میلادي کال کې دګورچکوف اوګرینویل د پریکړو له مخې د افغانستان په واک کې وې، بیرته دې تزاري روسیې ته وسپارل شي او دهغو په مقابل کې د یې واخان او آسمار د افغانستان د خاورې برخه شي.

د افغانستان له خپلواکۍ (۱۹۱۹ میلادي کال) څخه وروسته بیا هم د ډیورنډ د سرحد مسأله ناحله پاتې شوه. په ۱۹٤۷ میلادي کال کې د پاکستان د دولت په رامنځته کیدوسره، بیاهم دغه موضوع د پاکستان له دولت سره ناحله او له پریکړې پرته پاتې شوه. زموږ د هېواد سویلي او د ختیځې خوا سرحدي کرښه د پاکستان له اسلامي جمهوریت سره د ډیورنډ د تحمیلي کرښې په واسطه په نښه شوې چې د افغانستان خلکو هغه په رسمیت نه ده پیژندلې .

## د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکې دې په ډلو وویشل شي. هره ډله دې په پخپلو منځوکې له لاندنیو موضوعاتو څخه پریوې بحث وکړي. د خپل بحث پایلې دې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.

- د افغانستان نقشه رسم کړئ او په هغې کې د امیرشیرعلي خان سرحدي کرښه په نښه او په هکله یې معلومات ورکړئ .
- د افغانستان نقشه رسم کړئ او په هغې کې د ریجوي سرحدي کرښه په نښه او په هکله یې معلومات ورکړئ .
- د افغانستان نقشه رسمه کړئ او په هغې کې شمال ختیځه سرحدي کرښه په نښه او په هکله یې معلومات ورکړئ .
- د افغانستان نقشه رسم کړئ او د ډیورنډ سرحدي کرښه په نښه او په هکله یې معلومات ورکړئ .

## پوښتنې:

۱- د افغانستان په شمالي سرحداتوکې کومې کرښې شاملې دي .

۲- د امیرشیرعلي خان کرښه څرنګه و ټاکل شوه؟

۳- اوس کوم هېوادونه کولای شي د امو او له پنج د سیند څخه ګډه ګټه واخلي .

٤- روسانو پنجده څرنګه ونیوله؟

٥- ولې روسانو خپل پرمختګ ته د افغانستان په خاوره کې دوام ورنکړ؟

٦- د ریجوي سرحدي کرښه له کوم ځاي څخه ترکوم ځایه اوږده پرته ده؟

۷- د افغانستان دولت د دیورنډ سرحدي کرښه ولې په رسمیت نه ده پیژندلې؟

۸- د افغانستان شمال ختیځ سرحدي پولې څرنګه وټاکل شوې؟

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت

د افغانستان نقشه رسم کړئ، د امیر شیرعلي خان سرحدي کرښه ، د ریجوی سرحدي کرښه، شمال ختیځه سرحدي کرښه، سویلي او ختیځه سرحدي کرښه پکې وښیئ او د جغرافیې په راتلونکې ساعت کې یې له ځانه سره ټولګي ته راوړئ.

# لويديځ سرحدونه

زموږ دهېواد په لويديځ کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت او ايران ترمنځ دوه سرحدي کرښې د دوو بيلو معاهدو او هيأتونو په واسطه تنظيم شوي دي چې لنډيز يې په لاندې ډول دی:

## الف: د مکمهان سرحدي کرښه:

د سيستان سيمه چې د هېواد په سويل لويديځ کې پرته ده، د تاريخ په اوږدوکې کله د افغانستان او کله به هم د ايران د اداري لاندې وه. سيستان د احمد شاه بابا له واکمنۍ څخه( په ۱۷٤۷ ميلادي کال کې چې له ۱۱۲٥ هجري لمريز کال سره سمون لري) اوروسته د ۱۹ پېړۍ ترنيمايي پورې د افغانستان د خاورې برخه وه.

د امير شيرعلی خان د واکمنۍ په وخت کې د سرينديې قبيلي د مشر علي خان له خپلې قبيلې سره د ايران د دولت تابعيت ومانه او ځان يې له خپلې قبيلي سره د ايران دولت ته تسليم کړ. له هغه څخه وروسته د افغانستان او ايران ترمنځ سرحدي ستونزې را پورته شوې، نو لازم وګڼل شوه چې د افغانستان او ايران ترمنځ سرحد وټاکل شي. د افغانستان او ايران حکومتونو ونشوکولای چې په خپل منځ کې کومې پرېکړې ته ورسيږي، نوله همدې امله يې دهند له وايسرای سره تماس ونيوه او د افغانستان او ايران د سرحدي ستونزو د حل لپاره يې د حکميت غوښتنه وکړه. د هند وايسرای فريد ريک ګولډسمت Sir Fredric Goldsmith يې د سيستان د ناحيې لپاره د حکم په توګه و ټاکه، چې د افغانستان او ايران ترمنځ د منځګړې په توګه کار وکړي او موضوع فيصله کړي. ګولډ سميت د انګليسي هيأت رئيس د افغانی او ايراني هيأتونو له مشرانو سره دوه کاله د سيستان په سرحدونو کې په څېړنو بوخت شو او په ۱۸۷۳ . ز.کال کې يې چې له ۱۲٥۲ لمريز کال سره سمون لري داسې پرېکړه وکړه: د سيستان حوزه د هلمند د سيند په وروستۍ برخه کې په دوو برخو و ويشل شوه. هغه سيمې چې د نادعلي د سيند په لويديځ کې پرتې دي د خاص سيستان او ختيځې سيمې يې په اصطلاح د ماورای سيستان په نوم و نومولې. خاص سيستان په ايران او ماورای سيستان په افغانستان پورې و تړل شو.

په ۱۲۷٤ لمریز هجري کال کې د هلمند د سیند ورستیی برخه چې د نادعلي د سیند په نوم یا دېده له خپل اصلي مسیر څخه چې د افغانستان او ایران تر منځ سرحد و، منحرف شو. څرنگه چې د گولدسمت په وخت کې سرحدي کرښه د ځمکې پرمخ په نښه شوې نه وه، د هلمند د سیند د بهیر بدلون د افغانستان او ایران د خلکو ترمنځ د دویم ځل لپاره ستونزه رامنځته کړه. ځکه چې د افغانستان حکومت د نادعلي سیند د هلمند د سیند اصلي لاره گڼله او د ایران دولت د هلمند د سیند د مسیر بدلون پخپله گټه په پام کې نیولی و. بیاله انگلیسانو څخه مرسته و غوښتل شوه. د انگلیستان حکومت مکمهان Mac Mahan له پنځلس زره انگلیسي او هندي افسرانو سره ددې کار لپاره موظف کړل د درې واړو هېوادونو( افغانستان، ایران او انگلیسانو )هیأتونه دڅېړنې په ټولو وسایلو سنبال وو. هغوی دوه کاله او درې میاشتې له ۱۹۰۲- ۱۹۰۵ . م. کال پورې چې له ۱۲۸۰- ۱۲۸۲ هجري لمریز کلونو سره سمون لري ( د امیر حبیب الله د حکومت دورې) څېړنه او مطالعه وکړه . په دې سیمه کې یې سرحدي کرښه د هغې غونډۍ دپاسه، چې د هلمند دسیند د پخوانې او سني بهیر تر منځ موقعیت لري داسې په نښه او تثبیت کړه که د هلمند دسیند بهیر بدلون هم وکړي، په دې سرحدي کرښه کومه اغیزه و نکړي . د ملک سیاه له غره څخه تر سیاه کوه پورې دغه کرښه د مکمهان د کرښې په نوم یادیږي.

## ب: د فخري سرحدي کرښه:

دا سرحدي کرښه له سیاه کوه څخه د ذوالفقار تر درې پورې، چې زموږ د هېواد په لویدیځ کې پرته ده څوځلي د افغانستان او ایران ترمنځ سرحد وټاکل شو، خو پدې برخه کې کومه غوڅه پریکړه ونشوه، ترڅو چې دواړو دولتونو په ۱۳۱۳ هجري لمریز کال کې د ترکیې له دولت څخه د منځگړیتوب غوښتنه وکړه. د ترکیې دولت جنرال فخرالدین التایي د سرحدي اختلافونو د حل لپاره وټاکه. جنرال فخرالدین التایي له ډېرې څېړنې او مطالعې څخه وروسته خپله پریکړه دواړو هېوادونو افغانستان او ایران ته واوروله. په دې ترتیب سره د افغانستان لویدیځ سرحد چې د فخري د کرښې په نوم یادیږي د سیاه کوه له سیمې څخه د ذوالفقار تر درې پورې د شمال په استقامت

سره تثبیت او وټاکل شو. د سیاه کوه څخه تر اسلام قلعه پورې سرحدي کرښه د ځمکې پرمخ او له اسلام قلعه څخه د ذوالفقار تر درې پورې د افغانستان او ایران ترمنځ د هریرود سیند سرحدي کرښه جوړوي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي په ډلو ویشل کیږي. هره ډله له لاندې موضوعاتو څخه په یوه موضوع پخپلو منځوکې بحث کوي او پایلې ټولګیوالوته وړاندې کوي.

- د سیستان د سیمې د خړنګوالي په هکله معلومات ورکړئ.
- ولې د افغانستان او ایران دولتونو دسرحدي کرښو د ټاکلو په هکله د هند له وایسرای څخه د مرستې غوښتنه وکړه او د ګولډ سمت د کار پایله توضیح کړئ؟
- د هلمند د سیند په وروستي برخه کې (د نادعلي رود) د اصلي مسیر انحراف څه ستونزې رامنځته کړې او موضوع په څه ډول حل شوه؟
- د فخري سرحدي کرښې د ټاکلو څرنګوالی بیان کړئ؟

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ.

۱- د افغانستان او ایران ترمنځ د سیستان د سیمې په سر ولې اختلافونه راپورته شول؟

۲- د سیستان د حوزې په باره کې معلومات ورکړئ.

۳- د مکمهان او فخري سرحدي کرښې د کومو سیمو ترمنځ پرتې دي؟

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

د افغانستان نقشه رسم کړئ د مکمهان او فخري کرښې پکې وښیئ.

# اداري تشکیلات




:

**د افغانستان د لویو ولایتونو نومونه اخیستلای شی؟**

د امان الله خان په دوره کې افغانستان د اداري تشکیلاتو د واحدونو له مخې په پنځو ولایتونو او څلورو اعلی حکومتونو ویشل شوی و. د افغانستان ولایتونه کابل، کندهار، هرات، ترکستان او (قطغن او بدخشان) او اعلی حکومتونه له مشرقي خوا، جنوبي خوا ، میمنې او فراه څخه عبارت وو.

له ۱۳٤۳ لمریز کال څخه مخکې د ځینو ولایتونو ساحه دومره پراخه وه چې طبیعي خنډونو لکه غرونو، پراخو اوسوځوونکو دښتو تنګو او صعب العبوره درو دهغه وخت د حمل ونقل د وسایلوله مخې په اداره کولو کې زیاتې ستونزې رامنځته کړې وې، د دولت دکارکوونکوبوختیا دومره زیاته وه چې په ډیر مشکل سره د خلکو عریضو او شکایتونو ته غوږ نیول کیده. عرفاني او ټولنیزو موضوعګانو ته کمه پاملرنه کیده، نو په ۱۳٤۳ لمریزکال کې د لومړي ځل لپاره د اساسي قانون د تطبیق او د ولسواکی د تعمیم لپاره د هیواد په اداري تشکیلاتوکې اساسي بدلونونه راغلل او افغانستان په ۲۹ اداري واحدونو یا ولایتونو وویشل شو.

هر ولایت د والي په واسطه چې له مرکز سره مستقیمې اړیکې لري ،اداره او کنترولیږي. د هر ولایت اداري او قضایي چارې پخپل وار د خلکو د ارامی او آسانتیاوو لپاره په کوچنیو اداري

واحدونو ویشل شوي دي. هر ولایت په ولسوالیو او کلیو ویشل شوی دی. د هرې ولسوالۍ په مشرۍ کې ولسوال دی. د ولسوالیو اداره له ولایت او دهغه اداره له مرکز سره اړیکې لري. د اجرایي قوې نور غړي د وزارتونو له خوا ټاکل کیږي او خپلې دندې په ولایت کې د والي ترنظر لاندې او په ولسوالیو کې د ولسوال تر نظر لاندې سرته رسوي.

والي په اجرااتو کې د سیمه ییزو ارګانونو ریاست او جمهوري ریاست ته مسؤلیت لري او ځواب ویونکي دی.

په ۱۳۷۰ لمریز کال کې د هېواد په اداري ویش کې ۳۲ ولایتونه وو. په ۱۳۸۵ لمریز کال کې دوه ولسوالۍ چې له پنجشیر او دایکندي څخه عبارت دي د ولایت درجې ته لوړې شوي . په ټولیزه توګه هېواد په ۳٤ ولایتونو او ۳٦٥ ولسوالیو او څو موقتي ولسوالیو ویشل شوی دی. د افغانستان لوی ښار د کابل ښار دی چې د تیمورشاه د وخت را هیسې د پلازمینې په توګه غوره شوی دی .

لاندینی جدول د هېواد ولایتونه ،مرکز ونه ، پراخوالی ، د ولایت درجه او میشت نفوس د جنسیت په تفکیک سره ښیي.

اضافي معلومات

| ګڼه | د ولایت نوم | د ولایت مرکز | د ولایاتو پراخوالی په کیلو متر مربع | د ولسوالیو شمیر | د ولایت درجه | ټول میشت نفوس (په زرتنو) | نارینه (په زرو تنو) | ښځې (په زرو تنو) | ښاري نفوس (په زرو تنو) | کلیوال نفوس (په زرو تنو) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | کابل | ۴۵۲۳/۵۸ | ۱۴ | ۱ | ۳۳۳۵.۲ | ۱۷۲۲.۶ | ۱۶۱۲.۶ | ۲۷۴۵.۶ | ۵۸۹.۶ |
| ۲ | قندهار | قندهار | ۵۴۸۴۴/۵ | ۱۵ | ۱ | ۱۰۳۷.۱ | ۵۳۱.۹ | ۵۰۵.۲ | ۳۴۳.۷ | ۶۹۳.۴ |
| ۳ | هرات | هرات | ۵۵۸۶۸/۵۳ | ۱۵ | ۱ | ۱۶۱۱.۲ | ۸۱۶.۱ | ۷۹۵.۱ | ۴۲۶.۱ | ۱۱۸۵.۱ |
| ۴ | بلخ | مزارشریف | ۲۰۷۹۷/۶۳ | ۱۴ | ۱ | ۱۱۲۲.۶ | ۵۷۴.۲ | ۵۴۸.۴ | ۳۹۱.۳ | ۷۳۱.۳ |
| ٥ | ننګرهار | جلال آباد | ۷٦٤۱/۰٥ | ۲۱ | ۱ | ۱۳۰۹.۴ | ۹۷۰.۲ | ۶۳۹.۲ | ۱۸۲.۴ | ۱۱۲۷ |
| ٦ | پکتیا | ګردیز | ٥٥۸۳/۱٥ | ۱۰ | ۲ | ۴۸۲.۴ | ۲۴۶.۶ | ۲۳۵.۸ | ۲۰.۶ | ۴۶۱.۸ |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | غزنی | دغزني ښار | ۲۲٤٦۰/۵۳ | ۱۸ | ۲ | ۱۰۷۳.۷ | ۵۴۸.۶ | ۵۲۵.۱ | ۵۰.۲ | ۱۰۲۳.۵ |
| ۸ | پروان | چاریکار | ۵۷۱۵/۰۵ | ۹ | ۲ | ۵۷۹.۳ | ۲۹۳ | ۲۸۶.۳ | ۴۹.۵ | ۵۲۹.۸ |
| ۹ | هلمند | لشکرگاه | ۵۸۳۰۵/۰۷ | ۱۲ | ۲ | ۸۰۷.۵ | ۴۱۴.۵ | ۳۹۳ | ۴۵.۷ | ۷۶۱.۸ |
| ۱۰ | بغلان | پلخمری | ۱۸۲۵۵/۲٤ | ۱۴ | ۲ | ۷۸۹.۵ | ۴۰۴.۶ | ۳۸۴.۹ | ۱۵۳.۷ | ۶۳۵.۸ |
| ۱۱ | فاریاب | میمنه | ۲۰۷۹۷/۶۳ | ۱۳ | ۲ | ۸۶۸.۸ | ۴۴۳.۴ | ۴۲۵.۴ | ۱۰۱.۷ | ۷۶۷.۱ |
| ۱۲ | نیمروز | زرنج | ٤٢٤٠٩/٥٣ | ۴ | ۳ | ۱۳۷.۴ | ۷۰.۲ | ۶۷.۲ | ۲۲.۱ | ۱۱۵.۳ |
| ۱۳ | بدخشان | فیض آباد | ٤٤٨٣٥/٩١ | ۲۷ | ۱ | ۸۳۱.۲ | ۴۲۳.۵ | ۴۰۷.۷ | ۳۱.۲ | ۸۰۰ |
| ۱٤ | جوزجان | شبرغان | ۱۱۲۹۱/۵۲ | ۱۰ | ۲ | ۴۶۸ | ۲۳۸.۲ | ۲۲۹.۸ | ۹۶.۷ | ۳۷۱.۳ |
| ۱۵ | بامیان | بامیان | ۱۸۰۲۹/۱٦ | ۶ | ۳ | ۳۹۱.۱ | ۱۹۸.۳ | ۱۹۲.۸ | ۱۰.۷ | ۳۸۰.۴ |
| ۱٦ | زابل | قلات | ۱۷٤۷۱/۸۰ | ۱۰ | ۳ | ۲۶۵.۹ | ۱۳۶.۴ | ۱۲۹.۵ | ۱۰.۲ | ۲۵۵.۷ |
| ۱۷ | غور | فیروزکوه | ۳٦٦٥۷/٤٢ | ۹ | ۳ | ۶۰۴.۴ | ۳۰۸.۷ | ۲۹۵.۷ | ۵.۹ | ۵۹۸.۵ |
| ۱۸ | بادغیس | قلعه نو | ۲۰۷۹٤/۰۱ | ۶ | ۳ | ۴۳۳.۸ | ۲۲۱.۷ | ۲۱۲.۱ | ۱۲.۴ | ۴۲۱.۴ |
| ۱۹ | سمنگان | ایبک | ۱۳٤۳۷/۸۱ | ۶ | ۳ | ۳۳۸.۳ | ۱۷۳.۲ | ۱۶۵.۱ | ۲۴.۶ | ۳۱۳.۷ |
| ۲۰ | تخار | تالقان | ۱۲٤٥۷/۸۲ | ۱۶ | ۲ | ۸۵۵.۵ | ۴۳۶.۴ | ۴۱۹.۱ | ۱۰۸.۲ | ۷۴۷.۳ |
| ۲۱ | کندز | کندز | ۸۰۸۰/۸٦ | ۶ | ۱ | ۸۶۶.۷ | ۴۴۱ | ۴۲۵.۷ | ۲۰۷.۳ | ۶۵۹.۴ |
| ۲۲ | لغمان | مهترلام | ۳۹۷۷/۰۸۷ | ۵ | ۳ | ۳۹۰.۱ | ۱۹۹.۹ | ۱۹۰.۲ | ۴.۳ | ۳۸۵.۸ |
| ۲۳ | فراه | فراه | ٤٩٣٣٩/١١ | ۱۰ | ۲ | ۴۴۸.۸ | ۲۳۰.۲ | ۲۱۸.۶ | ۳۱.۲ | ۴۱۷.۶ |
| ۲٤ | پکتیکا | شرنه | ۱۹۵۱۵/۸٦ | ۱۸ | ۳ | ۳۸۰.۷ | ۱۹۵.۳ | ۱۸۵.۴ | ۲.۴ | ۳۷۸.۳ |
| ۲۵ | کنر | اسعد آباد | ٤٩٢٥/٩٠ | ۱۴ | ۳ | ۳۹۴.۱ | ۲۰۱.۷ | ۱۹۲.۴ | ۱۱.۶ | ۳۸۲.۵ |
| ۲٦ | لوگر | پل علم | ٤٥٦٨ | ۶ | ۳ | ۳۴۲.۹ | ۱۷۴.۵ | ۱۶۸.۴ | ۸.۲ | ۳۳۴.۷ |
| ۲۷ | وردک | میدان ښار | ۱۰۳٤۸/۳۲ | ۸ | ۳ | ۵۲۲,۲ | ۲۶۶.۵ | ۲۲۵.۷ | ۲.۶ | ۵۱۹.۶ |
| ۲۸ | کاپیسا | محمود راقي | ۱۹۰۸ | ۶ | ۲ | ۳۸۶.۳ | ۱۹۵ | ۱۹۱.۳ | ۱.۳ | ۳۸۵ |
| ۲۹ | نورستان | پارون | ۹۲٦٦/۷٤ | ۷ | ۳ | ۱۲۹.۶ | ۶۶.۱ | ۶۳.۵ | . | ۱۲۹.۶ |
| ۳۰ | خوست | متون | ٤٢٣٥/٢٦ | ۱۲ | ۳ | ۵۰۲.۷ | ۲۵۷.۴ | ۲۴۵.۳ | ۹.۷ | ۴۹۳ |
| ۳۱ | سرپل | سرپل | ۱٦۳۸٥/٥۷ | ۶ | ۳ | ۴۸۸.۲ | ۲۵۰ | ۲۳۸.۲ | ۳۶.۴ | ۴۵۱.۸ |
| ۳۲ | ارزگان | ترین کوت | ۱۱٤۷۳/٦۷ | ۴ | ۳ | ۳۰۶.۶ | ۱۵۷.۹ | ۱۴۸.۷ | ۸.۶ | ۲۹۸ |
| ۳۳ | پنجشیر | بازارک | ۳۷۷۱/٦۲ | ۶ | ۳ | ۱۳۴.۴ | ۶۸.۷ | ۶۵.۷ | | ۱۳۴.۴ |
| ۳٤ | دایکندی | د نیلی | ۱۷٥۰۱/۳٦ | ۸ | ۳ | ۴۰۳.۳ | ۲۰۷.۱ | ۱۹۶.۲ | ۳.۱ | ۴۰۰.۲ |
| **مجموع** | ۳٤ | | **۶۵۲۸۴۶** | ۳۶۵ | | ۲۳۰۳۸.۹ | ۱۱۷۸۳.۶ | ۱۱۲۵۵.۳ | ۵۱۵۹.۲ | ۷۸۷۹.۷ |

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلوو ویشل شي. هره ډله دې د لاندنیو موضوعاتو په باره کې په خپلو منځوکې بحث وکړي او یو تن دې د ډلې په استازیتوب خپله موضوع ټولګیوالو ته شرحه کړي.

- د هېواد ختیځ ، لویدیځ ، سویلي، شمالي اوشمال ختیځ ولایتونه چې له بهرنیو هېوادونو سره ګډې پولې لري د نقشې له مخې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.
- ولې په ۱۳۴۳ هجری لمریز کال کې په اداري تشکیلاتوکې بدلون راغی.
- د ولایتونو او ولسوالیو اداره په څه ډول ده؟
- د هېواد د ولایتونو او ولسوالیو شمېر څومره دی؟ وروستني ولایتونه، چې د ولایت سطحې ته لوړ شوي دي، نومونه یې واخلئ.



## پوښتنې:

۱-د هېواد په ختيځ کې کوم ولايتونه پراته دي؟ په نقشه کې وښيي.

۲- دهېواد په لويديځ کې کوم والايتونه پراته دي؟ په نقشه کې وښيي.

۳-کوم ولايتونه د هېواد په شمال کې پراته دي؟ په نقشه کې وښيي.

٤- د افغانستان د مرکزي ولايتونو نومونه واخلئ.

٥- دکابل، بلخ، ننگرهار، او هرات د ولايتونو د مرکزونو نومونه واخلئ.

## له ټولگي څخه د باندې فعاليت :

د افغانستان نقشه رسم کړئ او په هغې کې د هېواد دلويو ولايتونو او ښارونو موقعيت وټاکئ.

پنځم لوست

# نفوس او په هېواد کې د نفوسو میشت کېدل



## نفوس او په هېواد کې د نفوسو میشت کېدل :

نفوس د هیوا د له ټولو اوسیدونکو څخه عبارت دي چې په بیلابیلو ځایونوکې دبېلا بیلو لاملونوله مخې هستوګن او ځای پرځای شوي دي .

دهېواد د نفوسو ځای پرځای کېدل د لویو مدنیتونو او د تاریخي ښارونو لکه بلخ ، مزارشریف ، هرات ،کندهار ،کابل او جلال آباد په شنو وادیو ، دسیندونو په غاړو پیل شوی دي. د ۱۳۵۹ لمریز کال داحصایي له مخې د هیواد ټول نفوس څه نا څه۱۵.۹٤میلیونه تنه وو چې په ۱۳۸۱لمریزکال کې ۲۰.۳ میلیونو تنو او په۱۳۹۰ لمریزکال کې ۲۷ میلیونوتنو ته لوړشوي .د نفوسو دومره زیاتوالی د هېواد اوسنیو شرایطو ته په کتلوسره د اندېښنې وړ دي . د ملګرو ملتونو د احصائیې په بنسټ دهېواد ډېر نفوس د (۷ - ۱۵)کلنو ترمنځ ماشومان جوړوي ، چې په ټول هېواد کې ژوند کوي.

د نفوسو ځای پرځای کېدل په ټول هېوادکې یو ډول نه دي بلکې اقلیمي شرایط ، د ځمکې خړنګوالی او نور اقتصادي، بشري او سیاسي لاملونه د نفوسو په استوګنه اغیز لري. په هېوادکې د نفوسوځای پر ځای کېدل په هغو سیموکې چې لوړوالی یې له ۲۵۰۰ مترو څخه زیات دی،

لږ دي ، خو هغه سيمې چې ښه اقليمي شرايط ، ښه خاوره او ډېرې اوبه لري، زيات شمېر خلك پکې استوګنه کوي. په همدې ډول هغه سيمې چې له ۱۰۰۰ مترو لږ لوړوالي لري په ټول هېواد کې پراخې او اوارې سيمې دي چې د نفوسو د استوګنې لپاره يې ښه شرايط برابرکړي. له سيندونو څخه د کرنې لپاره د ګټې اخېستنې په سبب هلته نفوسو ډېروالى او کليوالي سيمو پراختيا موندلې ده . همدارنګه د پورتنيو لاملونو په پام کې نيولو سره په حاصلخيزو سيمو، لکه: ( ننګرهار، لوګر، کاپيسا، لغمان، او پروان کې زيات شمير نفوس اوسيږي. په داسې حال کې چې د بکوا او مارګو په سوځوونکو دښتوکې د نفوسو شمير ډېرلږ دى.

- د اقتصادي او صنعتي لاملو په سبب د هېواد يو شمېر وګړي په صنعتي مرکزونو کې ژوند کوي. لکه د پلخمري د نساجۍ، دبغلان دقند او داسې نورو کارخانو په شاوخواکې استوګن دي.

- په کرنيزو پروژوکې، لکه :د هډې او غازي آباد په فارمونو، د هلمند، ناد علي او داسې نورو پروژوکې زيات شمير نفوس استوګنه کوي.

- له سياسي پلوه د ولايتونو مرکزونو او سوداګريزو بندرونو دډېرو نفوسو پام ځانته راړولى دى . دنفوسو تراکم په کليو ، کرنيزو ځمکو او ښارونوکې سره توپير لري، نوله دې کبله د نفوسو دګڼه ګوڼې د معلومولو لپاره بايد دنفوسو شمېر دهغې ساحې پر پراخوالي وويشل شي .

## د ټولګي دننه فعاليت :

زده کوونکې دې په ډلو وويشل شي او هره ډله دې د هېواد لږ نفوسو او ډير نفوسو سيمو په لاملونو بحث وکړي او پايلې دې د ډلې استازې نورو ټولګيوالو ته ووايي .

## پوښتنې :

لنډ ځواب ورکړئ :

١- نفوس تعریف کړئ .

٢- ایا آب او هوا او حاصل خیزه ځمکې د نفوسو په ګڼه ګوڼه اغیزه لري ؟

٣- دنفوسو ګڼوالی په سوځونکو دښتوکې څرنګه دی ،په مثال سره یې واضح کړئ ؟

٤- صحیح ځواب غوره کړئ .

لاندې ولایتونه د ډېرو نفوسو لرونکي دي .

الف –کابل ، کاپیسا، ننګرهار ،لوګر او پروان    ب – تخار ، کنر او لغمان

ج- لوګر ، میدان وردک او غزنی    د – دایکندي ، خوست او پکتیا

## د ټولګي څخه بهر فعالیت :

کوم لاملونه دنفوسو په ګڼه ګوڼه باندې اغیزمن دي، نومونه یې ولیکئ .

# د اخلي او بهرني مهاجرتونه

مهاجرت څه ته وايي او څو ډوله مهاجرتونه پېژنئ ؟

مهاجر يا Immigrant هغه چا ته ويل کېږي چې خپل استوګنځي ته له يو اداري واحد څخه بل اداري واحد ته بدلون ورکړي او يا له خپل هېواد څخه پردي هېواد ته نقل مکان شوی وي.

مهاجرتونه د بشري تاريخ په اوږدوکې سرته رسيدلي او بېلا بېل ډولونه لري.

**داخلي کډوال** : يو شمېر خلک د هېواد په دننه کې له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته کډه کوي، لکه کليوا ل چې ښارونو، صنعتي سيمو او نووکرنيزو ځمکو ته کډه شي .

**بهرني مهاجرتونه** : هغه مهاجرتونه دي چې مهاجرين له نړيوالو سرحد ونو څخه تيرېږي او په بهرنيو هېوادونو کې مېشت کيږي.

دغه مهاجرتونه په بېلا بېلو هېواد ونو کې په بېلا بيله اندازه پلي شوي دي. نومړي زياتره مهاجرتونه اختياري مهاجرتونه دي چې پخپله خوښه د زياتې اجورې اوښه ژوند له پاره کېږي، خو اجباري مهاجرتونه هم شته دي چې خلک د سياسي، عقيدتي او پوځي شخړو په سبب مهاجرت ته اړکېږي. هغه څوک چې په هېواد کې د ننه نقل مکان کوي په هيواد کې د دننه بيځايه شوو په نوم Internally displaced person او هغه خلک چې له نړيوالو سرحد ونو څخه اوړي د بهرنيو پناه اخيستونکو په نوم يادېږي. لکه فلسطينيانو چې په عربي هېواد ونوکې او افغانانو په ګاونډيو اود نړۍ په نورو هيواد ونوکې پناه اخيستې ده.

زموږ په هېواد کې مهاجرتونه د تاريخي پيښو ،د سياسي ، ټولنيزو او اقتصادي ستونزو او طبيعي افتونو د اغيزو له مخې شوي چې انګيزې او لاملونه يې په لاندې ډول دي:

- سياسي مهاجرتونه: سياسي مهاجرتونه هغه وخت کېږي چې فکري او عقيدتي ازادي موجوده نه وي. د بيلګې په توګه د هغو افغانانو مهاجرتونه چې د هغه وخت د شورويانو د يرغل په سبب مختلفو هېوادونو او لويو وچو ته شوي دي شمېر يې له پنځه ميليونو څخه اوړي .
- اقتصادي مهاجرتونه: د کليو، د کوچنيو او لويو ښارونو خلک لويو صنعتي ښارونو ته د کار او دندو د موندلو او د شتمنيو د لاس ته را وړلو او د مصؤون ژوند لپاره مهاجرت کوي.

- تاریخي مهاجرتونه:

په ډېرو پخوانیو وختو کې آریایانو له بلخ ( بخدي) څخه شاوخوا سیمو ته ترهند اوفارس پورې مهاجرت وکړ او وروسته یونانیانو،کوشانیانو او مسلمانانو یو په بل پسې دې سیمې ته مهاجرت وکړ.

- د طبیعي افتونو مهاجرتونه :هغه مهاجرتونه چې د طبیعي پېښو په سبب کېږي .د بیلګې په توګه په ۱۳٤۹ لمریز کال کې د وچکالۍ له امله زموږ هېوادوال د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړشول، چې د بادغیس، ارزګان او د هزاره جاتو لوړه سطحې اوسېدونکې په دې ډله کې راځي.

- موسمي کډوالي د تودو او سړو سیمو ترمنځ کېږي یعنې کډوال په اوړي کې د څارویو د روزنې او همدارنګه د کرنې لپاره ګاونډیو سیمو ته کډه کوي. چې د هېواد کوچیان یې ښه بېلګه ده .

- اوس کلیو څخه لویو ښارونو ته هم کډه کول ډېر شوي دي په ښارونو کې د ډېرې زیاتې ګڼې ګوڼې، بیکارۍ او د ژوند د چاپیریال د خرابوالي لامل شوي چې کابل ښارېې ښه بیلګه ده.

- د مهاجرت اغیزې:مهاجرتونو په افغاني مهاجرینو مثبتې او منفي اغیزې کړې دي.

الف – منفي اغیزې

۱-د ځوانانو یا د فعالو اقتصادي نفوسو له لاسه ورکول،

۲- دېوهانو تښتېدل،

۳- په HIV او د پوستکي په ناروغیو اخته کیدل،

٤- باندینیو هیوادونو ته د پانګې وړل.

۵-د هغوی انساني حقوق تر پښو لاندې کیدل.

ب -مثبتې اغیزې یې لاندې دي .

۱-د خپل فرهنګ لېږدول او د نورو له فرهنګ سر بلدتیا،

۲- د خپلې ژبې رواجول او د نورو له ژبوسره بلدتیا،

۳-له نوی تکنالوجی سره بلدتیا .

٤- په پایله کې هر مدنیت د یوه مهاجرت زیږنده ده .

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

ز ده کوونکې دې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې له لاندنیو موضوعاتو څخه په یوې بحث وکړي او د هرې ډلې استازی دې خپل معلومات ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

د سیاسي ،اقتصادي ، تاریخي ، موسمي او طبیعي پیښو د مهاجرتونو د سببونو په هکله دې خبرې وکړي .

## پوښتنې :

۱-زموږ په ګران هېواد کې کلیوال اوسیدونکي ولې ښارونو ته کډه کوي؟

۲ - د مهاجرت منفي اغیزې بیان کړئ .

۳-سیاسي او اقتصادي مهاجرتونه سره پرتله کړئ ؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت :

ولی زموږ د هېواد اوسیدونکې نورو هېوادونو ته مهاجرت کوي؟ تردې سر لیک لاندې یو مقاله ولیکي او د جغرافیې په را تلونکې ساعت کې دې ټولګیوالوته وړاندې کړي.

# د نفوسو څرنګوالی

په افغانستان کې د نفوسو کیفیت، د عمر، جنس ، اقتصادي فعالیتونو( صنعتي ،کرنې او خدماتو ) ، ښاري اوکلیوالي ژوندانه له مخې مطالعه او ارزولی شو.په ۱۳۵۳ هـ . ش کال کې د پاچاهی د وخت تذکرې په جمهوري تذکرو بدلی شوې.

زموږ په هېواد کې د۱۳۵ ۸ لمریز کال راهیسی د هېواد په کچه دنفوسو سر شمیرنه نه ده شوې ،نو له همدې امله په افغانستان کې د نفوسو دویش، ترکیب دودې د اندازې او اقتصادي اوټولنیزو ځانګړتیا وو په هکله په مستندډول احصایوي معلومات په لاس کې نشته، خو په ۱۳۸۳لمریز کال کې د نفوسو دڅرنګوالي لومړیتوب د جنس(د نارینه او ښځینه) ،عمر ،دښاري ،کلیوالي ژوندانه او دنفوسو د نسبي زیاتوالي له مخې مطالعه شو.

لاندې جدول په افغانستان کې د کلیوالي او ښاري نفوسو د جنس ترکیب څرګندوي .

| کال | ښاري نفوس | | کلیوالي نفوس | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۸۸ | ښځې | نارینه | ښځې | نارینه |
| | ۲۵۰۳۰۹۰ | ۲۶۵۶۲۰۰ | ۸۷۵۲۳۰۰ | ۹۱۲۷٤۰۰ |
| | ۵۱۵۹۲۰۰ | | ۱۷۸۷۹۷۰۰ | |

په ۱۳۸۳ لمریز کال کې د نفوسو دڅرنګوالي لومړیتوب د جنس له مخې احساس شو. د اتیا ومې لسیزې په پیل کې د ښځینه قشر په لور پاملرنه راوګرځېده، چې اوس د هغو فعاله ونډه اخیستنه په ټولو برخو کې په څرګنده ښکاري .

د نفوسو نسبي وده ، دهېواد د خلکو زیاتوالي ته ویل کېږي، په ۱۳۸۶ لمریزکال کې زموږ په هېوادکې دنفوسو عادي او منځنی وده ۲،۰۳ سلنه وه . د افغانستان ټول نفوس د ۱۳۵۹ لمریز کال د احصایې پر بنسټ ۱۵،۹٤میلیونه تنه وو ،په ۱۳۸۱ لمریز کال کې ۲۰،۳ میلیونه تنو ته ورسیدل ، په ۱۳۹۰لمریز کال کې ۲۷ میلیونوته ورسېدل . څرنګه چې د نفوسو دا وده ډېره لوړه ده او د نفوسو ډېره برخه کوچنیان تشکېلوي، نو په هغوهېوادونوکې چې دنفوسو وده دهغو د اقتصادي او صنعتي ودې سره تناسب و نلري ، داضافي نفوسو د ستونزو سره مخامخ کېږي .

په هېواد کې اقتصادي فعاله نفوس د (۱۵- ٦۰) کلنی پورې دی چې د هغې جملې څخه ۸۰ سلنه دکرنې او مالدارۍ په برخه کې مشغول دي ا وپاتې نوريې په صنایعو، کانونو او ټولنیزو خدماتو کې بوخت دي. د ۱۵کلنی څخه لږ او ٦۵ کلنی عمر څخه پورته غیر فعاله اقتصادي نفوس ګڼل کېږي.

## اضافي معلومات

| ۱۳۸۶(۲۰۰۷-۲۰۰۸) | | | | عمر (په کال) |
|---|---|---|---|---|
| ټول استوګن نفوس | | | | |
| نارينه | ښځينه | ټول نفوس | فيصدي | |
| ۲۱۹۲۶۹۱ | ۲۳۲۱۸۷۱ | ۴۵۱۴۵۶۲ | ۲۰ | ۰۰-۰۴ |
| ۱۷۵۰۷۱۷ | ۱۶۹۴۹۶۲ | ۳۴۴۵۶۷۹ | ۱۵ | ۰۵-۰۹ |
| ۱۳۹۹۴۵۶ | ۱۲۵۳۶۸۷ | ۲۶۵۳۱۴۳ | ۱۱ | ۱۰-۱۴ |
| ۱۱۴۸۴۳۷ | ۱۰۱۷۴۴۴ | ۲۱۶۵۸۸۱ | ۹ | ۱۵-۱۹ |
| ۹۵۶۱۸۶ | ۹۰۴۷۱۲ | ۱۸۶۰۸۹۸ | ۸ | ۲۰-۲۴ |
| ۷۶۰۹۷۲ | ۷۷۹۷۲۱ | ۱۵۴۰۶۹۳ | ۷ | ۲۵-۲۹ |
| ۶۱۰۴۱۸ | ۶۷۶۸۰۵ | ۱۲۸۷۲۲۳ | ۵ | ۳۰-۳۴ |
| ۵۳۹۴۱۳ | ۵۹۵۲۷۱ | ۱۱۳۴۶۸۴ | ۵ | ۳۵-۳۹ |
| ۴۹۴۷۴۳ | ۴۸۶۵۳۴ | ۹۸۱۲۷۷ | ٤ | ۴۰-۴۴ |
| ۴۵۰۲۲۱ | ۴۰۲۴۶۱ | ۸۵۲۶۸۲ | ٤ | ۴۵-۴۹ |
| ۳۹۶۶۸۸ | ۳۲۳۹۲۵ | ۷۲۰۶۱۳ | ۳ | ۵۰-۵۴ |
| ۳۲۸۵۴۸ | ۲۵۱۶۲۶ | ۵۸۰۱۷۴ | ۳ | ۵۵-۵۹ |
| ۲۵۶۲۵۸ | ۱۹۰۹۰۶ | ۴۴۷۱۶۴ | ۲ | ۶۰-۶۴ |
| ۴۹۸۸۵۲ | ۳۵۵۳۷۵ | ۸۵۴۲۲۷ | ٤ | ٦٥ کلن او د هغې څخه پورته |
| ۱۱۷۸۳۶۰۰ | ۱۱۲۵۵۳۰۰ | ۲۳۰۳۸۹۰۰ | ۱۰۰ | |

نوت: د کوچيانو ۱,۵ ميليونه نفوس پکې شامل نه دی .

د کليو او ښارونو استوګن نفوس د تېرو لوستونو د ولاياتو په تفکيک سره د اداري تشکيلاتو د لوست د اضافي معلوماتو تر سرليک لاندې مطالعه کړئ .

### په ټولګي کې دننه فعاليت :

له پورتني جدول څخه په ګټه اخيستنې سره اقتصادي فعال او غير فعال نفوس د عمر په تفکيک او سلنې سره بيل کړئ او د ډلې استازی دې را ټول شوي معلومات ټولګيوالو ته بيان کړي .

### پوښتنې :

لنډ ځواب ورکړئ .

۱-زموږ په هېوادکې د نفوسوده خومره ده دهغو اغيزې پر اقتصادي فعاليتونو توضيح کړئ .

۲-د هېواد ځوسلنه په کرنې او مالدارۍ بوخت دي .ولې ؟

۳-دکوم عمر خاوندانو ته اقتصادي فعال نفوس ويل کېږي .

### له ټولګي څخه بهر فعاليت:

د اضافي نفوسو او له هغو څخه د را ولاړ شوو ستونزو ترسرليک لاندې مقاله وليکئ او د جغرافيې په را تلونکې ساعت کې يې ټولګيوالو ته بيان کړئ .

# ژبې




په افغانستان کې له دیرشو څخه زیاتې خپلواکه ژبې شته، چې د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې خلک په بېلا بېلو لهجو خبرې کوي.

د افغانستان د ژبو اهمیت، لکه د نړۍ د نورو ژبو په شان د هغوی د ویونکو په شمېر پورې اړه لري. د مثال په توګه پښتو او دري ژبې د هېواد په پراخه ساحه کې عمومیت لري او خلک په هغو خبرې کوي او تقریباً د افغانستان ټول خلک پرې پوهېږي، په داسې حال کې چې په اورمړي او عربي یوازې په څو محدودو کلیوکې خبرې کېږي.

هندو اریایي ژبې په دوو اریایي او هندي ډلو وېشل کېږي. اریایي ژبه په عمومي ډول د هېواد په جنوب لویدیځ، شمال لویدیځ او شمال ختیځ کې زیات رواج لري او مشهورې ژبې یې پښتو، دري، بلوڅې، اورمړي، پامیري او غرچه یي ژبې یعنې غرنی ژبې دي.

په هندي ژبه کې ګوربتي، کلشه یې، تیراهي، سندي او پنجابي ژبې شاملې دي. رویدا ژبه چې د هندو آریایي ګروپ ترمنځ یوه څانګه ده چې کتي، بشکلي، وایګلي، پرسیني، اشکوني، پشه یي، پراچې اونورستاني یکې شاملی دي، چې په عمومي ډول د نورستان او دهغه د شاوخوا خلک پرې خبرې کوي.

د افغانستان نورې ژبې ترکي او مغولي دي چې دوې ډلې په کې شاملې دي. يوه ډله هغه ژبې دي چې د مرکزي اسياپه خلکو پورې اړه لري، لکه: ازبيکې، قزاقي او قرغزي. دويمه ډله يې ترکمني او آذري ژبې پخپله لمن کې را نغاړي .

له پښتو او دري سره د افغانستان زياتره خلك اشنايي لري او د دولت رسمي ژبې دي. په هغو سيمو کې چې زيات خلك يې له ازبکې، ترکمني، پشه يي، نورستاني، بلوچي گوجري او يا پاميري ژبو څخه په يوه ژبه خبرې کوي، هلته له پښتو او دري سربېره هغه ژبې د دريمې رسمي ژبې په توگه دي.

## په ټولگي کې د ننه فعاليت:

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او هره ډله دې له لاندنيو موضوعگانو څخه په يوه موضوع پخپلو منځوکې بحث وکړي. يو تن دې د خپلې ډلې په استازيتوب، موضوع ټولگيوالوته شرحه کړي.

- د افغانستان خلك په کوموژبو خبرې کوي. کومې ژبې دکوم دليل له مخې رسمي دي؟
- اندو اروپايي ژبه په څو برخو ويشل شوې ده ؟ د هر گروپ مشهورې ژبې له سيمو سره واضح کړئ.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ .

۱- په هندواروپايي ژبو کې کومې ژبې شامليږي ، نومونه يې وواياست ؟

۲- پشه يي ژبه دهېواد په کومه سيمه کې رواج لري؟

۳ . ولې پښتو اودري رسمي ژبې دي؟

٤ . کومې ژبې په کوم دليل د دريمې رسمي ژبې حيثيت لري؟

## له ټولگي څخه دباندې فعاليت:

د افغانستان مهمې ژبې په ترتيب سره په يوه جدول کې وليکئ.

## حمل او نقل او نړيوالې اړيکې:

اړيکې له مخابراتو ( د افکارو د تبادلې بر قرار ول او د پيغامونو استول او اخيستل)، ترانسپورتيشن يا د مالونو ، خلکو او انرژيکې توکو ليږد او را ليږد څخه عبارت دی .

مواصلاتي لارې د ټولنې او يوه هېواد داقتصادي، ټولنيز او په پای کې د سياسي،کلتوري او اداري پرمختګ بنسټ ګڼل کېږي. ټولې اقتصادي (کرنيزې، صنعتي او تجارتي)، ټولنيزې، فرهنګي او سياسي اړتياوې د مواصلاتي کرښو له ترقۍ او پرمختګ پرته امکان نه لري. د يوې هوسا ټولنې اقتصادي او صنعتي پرمختيا د مواصلاتي کرښو او نقليه وسيلو په پرمختګ او ترقی پورې اړه لري.

مخ پرودې هېوادونه چې د اقتصادي او صنعتي پرمختګ لومړني پړاوونه وهي، تر ټولو لومړی بايد مواصلاتي او ترانسپورټي شرايط چمتوکړي چې توليدي او تجارتي وسايل اوکسب اوکار وده اوپراختيا ومومي.

د مواصلاتو د اقتصادي اهميت په هکله په لنډه توګه ويلی شو چې:

- له منظمو ترانسپورتي لاروڅخه دګټې اخېستنې په سبب په بازارونوکې دکاليو بيه کمېږي.
- دسون دتوکوپه لګښت کې سپما راځي او د سوداګرو مالونه د وخت له ضايع کېدلو پرته بازارونو ته ليږدول کېږي.
- بيلا بيل قومونه ديو او بل له دود او دستور څخه خبرېږي. د هېواد ملي يووالی تامينېږي. په دې ډول په ستونزواخته سيموته په چټکۍ مرستې استول کېږي. د يادونې وړ ده چې د نړۍ په ټولو هېوادونوکې ليږد او راليږد د استوګنې د ځای په غوره کولو ، د صنعتي مرکزونو ، مرکزي دفترونو، شرکتونو ، مارکېټونو او مغازو د ځای په ټاکلو کې هم اغيزه لري . د مثال په توګه زياتو ترانسپورټي لګښتونو څخه د مخ نيوې په خاطر ځينې کارخانې د اومو يا لومړنيو توکو اوځينې وخت دخرڅلا و با زارونو ته نږدې جوړېږي .

مخابرات Tele Communication د خلکو ترمنځ د ليکنو، غږونو، عکسونو يا د دوی په

واسطه د افکارو، احساساتو او اطلاعاتو د تبادله کولو معنا لري، یا په بل عبارت مخابرات د خبر، احوال، تجارتي ، صنعتي، رسمي، شخصي پیغامونو او د معلوماتو د وړاندې کولو او رسولو وسیله ده چې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته کېږي چې دننه او بهر بېلا بېلې سیمې سره نښلوي. د اړیکود ټینګولو لپاره له بېلا بېلو ډولونو او وسیلو څخه ګټه اخیستل کېږي، لکه: اخبار، راډیو، تلګراف، ټیلفون ،عادي او موصور موبایل ، تلویزیون، پُست، فکس او عادي او مصور انترنیت .

دغه ټول له لېرې واټن څخه د اړیکو د ټینګولو چټکې وسیلې دي. په اوسنۍ نړۍ کې غږ او عکس د الکترونیکې بهیر په توګه د سیم، راډیو او تلویزیوني څپو په واسطه د فضاء له لارې اونورې څپې د نورې فایبر په واسطه سره نښلي. راډیویي اونوري څپې په یوه ثانیه کې د ۳۰۰۰۰۰ کیلومتره واټن په چټکۍسره حرکت کوي. په داسې حال کې چې د الکترونیکې نښو لېږد هم په همدې اندازه کې دی.

د مخابراتود اهمیت په هکله دیادونې وړ ده چې داړیکو دې برخې ته د ټولنې داعصابو اصطلاح ورکړشویده. ځکه چې په ټولنه کې د افکارو د انتقال او تبادلې ښه و سیله ده، په هغو ټولنو او هېوادونوکې چې مخابرات یې ښه فعال دي، په دې معنا چې د ټولنې اعصاب یې ښه کار کوي او ټولنې یې هم ښه پر مختګ کړی دی.

لومړنۍ مخابراتي وسیله د تلګراف اختراع ده چې د مورس د نښو د اختراع له مخې د برېښنا د جریان په واسطه د سیم په اوږدو کې لیږل کېده. نن ورځ عکسونه، غږونه، تلویزیوني عکسونه د سپږمکیو، رادیو او نوري فایبر له لارې له څو ثانیو څخه په لږه موده کې د نړۍ ګرد چاپیره مخابره کېږي.

مصنوعي سپوږمکیو د مخابراتو او اړیکو په برخه کې ډېر لوی انقلاب رامنځته کړی دی چې دټیلفون اومبایل، تلویزیون او انټرنېټ د ټکنالوژۍ د پراختیا سبب شوی دی. د مخابراتو نړیوال کېدل یاګلوبلایزشن ټوله نړۍ په یوه کوچني کلي بدله کړې ده چې ډېر ژر له یو بل سره اړیکې ټینګیږي .

## په ټولګي کې دننه فعالیت:

زده کوونکې دې په مناسبو ډلو وویشل شي او یوه ډله دې په هېواد کې د مواصلاتو اهمیت د اقتصادي زیر بنا په توګه او بله ډله دې د هېواد په ټولنیزو او اقتصادي پرمختګ کې د مخابراتو په رول خبرې وکړي او د فعالیت په پای کې دې د ډلې یو استازې خپل معلومات ټولګیوالو ته وړاندې کړي او ښوونکې دې د ډله ییز فعالیت پایلې له خپلو معلوماتو سره یوځای زده کوونکوته ووایي.

## پوښتنې

لنډ ځواب ورکړئ:

١-مواصلات یا د اړیکو د ټینګولو خانګې کومې دي؟

٢-د مخ پر ودې هېوادونو په اقتصادي پرمختګ کې د مواصلاتو رول توضیح کړئ .

٣-مخابرات تعریف کړئ.

٤-لومړنۍ مخابراتي وسیله معرفي کړئ .

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت:

د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې د مواصلاتو د اهمیت تر سرلیک لاندې یوه مقاله ولیکئ او د جغرافیې د مضمون په راتلونکې ساعت کې یې خپلوټولګیوالوته وړاندې کړئ.

## نړیوال لېږد را لېږد (حمل و نقل)

لېږد رالیږد د بشري ټولنو د اړتیاوو په پوره کولو کې لویه ونډه لري هغه لاملونه چې نړیوال حمل او نقل ته يې وده ورکړې ده ، دا دي :

**د نفوسو زياتوالی** : زيات وګړي دګڼ او زيات ترانسپورټ غوښتنه کوي .څکه نفوس په يوځای کې خپلې اړتياوې نه شي پوره کولی، بايد د خپلو اقتصادي ، روغتيايي ،سياسي ،تفريحي او نورو اړتياوو د پوره کولو لپاره د لیږد له مختلفو وسیلو څخه کار واخلي .

**د بشري ټولنو پرمختګونه او بدلونونه**: د نړۍ په ګڼ شمير هېوادونو کې د خلکو غوښتنې ډيرې زياتې شوي او خلک د پخوا وختونو پرتله زياتې ورځنی کاري او تفريحي بوختياوې لري او له ترانسپورټ څخه استفاده کول زيات شوي دي .

**اقتصادي وده** : د عايداتو زياتوالی د دې لامل شوی چې ترانسپورټي وسايل زيات شي . په پرمختللو هېوادونوکې ډيرئ خلک خپل شخصي موټر لري ، همدارنګه د جنسونو ليږدول او را ليږدول هم ډير شوي دی .

**سيمه ييزه پراختيا** :په ځينو بشري پرمختللو ټولنوکې خلک دخپل کار له ساحې څخه لرې ژوند کوي چې د هغوی تګ راتګ هم د ترانسپورټ د پرمختيا لامل شوی دی .

**د ترانسپورتي لارو او کرښو ښه کېدل** : ښې لارې ليږدول را ليږدول اسانه کوي ، زياتره هېوادونو هڅه کړې چې لويو لارو او ترانسپورتي کرښو ته ښه پرمختيا ورکړې او په هغو کې ښه والی را ولي چې دا هم د حمل او نقل په زياتيدو کې اغيزه لري .

د هېوادونو ترمنځ اړيکې او ارتباطات ډير پراخه شوي دي ، نو له هغو سره سم د وچې ، اوبو او هوايي ترانسپورټ هم ډير پرمختګ کړی دی .

**دحمل او نقل وسايل** : نن ورځ تجارتي مالونه ، اومه توکي ، صنعتي شيان، حيوانات ، غذايي او کاني توکې او داسې نور د بيړيو ، اورګاډو، موټرو او الوتکو په وسيله وړل کېږي اويوه لړه برخه يې په ابتدايي ډول سره د حيواناتوپه ذريعه وړل کېږي .

البته د نړۍ نقلیه وسایلو د خپل پرمختګ یوه اوږده دوره تیره کړي ده چې نننۍ بڼه یې غوره کړیده. بشر کوښښ کړی دی چې په لږې قوې سره ډیر مالونه په اسانه او ارزانه توګه په ډیره چټکۍ سره له یو ځای څخه بل ځای ته یوسي . په هرصورت د نړۍ د نن ورځې د حمل او نقل وسایل په دریو مهمو برخو ویشل کېږي چې له وچې (بري) ، د سمندرونو او هوایې نقلیه وسایلو څخه عبارت دی .

**دوچې ترانسپورټ** :د انسانانو د حمل او نقل لومړنۍ وسیله له کورنیو څارویو څخه شروع کېږي . چینایان چې د ډېر پخواني او لرغوني مدنیت څښتنان دي په ۲۷۰۰ ق.م کې یې د کلیو او ښارونو تر منځ سړکونه درلودل . په لویدیځ کې د رومیانو د امپراتورۍ په وخت کې منظم سړکونه جوړ شول . دموټرو او داورګاډو په کار اچولو سره د سړکونو او پټلیو جوړولو ډیر پرمختګ وکړ . په لومړیوکې سړکونه خامه او اوار وو او وروسته یې په محدبه بڼه بدلون وکړ او د فرشولو لپاره یې له خښتو او کاڼو څخه کار اخېسته ، تر څو په ۱۹م پیړۍ کې د امریکامتحده ایالتونو د سړکونو د جوړولو لپاره له قیر څخه کاروا‌خېسته او په ځینو تودو سیموکې د کانکریت څخه هم کار واخېست چې ډېر مقاومت ولري . نن ورځ ټول هېوادونه کوښښ کوي چې مواصلاتې منظمې کرښې ولري .

**موټر**: د لومړي ځل دپاره په ۱۸۷۰م کال کې هغه موټر چې د بخار د ماشین په واسطه یې کار کاوه د امید بولي Amide _Bole انګلیسي لخوا اختراع شو او وروسته پیوجیوټPeugeot فرانسوي په ۱۸۹۱ م کال کې دپترولو موټر اختراع کړ. له دې امله فرانسې تر ۱۹۱۰م کال پورې د موټرو په جوړولوکې لومړی مقام درلوده .

**داوسپنو لارې** : د اوسپنو دلارو اطلاق په ماشین او لوکموتیف (اورګاډی) باندې کېږي، چې یو شمیر واګونونه په دوو برابرو پولادي پټلیو باندې راکاږي . لومړنیو اورګاډو د ډبرو سکرو په واسطه کار کاوه ، خو اوس زیاتره اورګاډي د بریښنا په ذریعه حرکت او فعالیت کوي. دا چې لوکموتیفونه کولای شي دمسافرینو او مالونو زیات شمېر واګونونه ولېږدوي ، نو ځکه زیات اهمیت لري . داسپنو اوږده لیکه په روسیه کې جوړه شویده چې اروپایي ، امریکایي او آسیایي هېوادونه هم ورڅخه ګټه اخلي .

**د اوبو ترانسپورټ** : په هغه وخت کې چې دبړاس ماشین منځته نه و راغلی او صنعتي انقلاب نه و شوی په وچه او هوا کې نقلیه وسایلو لا تکامل نه وکړی ، انسانانو بادبان لرونکې بیړۍ پیژندله چې د مسافرینو او دمالونو په وړلو او راوړلو کې ورڅخه کار اخیستل کېده . له دې امله تر ټولو پخوانۍ نقلیه وسیله چې بشر ورڅخه زیات کار اخېستی دی ، اهلي حیوانات ، بیړۍ او اوبه دي .

په لومړیو کې بیړیو چلوونکو نشوکولای چې د سمندرونو غاړې پرېږدي او دسمندرونو منځ ته ور داخل شي ، خو کله چې مسلمانانو له چینایانو څخه د قطب نما جوړول زده کړل او وروسته اروپائیانوله مسلمانانو څخه د قطب نما جوړول یاد کړل او له هغې څخه یې د لوري په ټاکلو کې ګټه واخېسته، د بیړیو د چلولو دویمه مرحله پیل شوه . کله چې په ۱۸ . ز. پیړۍ کې جیمز واټ Gems watt انګلیسي په واسطه د بخارماشن اختراع شو، په رشپیل او بادبان لرونکو بیړیوکې هم د بخار ماشین نصب شو او ډېروسکرو په ځواك به یې حرکت کاوه په بیړیو کې د بخار له ماشین څخه په ګټې اخېستنې سره دبیړیو ځواك ، ظرفیت او چټکتیا ډېره زیاته شوه او د بیړۍ چلونې دریمه مرحله له همدې ځایه پیل کېږي.

د نړۍ یوشمېر سیندونه په طبیعي توګه د بیړیو چلولو وړ دي ، لکه : په انګلستان کې د ټایمز سیند او داسې نور .ځینې نور سیندونه د کانالونو په کیندلو سره د بیړیو چلولو ته برابر شوي دي . یوشمیر سیندونه چې سیلابي ، ډېرین ، تند او یا د لږو اوبو در لودلونکي بهیر ولري د بیړیود چلولولپاره وړ نه دي .

بیړۍ د مختلفو موخو لپاره جوړې شوي دي. لکه: پیك بوټ Pique boat ډوله بیړۍ د انسانانو د مسافرت لپاره ځانګړې شوي دي. کارګو Cargos دا ډول بیړۍ د مالونو د حمل او نقل لپاره ځانګړی شوې دي، هغه هم ځینې دمبوو ، سکرو...د کارګو په نوم یادیږي . میکس Mext بیړۍ: له دې ډول بیړیو څخه د مسافرینو او مالونو دواړو لپاره ګټه اخېستل کېږي .



نړيواله سمندري سوداګري په میلیون متریک ټن

## د نړۍ سمندري لارې

الف- د انتلانتيک سمندري لارې :څرنګه چې د دې سمندر په ختيځ او لويديځ کې د اومو توکو او د صنعت دوې لويې منطقې چې د اروپا او افريقا او شمالې ا وسويلي امريکا څخه عبارت دي واقع دي د بيړيو چلوولو له پلوه لومړی ځای لري .ډير لوی بندرونه لکه: په متحده ايالتونوکې نيويارک او چارلستون ، په ارجنتاين کې بونس ايرس ، په برازيل کې سائوپاولو... په هالينډکې امستردم ، په فرانسه کې بردوکس اولوهاور... آباد شوي او ډيري لارې ددې دريو قارو د اړيکو دټينګولو لپاره جوړې شوي دي .

د هند د سمندر لارې : د هند سمندر د سويز کانال او هم دسويلي افريقا د يو شمير سوداګريزو بيړيو لاره ده. ددې سمندر په غاړه کې په آسيايي او افريقايي هېوادونو کې لوی بندرونه، لکه : په تانزانيا کې دارالسلام ، په کېنيا کې مومباسا ، په جنوبي افريقا کې کيپټاون ، په پاکستان کې کراچۍ ، په هند کې بمبيي اوداسې نور جوړشوي دي .

د پسفيک يا د ارام سمندر لارې : دا لاره شمالي او سويلي امريکا په ځانګړې ډول متحده ايالتونه له جاپان ، فلپاين ، استراليا ، نوي زيلانډ، فارموسا (تايوان ) او د سويل ختځی آسيا د هېوادونوسره نښلوي. همدارنګه هاوايي ټاپوګان ( د متحده ايالتونو پنځوسم ايالت ) او د آسيا ختيځ او سويل ختيځ او د استراليا په شاوخواکې زرګونو ټاپوګانو په دې سمندر کې بيړۍ چلونې ته خاص ارزښت

ورکړې دي او لوی سمندري بندرونه، لکه : په متحده ایالتونو کې لاسنجلس، سانفرانسسکو، په استرالیا کې سدني او ملبورن ، په چین کې شانګهای... جوړ شوي دي .

د مدیترانې سمندرګی د هند او اطلس سمندرونه سره نښلوي ، د مدیترانې سمندرګی چې د اروپا ، افریقا او آسیا دلویو وچو ترمنځ پروت دی په ځانګړي ډول یې د سویز کانال تر پرانیستلو وروسته د بیړیو په چلولوکې ډېر ارزښت پیداکړ .

بالتیک سمندرګې هم تر یوې اندازې پورې د بیړیو په چلولو کې زیات ارزښت پیداکړ .

په شمالي او سویلي کنګل سمندر کې د علمي کشفیاتو لپاره په ځانګړو بیړیو سره په ستونزمنه توګه د بیړیو چلول ممکن دي .

**هوایې ترانسپورټ** : د نقلیه وسایلو په منځ کې ډېر نوی ترانسپورټي وسیله ده خو بیا هم د هغې پا ملرنی له مخې چې په دې برخه کې شوی ده واقعاً یې ډېر پرمختګ کړی دی چې بیلګه یې په نورو برخوکې نه شو لیدلای ، الوتکې نه یوازې په اقتصادي او تجارتي مسایلو کې مهم رول لري، بلکې حربي، پوځي او سیاسي مسایل یې هم ترخپلی اغیزې لاندې راوستي دي . الوتکو په خپل حرکت کې دچټکتیا ، ارامی او د نظم په سبب خپل برلاسی نسبت نورو وسایلو ته ثابت کړی دی .

الوتکې د مسافرینو او هغو مالونو د وړلو لپاره چې حجم یې لږ او ارزښت یې ډیر وي ،کار ول کیږي .

د ترانسپورټي وسیلې په غوره کولو کې ډیر لاملونه، لکه: د بارولو او کښته کولو بیه ، واټن ، د مالونو اندازه ، وزن او داسې نور اغیزمن دي . پخوا د ترانسپورټ په غوره کولوکې دترانسپورټي لیږد بیې ډیر رول درلوده خو اوس ډاډمن لیږد، د مالونو جنسیت او د ترانسپورټي لیږد بیه ډیر ارزښت لري . دیادونې وړ ده چې زیات لیږدول – رالیږدول هم ستونزې ډیروي چې یو شمیر دغه ستونزې په دې توګه دي :

۱- د ژوند د چاپیریال ککړتیا : ترانسپورټي وسایل په خپلو لوګیو ، لوخړو او ګازونو، لکه: نایتروجن دای اکساید Nitrogen dioxide ، کاربومونواکساید co ،کاربون دای اکساید co2، دوړې او خاورې هوا ککړوي او د ژوند چاپیریال بوي ناک او له غږ زوږ څخه ډکوي .

۲- د زیاتو وسایلو له امله ځنې وخت لارې بندې او د ترانسپورتي وسایلو ګڼه ګوڼه د دې لامل کیږي چې خلك او مالونه په خپل وخت اړینو ځایونو ته ونه رسیږي .

۳- زیات لیږدول – رالیږدول تراوسه پورې د ترافیکي ناوړه پیښو لامل کیږي چې له دې امله یوشمیر خلك خپل ژوند له لاسه ورکوي .

٤-په ترانسپورټي لارو او کرښو باندې ډیرې ښې حاصل ورکوونکې ځمکې نیول کیږي .

٥- له نفت وړونکو بیړیو څخه د تیلو څڅیدل او پریمنځل د سمندرونو د اوبو دککړتیا سبب کیږي .

## د ټولګي دننه فعالیت :

زده کوونکي دې د لیږدولو – را لیږدولو د هغو د اسانتیا وو او ستونزو په هکله چې د ترانسپورټي وسایلو له امله پیدا شوي دي، بحث وکړي او د ډلې استازي دې هغه ټولګیوالو ته ولولي .

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ .

۱-کوم لاملونه د نړیوال حمل او نقل د پرمختیا لامل شوي دي ، نوم یې واخلئ او توضیح یې کړئ .

۲-سره له دې چې لیږدول – رالیږدول زموږ په ژوند کې ډیر زیات اهمیت لري ، خو کومې ستونزې یې را منځته کړې ؟

۳-د اوسپنې کرښې څه اقتصادي ارزښت لري ؟

٤- د هوایي ترانسپورټ په واسطه کوم توکي لیږدول کیږي ؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت :

د اورګاډي ، داوبو ترانسپورټ او هوایي ترانسپورټ ښیګڼې ولیکئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې ټولګیوالو ته وواياست .

# اړیکې او نړیوال کېدل Globalization

انترنیټ






نوري فایبر



سپوږ مکۍ

## آیا دنړیوال کېدو له موضوع سره آشنایاست؟

هغه پرمختګونه چې د پوهنې په بیلابیلو برخوکې رامنځته شوي، لکه: مخابرات، په تیره بیا هغه معلومات چې د مصنوعي سپوږ مکیو، رادار، انترنېټ او داسې نورو څخه لاس ته راځي، نړۍ یې له پخوا څخه ډېره نژدې کړې ده او دهېوادونو ترمنځ اړیکې یې ټینګې کړې دي.

له لیرې څخه معلوماتو Remote sensing په سوداګرۍ، صنعت، ترانسپورټ( ځمکني، هوايي اوسمندري)، فرهنګ او له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته او د هېوادونو ترمنځ د مالونو او کالیو په لېږ دولوکې آسانتیا را منځته کړې ده، نو له همدې امله د ټولو مسآلو نړیوال کېدلو، په تیره بیا په جغرافیه کې الکترونیکې مخابراتو او د مصنوعي سپوږ مکیو اړیکو خپل حقیقي اړخ غوره کړی دی. دیادونې وړ اسانتیاوې یې د جغرافیې په بیلابیلو برخوکې برابرې کړې دي او په دې اساس یې له نړۍ څخه په یوه لوړ مقیاس کې د انسانانو ګډکور جوړ کړ. دساینس او تکنالوژۍ په پرمختګ او فضا ته د انسان په سفر سره او دغه راز د فضايي تم ځایونو د را منځته کېدو او دځمکې شاوخوا ته د مصنوعي سپوږمکیو په لیږدولو سره انسانانو وکولای شول چې د هغو په مرسته په بیلابیلو برخوکې یوله بل سره اړیکې نژدې کړي. دمثال په ډول د مصنوعي سپوږمکیو په مرسته انسان کولای شي له کابل څخه نیویارک، کاناډا او دنړۍ نورو لېریو سیمو ته، له مکاني

واړن څخه پرته په ډېرلږ وخت کې تماس ونيسي.

په دې سربېره په سوداګرۍ، بانکي چارو، د اسعارو په تبادله او راکړې ورکړې، فرهنګي او ترانسپورټي چارو او پوځي چاروکې دنړۍ ټولې سيمې د معلوماتو د پوښښ لاندې راولي، نو زماني او مکاني واټن د تماس لپاره نژدې شوي دی، چې د نړيوالتوب Globalization مفهوم افاده کوي

د اړيکو پر مختګونه يا Telecommunication لکه پرمختللی رادار، ټيلېفونونه، موبايل، انټرنېټ، فکس او د نړۍ د سپوږمکيو سيستمونه د نړۍ هېوادونه يوبل ته نژدې کړي او هغه واړن چې د نړۍ د هېوادونو ترمنځ موجود و، له منځه لاړ.

د ارتباطي او اطلاعاتي وسيلو چټکه وده ،لکه: فکس Fax، کمپيوټر Computer، انټرنېټ Internet، ټيلېفون Telephone ، تلويزيون Tv او داسې نورو د هېوادونو د نژدې کولو لپاره زمينه برابره کړې ده

د اړيکو دغه پروسه د نوري فايبر يا الکترونيکي اسانتيا وو په مرسته اسانه شوې ده او د زرګونو کېلو مترو واړن په څو ثانيوکې تنظيموي. دغه په نړۍ کې د ارتباطي مسايلو دنړيوالتوب ګټه ده.

## په ټولګي کې دننه فعاليت:

زده کوونکې دې په دريو ډلو له ويشلو څخه وروسته دنړۍ د دريوو مهمو وسيلو، لکه: راډيو، تلويزيون او ټيلېفون په باره کې بحث وکړي او دبحث پايله دې د ډلې استازي خپلوټو لګيوا لو ته بيان کړي او ښوونکی دې له خپلو معلومات سره د فعاليت نتيجه را ټوله کړي.

## پوښتنې:

له څلور ځوابونو څخه سم ځواب غوره کړئ.

١- ټيلېفون دلاندې موضوعاتو لپاره کارول کېږي:

الف: د کالیو تبادله | ب: د سوداګریزو کالیو تسلیمول
ج: د موسسو او افرادو ترمنځ د اړیکو تامینول | د: هیڅ یو سم نه دی

جمله بشپړه کړئ:

۲ - انټرنېټ په نړۍ کې ..................... ښه وسیله ده.

لنډ ځواب وواياست:

۳-ګلوبلایزشن Globalizaton مفهوم توضیح کړئ.

٤-د نړیوالو اړیکو اوسنۍ پرمختللی وسېلې معرفي کړئ .

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

ارتباطي وسایل کوم مفهوم افاده کوي او ارزښت یې په کومه برخه کې دی؟ مهرباني وکړئ هغه په کتابچو کې ولیکئ او دجغرافي په راتلونکې ساعت کې یې شرح کړئ.

## الف: پُستpost په نړۍ کې:

له ډیرې پخوا زماني را هیسې په نړۍ کې دپُستي سیستم شتون در لوده .نوموړي فعالیتونه په چین، مصر، یونان اود پخواني روم په امپراتورۍ کې له حیواناتو او الوتونکو څخه په ګټې اخیستنې سره سرته رسیدل او پیغامونه به یې لیږدول . کله چې په اقتصادي برخه کې مختلفې مشغولتیاوې رامنځته شوې د پُستي اړیکوپه واسطه یې اړتیاوې پوره کېدلې. په هغه وخت کې پُستي تشکیلات نیمه دولتي وو، چې دغه حالت د منځنیو پیړیو ترنیمایي پورې دوام وکړ، خودغه کار ورو ورو بدلون وکړ. کله چې غوښتنې زیاتې شوې، پُست غوره پرمختګ وکړ. همدا رنګه د امویانو او عباسیانو د امپراتورۍ په دوره کې د پُستي له سیستم څخه ګټه اخیستل کېده او هغه یې د ښارونو او هېوادونو د امنیت لپاره ډیره ښه وسیله ګڼله. د هارون الرشید په زمانه کې خالد برمکي د امپراتورۍ د پُستي د متصدي په توګه مقررشوچې د البرید په نوم یادیده.

د چاپ د ماشین اختراع او په بیلابیلو هېوادونوکې د لیک لوست او لومړنیو زده کړو زیاتیدلو، دنوو لویو وچو کشفېدلو، د حمل ونقل د وسایلو زیاتوالی ، دتګ او راتګ لپاره اسانتیاوې او دهغو تر منځه اړیکې زیاتې کړې چې په پای کې په اړیکو کې وده زیاته شوه.

په شپاړسمې میلادي پیړۍ کې پُست د هېوادونو له سرحدونو څخه بهر شو او د فرانسوا تاکسي په همت د لومړي ځل لپاره پُستي خدمتونه رامنځته شول او په اروپاکې څو هېوادونه د پُستي موادو په تبادلې چې یوازې لیکونه یې احتواکول، لاس پورې کړ.

په ۱۸ مې پیړۍ کې پُستي ساحه پراخه شوه. هېوادونو د خپل منځي پُستي دتبادلې لپاره دوه اړخیزې سراسري موافقتنامې لاسلیک کړې.

د نړۍ پستي اتحادیه د ټولومتمدنو هېوادونو ترمنځ دلومړي ځل لپاره په 1868 میلادي کا ل کې دهانري په وړاندیز سره را منځته شوه . وروسته د ۱۸۷٤ میلادي کا ل د ستمبر په ۱٥نیټه د ۲۱ غړو هېوادونو ترمنځ د کنفرانس په پایله کې چې د برن د معاهدې په نوم یادیږي، لاسلیک شوه،

نومورې پریکړه په حقیقت کې دپُستې  اتحادیې بنسټ ګڼل کېږي. کله چې د پست دعمومي اتحادیې سره ډېر شمېر هېوادونه یو ځای شول د پست د جهاني اتحادیې په نوم ونومول شوه چې په ۱۹۹۶ م کا ل کې یې دغړو شمېر ۱۸۹ هېوادونوته ورسید.

## ب: په نړۍ کې ټیلیفون او موبایل: Telephone and Mobil

په عصري تکنالوژۍ کې ټیلفون  Telephone او موبایلMobil  په ډله ییزو رسنیو کې د اړیکو ډیره مهمه برخه لري . دلومړي ځل لپاره ګرا هامبلGraham  Bell ټیلفون اختراع کړ، چې د انسانانو په ژوندکې لوی ګام و. وروسته بې سیمه ټیلیفون  اختراع شو چې په 1897 میلادي کال کې   دګلګیومارکوني Gugilemo Marcone په واسطه له اروپا څخه د اطلس د سمندر څخه هغه خواته لومړنی پیغام مخابره شو. دغه ازمایښت و ښودله چې د رادیوي څپو په واسطه د اړیکو نیول امکان لري چې دغه عمل د شفاهي پیغام د لیږلو پیل دی چې له یوه سرې څخه بل سرې ته دکوچني ماشین په واسطه استول کېږي.

په ۱۹۴۷ میلادي کا ل کې د نړۍ د مخابراتو په برخه کې د تر انزېستور Transistor اختراع زیاتې اسانتیا وې رامنځته کړې. د Mobile Radio Communication له لنډې تاریخچې څخه دا  څرګندیږي چې د مخابرې د انفرادي خدماتو پروګرام په ټولنیز ژوندانه کې د اړیکو د زیاتو پر مختګونو سبب شوی دی.

بې سیمه ټیلیفون  چې لاتین نوم یې سیلولر Cellular  دی، هغه ډول پرمختللي ټیلیفون ته ویل کیږي ،چې د دوه تنو تر منځ اړیکې ټینګوي او هرځای ته د انتقا ل وړ وي. دسیلولر کلمه دCells یا حجرې له کلمې څخه اخیستل شوې ده، چې د موخو له مخې لویه یا کوچنۍ ساحه د موبایل تریوښښ لاندې راولي، چې دغه کار د موبایل دکمپنۍ په ظرفیت پورې اړه لري او د هغې له مخې ټاکلې ساحه تر پوښښ لاندې راځي.

## فکسFax :

فکس نوي تکنالوژي ده چې په ۱۹۲٤ میلادي کا ل کې د ریچارد رنجر  Rechard H

Ringerپه واسطه اختراع شو او لومړنی پیغام یې له نیویارک څخه لندن ته واستوه. له همدې امله فکس له ډله ییزو رسنیوڅخه دی چې د هغه په واسطه شخصي او رسمي پیغامونه، سوداګریز، حقوقي او صنعتي معاملات او داسې نور په لیکلي ډول په لنډ وخت کې لیرې او نژدې سیمو ته سملاسي استول کېږي. په ۱۹۷۰ میلادي کال کې د ماشین په جوړښت او برخوکې دسمون لپاره بدلونونه رامنځته شول. فکس د لیکلي پیغام د انتقال وسیله ده چې د کاغذپرمخ لیکلي پیغامونه اوګذارشونه دې ماشین ته ننه باسي او په څو ثانیو کې ټاکلي ځای ته رسېږي. فکس میخانیکي وسیله ده چې دهغې په واسطه اطلاعات او اسناد په لیکلي ډول د یوه سند په توګه انتقالیږي.

## انټرنېټ او ایمیل:Internet and Email

کمپیوټر د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې په کار پیل وکړ. کله چې ویلیم شاګلي ډیجیټل Digital ماشین کشف کړ، کمپیوټر نوره هم وده وکړه. انټرنېټ د کمپیوټر ځانګړی پروګرام دی، چې د یوې بېلې شبکې په واسطه له کمپیوټر سره نښلول کېږي او بېل بېل پروګرامونه لري ،چې نه یوازې پیغامونه انتقالوي ، بلکې تصویرونه، علمي متنونه او نور ټولنیز، سوداګریز، سیاسي او داسې نور د کمپیوټر له لارې د انترنت په واسطه د پام وړ شخص ته رسوي. هر څوک او هره موسسه کولای شي په بیلو ادرسونو خپل ځانګړي سایتونه پرانیزي او له هغو څخه ګټه واخلي.

انټرنېټ یو تنظیم شوی سیستم دی چې د بشر په نننی تکنالوژی کې د پیغامونو او اطلاعاتو په انتقال کې دچټکې او ښې سر چینې په توګه کارول کېږي.

ټول اسناد چې د انټرنېټ له لارې په کمپیوټر کې شامل شي، له چاپ وروسته لاس ته راځي انټرنېټ ډېره ښه ارتباطي وسیله ده، چې د نړۍ ټول هېوادونه په دې پروګرام کې شامل دي. له ۱۹۶۰ میلادي کال څخه مخکې د انټرنېټ په واسطه هیڅ ډول اسانتیاوې نه وې ، لومړنۍ ځانګه یا دیپارتمنت چې د کمپیوټرماشین په واسطه یې د مخابراتو اړیکې جوړې کړې د امریکا دمتحده ایالتونو پوځي څېړنیز مرکز ( D O D.) و.

د امریکا په متحده ایالتونوکې د کمپیوټري ماشینرۍ مؤسسه A C M یاد A R P A دفتر و چې کوچنی ماشین یې جوړکړ چې له یو کمپیوټر څخه بل کمپیوټر ته معلومات انتقا ل کړي. له یوه کمپیوتر څخه بل کمپیوتر ته د پیغام انتقا ل په دې پورې اړه لري چې لومړی دغه پیغام د (I M P) Interface Massage Process په واسطه په کمپیوټرکې دا خل شي.

دکلیفورنیا اولاس انجلس پوهنتونو نو وکولای شول چې په ۱۹۶۹ کال کې د انترنېټ په واسطه د یوتا Utah له پوهنتون سره اړیکې جوړې کړې. د انترنیټ پروګرام په ۱۹۷۲ میلادي کا ل کې دنړۍ په سطح په کار پیل وکړ.

د انترنېټ اړیکې له سپوږمکېو او نوري فایبر سره زیاتره پیغامونه اوکرنیز، اقتصادي معلومات اوداسې نور په دقیق ډول له ځمکې څخه اخلي او دویم ځل یې خپل اړوند مرکزونو ته مخابره کوي .

ایمیل Electronic Mail هم نوې تکنالوژۍ شمېرل کېږي چې د سوداګریزو، صنعتي، سیاسي، فرهنګي او انفرادي پیغامونو په لېږلوکې ډیرې سترې دندې سرته رسوي او د همدې ماشین په مرسته دلیرې او نژدې واټن ترمنځ ډیر ژر ارتباطات تامینیږي. لنډیزېې ایمیل (e- mail) دی.

## هـ - د سپږمکیو شبکه :Satellite Network

د سپوږمکۍ مخابراتي سیستم د کمپیوټر او ټیلېفون په مرسته سرته رسیږي چې د سیلو لر ټیلېفون cellیاcellular phone په نوم یادیږي. د سپوږمکۍ مخابراتي سیستم د نوې تکنالوژۍ پیچلی سیستم دی چې له فضا څخه ځمکې ته اطلاعات لېږي چې د Down Link اوهغه پیام چې له ځمکې څخه فضا ته لیږی د up Link په نوم یادیږی. سپوږمکۍ په فضا کې د استوا په کرښې عمود ، مایل یا موازي په ټاکلو مدارونوکې د ځمکې په شاوخوا ځای پر ځای دي. ځینې مصنوعي سپوږمکۍ له ځمکې څخه په یوه نقطه کې ثابتې ساتلې کېږي چې دا حالت د جیو ستشنري Geo Stationary په اصطلاح یادېږي.

ټول مخابراتي مسایل د سپوږمکیو له لارې تنظمیږي، لکه: رادیو، تلویزیون او داسې نور. زیاتې سپوږ مکۍ په فضاکې د پیغا مونود لیږلو او رادیوي څپو لپاره فعالیت کوي او ټولې نړۍ ته د رادیو

ځانګړې ځپې لېږدوي. په ځينو نورو مخابراتي برخو کې ،لکه: نظامي، استخباراتي او داسې نوروکې هم فعاليت کوي.

## په ټولګي کې دننه فعاليت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وويشل شي او هره ډله دې دپستې، فکس ، انترنت، ايمل اوسپوږمکېو د شبکې د خدمتونو په هکله په خپلو منځو کې بحث وکړي او د بحث پايلې دې خپلو ټولګيوالو ته ووايي.

## پو ښتنې :

لاندې جملې بشپړې کړئ .

۱-د................. په همت لومړی ځل د هېوادونو ترمنځ پستي لېږد را لېږد را منځته شو .

۲-فکس د ................. په واسطه اختراع شو.

۳-ټولې مخابراتي موضوعات د.......... او .................. په واسطه تنظيمېږي .

لنډ ځواب ورکړئ:

٤-دفکس د استعمال څرنګوالی بيان کړئ .

٥- انترنيټ څرنګه وسيله ده ؟

سم ځواب غوره کړئ .

٦-د ټيليفون مخترع څوک دی.

الف –ګرا هامبل ب – انتوني ج- ماريا د –ګګليموماركوني

۷- سيلولر عبارت دی له :

الف: يو ډول پرمختللی ټيليفون دی چې د دوو کسانو تر منځ اړيکې ټينګوي .

ب: انترنېټي ساحه ده. ج: د انالوګ ټيليفون ساحه ده . د: هيڅ يو .

## له ټولګي څخه بهر فعاليت :

زده کوونکې دې ديوی مخابرتي وسيلې په هکله چې د انسانان په ورځني ژوندکې زيات ارزښت لري، مقاله وليکې چې د له يوه مخ څخه لږه نه وي .




## د نړۍ نفوس

د نړۍ نفوس په ډېره چټکۍ زیاتیږي، ځکه چې زیږوونه Birth Rate له مړینې Death Rate څخه زیات دي.

د شلمې پیړۍ په پیل کې د نفوسو دغه زیاتوالی هر کال ۱۰ میلیونه تنه، دهمدې پیړۍ په نیمایي کې ۳۵- ۴۰ میلیونو پورې او اوس له ۶۰ څخه تر ۶۵ میلیونو تنو پورې زیاتیږي.

د ملګرو ملتونو د احصایې له مخې د نړۍ نفوس

| اضافي معلومات | |
|---|---|
| کال | د ځمکې ټول نفوس |
| ۱۹۰۰ میلادي | ۱,۶۱۷ میلیارده تنه |
| ۱۹٤۰ // | ۲,۲۵۲ میلیارده تنه |
| ۱۹۶۰ // | ۲,۹۸۲ میلیارده تنه |
| ۱۹۷۰ // | ۳,۶۱۰ میلیارده تنه |
| /۱۹۷۹/ | ٤,۳۳۶ میلیارده تنه |
| ۲۰۰۸// | ۶,۶۰۰ میلیارده تنه |
| ۲۰۱۰ // | ۶,۸ میلیارده تنه |
| ۲۰۱۶// | ۷ میلیارده تنه |

د پاسني جدول له مطالعې څخه دې نتیجې ته رسیږو چې د نړۍ نفوس په وروستیو ۵۰ کلونو کې په ډېره چټکۍسره زیات شوي دي.

د نفوسو دغه زیاتوالی په دوو لاملونو پورې اړه لري:

- د نفوسو طبیعي زیاتوالی،
- د نفوسو میخانیکي زیاتوالی .

## الف: د نفوسو طبیعي زیاتوالی: Natural Increas

د نفوسو دغه زیاتوالی د زیږونونو په زیاتوالي او د مړینې په لږوالي پورې اړه لري. د مثال په ډول که په یوه هېواد کې زیږونونه په زرو کې۴۰ وي او مړینه په زروکې ۲۰ وي د نفوسو زیاتوالی به ډیر زیات وي.

د نفوسو زیاتوالی په ډېرو لاملونو پورې اړه لري چې ډېر زیات مهم یې په یوه هېواد کې ټولنیز اقتصادي او کلتوري لاملونه دي. په تیره بیا د وقایوي او معالجوي طب وده او پرمختیا د نفوسو په زیاتوالي کې ډېر اغېزلري چې له یوه پلوه د مړینې د کموالي سبب گرځي او له بله پلوه منځنی عمر اوږدېږي، خو دنفوسو دغه زیاتوالی د نړۍ په ټولو هېوادونو کې په یو ډول نه دی. موږ کولای شو چې دغه ټول په دوو برخو وویشو:

- لومړی ډول د شمالي امریکا او د اروپا د پانگه والو هېوادونو ، د چین او روسیې هېوادونوځانگړتیا ده. د هغو خصوصیات ډېره لږ زیږونونه دي چې نورهم دکمښت په حال کې دي او لاملونه یې په لاندې ډول دي:

۱- په پرمختللو هېوادونو کې ښاري نفوس زیات وي. ښکاره ده چې زیږونونه په ښاري کورنیو کې له کلیوالي کورنیو څخه لږ وي.

۲- په دې هېوادونو کې ښځې ټولنیزو کارونوته جلب او جذب شوي دي. معمولاً هغه ښځې چې له کور څخه د باندې کارونه لري، نسبت هغو ښځو ته چې کار نه کوي د ماشومانو شمېرېې

لږ وي.

په پرمختللو هېوادونو کې د زېږونونو او مړينو دواړو شمېر لږ دی. د نفوسو طبيعي زياتوالی۵،۰-۱ سلنه يا په زرو کې له۵- ۱۰ پورې وي. کله يې اندازه له دې څخه هم لږه وي. دغه لږ زياتوالی د پرمختللو هېوادونو ځانګړتيا ده.

دويم ډول زياتوالی د مخ پر ودې هېوادونو ځانګړتيا ده ، لکه: په آسيايي، افريقايي او د لاتيني امريکا هېوادونو کې ، چې هغه د زياتو زېږونونو څخه عبارت ده او په لاندې لاملونو پورې اړه لري:

د اقتصادي ودې ډېره ټيټه سطح، د ميکانېزه (ماشيني) کرنې نه شتون، بيسوادي د ډېرو خلکو لپاره د روغتيا ساتنې د شرايطو نشتوالی، په ټولنه کې له عنعنوي فرهنګ څخه د ښځو پيروي کول او د هغوی له وخت څخه مخکې نکاح او داسې نور.

په آسيايي، افريقايي او د لاتيني امريکا په هېوادونو کې د روغتيايي خدمتونو د سمون په پايله کې په مړينه کې کمښت راغلی دی، نو همدغه لامل ددې سبب شوی دی چې نفوس زيات شي. له زيات زېږونونو سره جوخت د نفوسو طبيعي زياتوالی چټک کېږي چې د نفوسو دغه زياتوالی له ۲ څخه تر ۳ سلنه پورې د بدلون په حال کې دی، چې په هرو زرو تنوکې له ۲۰ څخه تر ۳۰ پورې زياتوالی مومي. دغه زياتوالی زياتره د وروسته پاتې ټولنو او هېوادونو ځانګړتيا ده.

ماشومان او نوي ځوانان ( له صفر څخه تر ۱۵کلنۍ) او سپين ږيري ( له ۶۵کلنو څخه د زيات عمر خاوندان) معمولاً اقتصادي غيرفعال نفوس ګڼل کېږي. لويان ( له۱۵ - ۶۵کلنۍ پورې) اصلي توليدوونکې او اقتصادي فعاله ډله شميرل کېږي .

$$\text{د نفوس طبيعي زياتوالی} = \frac{\text{د مړينې شمېر} - \text{د زېږونونو شمير}}{\text{ټول نفوس}} \times ۱۰۰$$

دغه شميرنه بايد ديوه کال په اوږدو کې ترسره شي، پايله يې په سلنه اعلان شي. کله چې زېږونونه

له مړينې څخه زيات وي، د نفوسو طبيعي زياتوالى شتون لري.

## ب: د نفوسو ميخانيکي زياتوالى:

د نفوسود طبيعي زياتوالي سره يوځاى د نفوسو ميخانيکي خوځښت يعنې مهاجرتونه هم د نفوسو په زياتوالي کې د پاملرنې وړ اغيز لري.

په هېواد کې دننه کډوال کېدل يوازې د نفوسو د بيا ځاى پرځاى کېدنې سبب گرځي او د هېواد نفوس بدلون نه کوي او له هېواد څخه د باندې مهاجرتونه د نفوسو په شمېر باندې اغيز لري. که چېرې هېواد ته له باندې څخه مهاجرتونه له هېواد څخه بهرته مهاجرتونو په پرتله زيات وي د نفوسو ميخانيکي زياتوالى را منځته کېږي او برعکس يې د نفوسو د کمښت سبب گرځي. د يوه هېواد د نفوسو په مطلقې ودې کې بايد له زېږونو او مړينو سر بېره مهاجرتونه هم وشمېرل شي.

د نفوسو مطلقه وده = ( د زېږونونو شمېر – د مړينې شمېر) + هېواد ته له باندې څخه مهاجرتونه

.د نفوسو مطلقه وده = (بهرته د مهاجرتونو شمېر+د مړينې شمېر) – زېږونونو شمېر .

دنفوسو ډېره زياته طبيعي او ميخانيکې وده د اضافي نفوسو populated over مسأله رامنځته کوي.د اضافي نفوسو اصطلاح هغه وخت رامنځته او استعمالېږي چې په يوه سيمه کې د منابعو له شتو امکاناتو څخه زيات نفوس استوگنه ولري او يا له ټاکلو ټولنيزو هدفونو څخه زيات وي. کله هم ښايي نفوس مناسب وي، خو نامناسب ويش رواج ولري.

### په ټولگي کې دننه فعاليت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وويشل شي او لاندې جدول دې کاپي او بشپړ کړي او هغه پوښتنه چې له جدول څخه لاندې ليکل شوې ده، ځوابونه دې ووايي او د ډلې استازى دې هغه خپلوټولگيوالو ته وړاندې کړي.

| هېوادونه | د نفوسو ګڼوالی په یوه کیلومتر مربع کې | زېږونونه په ۱۰۰۰ تنوکې | مړینه په زرو تنوکې | طبیعي زیاتوالی په زرو تنوکې | د نفوسو وده په سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| برازیل | ۱۸ | ۲۶ | ۸ | ۱۸ | ۱،۸ |
| ایتوپي(حبشه) | ٤۷ | ٤۹ | ۱۹ | | |
| جاپان | ۲۳۰ | ۱۲ | ۸ | ٤ | ۰،٤ |
| سعودی عربستان | ۸ | ۳۶ | ٥ | | |
| آلمان | ۲۲۹ | ۱۱ | ۱۲ | | |
| کنیا | ٤۷ | ٤۳ | ۱۰ | ۳۳ | ۳،۳ |
| د امریکا متحده ایالتونه | ۲۳۹ | ۱٤ | ۹ | | |
| فرانسه | ۱۰٦ | ۱۳ | ۱۰ | | |
| بنګله دیش | ۷۹۱ | ٤۱ | ۱٤ | | |

الف: دهغو هېوادونو د نفوسو طبیعي وده چې په مخکې یې دایره رسم شوې ده محاسبه کړئ اویه دایره کې یې ولیکئ.

ب: د ټولو هېوادونو طبیعي وده په سلوکې محاسبه کړئ اودې مثال څخه پیروي وکړئ .

که د برازیل په هېواد کې زېږونونه ۲٦ تنه او مړینې ۸ تنه وي د نفوسو وده په زروتنوکې ۱۸ تنه او سلنه یې ۱.۸ ده .

۱۸=۸-۲٦

وفیات– تولدات = دنفوس طبیعي وده.

۱۸=۱۰۰۰

۱۰۰ = x

$$x = \frac{۱۸ \text{ x } ۱۰۰}{۱۰۰۰} = ۱.۸$$

ج: نوموړي هېوادونه د نفوسو دلږې او زیاتې ودې له مخې وویشئ. دغه کار څرنګه کیدای شي؟

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ :

۱- په مخ پرودې هېوادونو کې کوم لاملونه د نفوسو د چټکې طبیعي ودې سبب گرځي؟

۲- د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې کوم لاملونه د ورو ودې باعث گرځي؟

۳- په یوه هېواد کې کوم لاملونه د اضافي نفوس د ودې سبب گرځي؟

٤- د اضافي نفوسو له اصطلاح څخه هدف څه دی، څرګند یې کړئ؟

٥- د ټولنې دعمر په جوړښت او ترکیب کې د طبیعي نفوسو چټکه وده په څه ډول ده ، واضح یې کړئ؟

٦- په هغو هېوادونو کې چې د نفوسو وده یې ورو ده ، د ټولنې د عمر جوړښت په څه ډول دی ،توضیح یې کړئ؟

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

لاندې پوښتنوته ځواب برابرکړئ او د جغرافیې په راتلونکې ساعت کې یې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړئ.

آیا زموږ د هېواد نفوس په چټکۍ زیاتیږي؟ که چېرې دغه نفوس په همدې ډول زیات شي، څه ستونزې به رامنځته کړي؟

# د نفوسو میشتیدل او ګڼوالی




دنفوسو د میشتوالي نقشه

**آیا پوهېږئ چې په ځمکه کې نفوس څنګه میشت شوي دي؟**

د نفوسو د ویش پورتنۍ نقشه په غور ولولئ او ووایاست چې ډېر زیات او ډېرلږ نفوس د نړۍ په کومه برخه کې ځای پرځای شوي دي. ولې؟

د نفوسو ګڼوالی د ځمکې د سطحې په یوه واحده ساحه کې داوسېدونکو خلکو له شمېر څخه عبارت دی. د نفوسو د ګڼوالي د معلومولو لپاره باید د یوې سیمې نفوس د همغې سیمې په پراخوالي وویشل شي.

د نړۍ نفوس په ۲۰۱٦ میلادي کال کې ۷ میلیاردو تنوته ورسیدل چې د ځمکې پرمخ ژوند کوي. دغه نفوس په ټوله نړۍ کې په مساوي ډول نه دي میشت شوي. یاپه بل عبارت اقلیمي شرایط، د ځمکې جوړښت او نور اقتصادي، بشري او سیاسي لاملونه د نفوسو په تمرکز اغېز لري، لکه: دښتي سیمې ( هغه تودې او سوځوونکې سیمې چې پوره اوبه هم ونه لري)، لوړې، نااواره سرې سیمې، د غرونو لړۍ، جبې، ګڼ او لنده بل ځنګلونه، استوایي توده او لنده بله هوا، قطبي سړه هوا، له سواحلو او د حمل اونقل له لارو څخه لیریوالی، د نفوسو ډېره لږه پاملرنه یې ځانته را اړولې ده. آن داچې په ځینو سیموکې د سلونو کیلومترو په واټن په لېرې سیموکې هم د

انسانانو نښې په سترګو نه ښکاري. په داسې حال کې چې د ځمکې په بله سیمه کې لکه: په ښو اقلیمي شرایطو ( معتدله آب او هوا او پوره باران)، مناسب جغرافیایي موقعیت، اوارو او ښېرازو ځمکو، پوره اوبولرونکو ځمکو، د سیندونو او سمندرونو په غاړو، بندرونو، د صنایعو، کانونو او د ارتباطي لارو په شاو خواکې ډېر خلک استوګنه کوي، چې دځینو ځایونو په یوه کیلومتر مربع کې له زرو څخه زیات خلك ژوند کوي. په دې ترتیب په یوه سیمه کې د نفوسو استوګنه د فزیکې، اقتصادي سیاسي او بشري لاملونو پایله ده چې د دې لاملونو اغېزې په لنډه توګه بیانوو:

- فزیکې عوامل، لکه: جغرافیایي موقعیت ( عرض البلدونه)، لوړې سیمې، اقلیمي شرایط، اوبه او داسې نور د ځمکې پرمخ دتل لپاره لیدلای شو، چې په مستقیم یا غېر مستقیم ډول دځمکې له منابعو څخه په ګټه اخیستنې باندې اغېزه لري. دغه لاملونه د نفوسو د زیات ګڼوالي او یا برعکس د یوې سیمې د نفوسو د کموالي لامل ګرځي.
- د اقتصادي لاملونو اغېزې: په طبیعي منابعو او بشري فعالیتونو متکي دي، چې له کانونو، اوبو، د خاورې له ډولونو، نباتاتو، حیواناتو، د پانګې له شتون او نوې تکنالوژۍ، د کار له شرایطو، صنایعو او داسې نورو څخه عبارت دي چې د نفوسو په ګڼوالي اغېزلري یعنې دصنعتي پراختیا او د نفوسود ځای پر ځای کیدنې تر منځ متقابل اړیکې شته دی. په هر ځای کې چې صنعت او له هغه څخه وروسته په هغې پورې تړلي خدمات را منځته شي، نو زیات نفوس په هغې سیمې کې جذ بیږي.

د یادونې وړده چې تر ۱۸ مې پېړۍ پورې کرنې او د هغې اړوند لاملونو( اوبه،خاورې او اقلیم) د نفوسوپه استوګنې کې ټاکونکې اغیزه درلوده، لکه د مصر په هېواد کې د نیل د سیند وادي او داسې نور. زموږ د هېواد اقتصاد تر اوسه پورې په کرنه ولاړ دی او د نفوسو ډېره زیاته برخه له همدې لارې ژوند کوي.

- سیا سي لاملونه :د سیاسي لاملونو په برخه کې د حکومت له پرېکړو او د اداري مرکزونو له تشکیل څخه یادونه وکړو که چېرې دولت د هېواد ځینو سیموته د پرمختیایي پروګرامونو په برخه کې پانګې اچونې ، د کارونو پیداکولو او یا خدماتي امکاناتو او روغتیایي فعالیتونو ته پاملرنه ونه کړي، د نفوسو ګڼوالی هلته لږ وی.
- بشري لاملونه: په پورتنیو موضوعاتوسر بېره لېرې پرتې سیمې، چې د حمل و نقل لارې او

ارتباطي وسایل نه لري، خلك هلته په تيت او پرك ډول ژوند کوي.

د هغو لويو وچو دننه سيمې چې له سيندونو او سمندرنو څخه لېرې پرتې دي دساحلي سيمو په پرتله لږ تجارتي امکانات لري، لږ نفوس پکې استوګنه کوي.

د پورتنيو لاملونو په پام کې نيولو سره د نړۍ ګڼ نفوسه سيمې Densely populated region په درې حوزو په ښه کولای شو:

۱- لومړنۍ ګڼ نفوسه سيمه د آسيا د لويې وچې جنوبي سيمې ( پاکستان، هند او بنګله ديش)، د جنوب ختيځې آسيا ځينې برخې ( اندونيزيا) او ختيځه آسيا ( د چين ختيځ، د کوريا ټاپووزمه او جاپان) دي.

د دې سيمې په هېوادونو کې په منځني ډول د نفوسو ګڼوالی په يوه کيلومتر مربع پراخوالي کې له ۱۰۰ تنو څخه زيات دی. او په ځينو ځانګړو ځايونوکې په يوه کيلومتر مربع پراخوالي کې له ۱۵۰۰ تنو څخه زيات دی. چې علت يې موسمي آب و هوا، د کرنې ( د وريجو کرنې) ښه شرايط او د نفوسو طبيعي زياتوالی دی.

۲ - دويمه ګڼ نفوسه سيمه د اروپا په لويه وچه کې د پانګوالۍ په دوره کې رامنځته شوې ده. د دې سيمې په ځينو هېوادونوکې د نفوسو منځنی ګڼوالی په يوه کيلومتر مربع ساحه کې له ۲۰۰ څخه تر ۴۰۰ تنو پورې رسيږي. په همدې ډول په صنعتي سيموکې د نفوسوګڼوالی په يوه کيلومتر مربع ساحه کې له ۵۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ تنو پورې رسيږي چې ډيرزيات يې د سيندونو په غاړه، په بندرونو او د صنعتي مرکزونو په شاو خوا او دکرنې وړسيموکې ژوند کوي.

دريمه ګڼ نفوسه سيمه د امريکا د متحده ايالتونو د شمال ختيځې ځينې برخې ( نيوانګلنډ، نيو يارك، پنسلوانيا او د پنځه ګونو جهيلونو شاوخوا) او د کاناډا جنوب ختيځ دی. چې د هغې لامل تجارتي او صنعتي فعاليتونه دي. نوموړي سيمې د نړۍ ۷ سلنه پراخولی او د نړۍ ۷۰ سلنه نفوس لري.

## په ټولګي کې دننه فعالیت:

زده کوونکې دې په مناسبو ډلو وویشل شی. پخپلو منځوکې دې د مشورې له مخې لاندني جدولونه کاپي او بشپړ کړي او د ډلې استازی دې خپلوټولګیوالوته وړاندې کړي.

| | موقعیت | لاملونه |
|---|---|---|
| ډېرې دنفوسو ډکې سیمې | د چین ولسي جمهوریت او د هند هېواد | |
| | شمال لویدیځه اروپا | |
| | د امریکا د متحده ایالتونو شمال ختیځې سیمې او دکاناډا سویل ختیځې سیمې | |
| لږ نفوسه سیمې | د همالیه غرونه | |
| | د امازون ځنګلونه | |
| | د ګرینلینډ ټاپو | |

| ګڼه | هېواد | د هېواد پراخولی په کیلو متر مربع | نفوس | د نفوسو ګڼوالی په یوه کیلو متر مربع کې |
|---|---|---|---|---|
| ١ | موناکو | ٢ | ٣٢٢٧٠ | ١٥٨٤٦,٥ |
| | سنګاپور | ٦٤٧ | ٤,٣٥٣,٨٩٣ | ٦٧٢٩,٣ |
| ٢ | مالت | ٣١٦ | ٣٩٦,٨٥١ | |
| ٣ | بحرین | ٦٦٨ | ٦٧٧,٨٨٦ | ١٠١٤ |
| ٤ | بنګله دیش | ١٤٧٥٧٠ | ١٤١,٣٤٠,٤٧٦ | |
| ٥ | مغلستان | ١,٥٦٥,٠٠٠ | ٢,٧٥١,٣١٤ | ١,٧ |
| ٦ | استرالیا | ٧,٦٨٦,٨٥٠ | ١٩,٩١٣,١٤٤ | |
| ٧ | کاناډا | ٩,٩٧٠,٦١٠ | ٣٢,٥٠٧,٨٧٤ | ٢/٣ |

## پوښتنې:

لنډځواب وواياست:

۱. د آسيا دسويل او سويل ختيځو هېوادونو د نفوسو دګڼوالي لامل بيان کړئ.

۲. د اروپا په شمال لويديځ کې د اروپا د نورو سيمويه نسبت ولې ګڼ نفوسه سيمې منځته راغلي دي.

۳. د شمالي امريکا کومې سيمې ګڼ نفوسه دي، لامل يې بيان کړئ؟

٤. د آسيا د ډېرګڼ نفوسو هېوادونو نومونه واخلئ.

۵. د نړی په ټولو برخوکې ولی نفوس په مساوي ډول نه دي ويشل شوی؟ لاملونه يې توضيح کړئ .

٦. کوم سياسي لاملونه د نفوسو په ګڼوالي زيات اغېزلري ، څرنګه؟

۷. آيا بشري عوامل هم کولای شي د نفوسو پرځای کيدنی اغېز وکړي؟څرنګه؟

## له ټولګي څخه د باندې فعاليت:

لاندې پوښتنې ته ځواب وواياست او د جغرافيې په راتلونکې ساعت کې يې خپلو ټولګيوالو ته وړاندې کړئ.

که چېرى ستاسې ټولګی ٦ متره اوږد والی او ٤ متره سور ولري او د زده کوونکوشمېر ٦٠ تنه وي، د ټولګي په يوه متر مربع ساحه کې د نفوسو ګڼوالی محاسبه کړئ.

ستاسې له نظره د ټولګي د زده کوونکو مناسب شمېر بايد څو نفره وي. ولې؟

# مهاجرتونه او د هغو لاملونه




**مهاجرتونه بیلا بیل لاملونه لري، چې کولای شو د هغو ځینې برخې دلته یادې کړو:**

۱. طبیعي لاملونه: طبیعي لاملونه هم د مهاجرت سبب ګرځي، لکه: په سیمه کې د اوبو کمښت د آب و هوا د شرایطو خرابتیا، د ځمکودحاصلخیزۍ لږوالی یا طبیعي آفتونه ،لکه: زلزله، سیلابونه، سمندري طوفانونه، وچکالي او داسې نور.

۲ . اقتصادي لاملونه: اقتصادي لاملونه د مهاجرت بنسټیز لامل دي، اوس دغه مهاجرت دمخ پر ودې هېواد ونو ځانګړ تیاده. ځکه په دې هېوادونوکې د کلیو او ښارونو ترمنځ ډېره نا برابري ده. په داسې حال کې چې په پرمختللو هېوادونوکې دکلیوالو ژوند په ډېره چټکۍ سره ښاري ژوند ته نژدې شوی دی. برعکس په دې هیوادونوکې ښاري خلك مینه لري چې له ښارڅخه د ښار شاوخوا او کلیوته مهاجرت وکړي، چې په پاکه هوا او چاپیریال کې په ارامه ژوند وکړي.په مخ پرودې هېوادونوکې ددې مهاجرت اصلي لامل اقتصادي لاملونه دي. د کلیوالو لږ عایدات یوازې لومړنی اړتیاوې پوره کوي ، نو نشي کولای چې په کلیوکې اقتصادي فعالیت پرمخ بوځي. له بلې خوا د نفوسود طبیعي ودې له مخې په کلیوکې ځمکه او اوبه د ټولو اوسیدونکو د اقتصادي فعالیت له پاره کافي نه دي. دکرنې ماشیني کیدل هم د یو زیات شمیر بزګرانو د بیکارۍ سبب

ګرځي او مهاجرت ته اړکیږي.
دغه مهاجرین چې زیاتره یې ځوانان دي او په ښارکې خپله دنده له بزګرۍ څخه په غیر بزګري کار ونو بدلوي. په ښارونو کې دغه مهاجرین هغه دندې چې سرته یې رسوي هم ناکافي دي. ځکه هغوی ماهر کار کوونکې نه دي، نو په هغو کارونو لاس پورې کوي چې سطح یې ټیټه او عاید یې لږ وي لکه لاسي خرڅلاو او شاقه فزیکې کارونه او داسې نور. نوپه پای کې په لومړني استوګنځي کې او هغه ځای ته چې د ژوندانه لپاره یې ورته سترګې نیولي وي، د نفوسو په زیاتوالي اوکمښت، د نفوسو د عمر په ترکیب، دکار په ځواک ، بیکارۍ مزدورۍ، همدارنګه فرهنګ، او ژبه اغیزه کوي.د اقتصادي مهاجرتونو بل ډول دکر نېږې ځمکې دپراختیا، د اوبو لګولو د نویو پروژو او صنعتي سیمو د رامنځته کولو ، دکانونو په را ایستلو او تجارتي فعالیتونو د رامنځته کولو او یا برعکس دکورنیو د عاید دکموالي، بیکارۍ، دکارخانود تعطیل په سبب منځته راځي.
۳. سیاسي مهاجرت: دغه اصطلاح زیا تره د سیاسي پناه اخیستونکو لپاره کارول کېږي. هغه چاته استعمالیږي ،چې د بیلا بیلو لاملونو،لکه: جګړې، زنداني کېدل ،سیاسي تعقیب، مذهبي عقایدو، د ټولنیزو ډلود اړیکو له مخې یې خپل اصلي هېوادونه پریښي وي او له بل هېواد څخه یې د پناه اخیستو غوښتنه کړې وي .
٤-مذهبي مهاجرتونه: دغه ډول مهاجرتونه په مذهبي او نورو ټولنیزو او فرهنګي مسایلو باندې د قیوداتو او محدود یتونود دلګولوپه سبب کېږي. د دې ښه مثال په ۱۹٤۷ میلادي کال کې په هندوستان او پاکستان باندې د هند د لوېې نیمې وچې ویش و چې دهغه په پایله کې د هند و مذهب په میلیونونو پېروانو کورنیو له پاکستان څخه هند ته او همدارنګه په میلیونونو مسلمانو کورنیو له هند څخه پاکستان ته په خپله خوښه مهاجرت وکړ.
د ختیځ،سویل او لویدیځ لورته د آریایانومهاجرتونو او یا د امریکا لوېې وچې ته د ختیځې آسیا د خلکو مهاجرتونو او همدارنګه د ۱۵ م پیړۍ د جغرافیایي لویو اکتشافونو په پایله کې نړیوالو مهاجرتونو پراختیاو موندله او د نړۍ نوروسیموته د اروپایانود مهاجرت سبب شول. هغه وخت دیوې نیمې پېړۍ په اوږدوکې ۷۰ میلیونه تنه مهاجرشول، چې له خپلې پانګې څخه په نوې نړۍ‌کې ګټه واخلي او په سوداګرۍ لاس پورې کړي. په پیل کې د امریکا او اوقیانوسیې لوېې

وچې ګڼ نفوسه شوې. چې ښه بیلګه یې دشمالي امریکا هېوادونه دي، چې ۹۵ سلنه نفوس یې اروپا یې مهاجرین او ۲ سلنه یې افریقایي تورپوستکې دي. د ۱۹ پېړۍ په اوږدوکې هم د نفوسو زیاتوالی او اقتصادي بحران د مهاجرتونو سبب شوچې د هغو په واسطه د اروپا د اضافي نفوسو دګڼوالي دروند بار لږ شو. یوازې د انګلستان په هیوادکې له ۱۸۱۵ څخه تر۱۹۲۰ .ز .کا ل پورې ۱۷ میلیونه تنومهاجرت وکړ. دغو مهاجرتونو دوه اړخونه درلودل، دایمي مهاجرین او د اداري کارکوونکو او مذهبي مبلغینو مهاجرتونه چې موقتي جنبه یې لرله. د دې دوو مهاجرتونو له ترکیب څخه د بریتانیا امپراتوري رامنځته شوه چې وروسته دغه مهاجرتونه په بې ساري ډول په نړېواله ستونزه بدل شول او هېوادونه یې اړکړل چې د مهاجرینو د منلو له پاره مقررات وضع کړي. د امریکا دمتحده ایالتونوکانګرس دمهاجرینو دمخنیوي له پاره په ۱۹۲٤. ز.کال کې دمهاجرینو په نوم قانون تصویب کړ. دغه قانون امریکا ته د هغه شمېر مهاجرینو له پاره چې له بېلا بېلو هېواد ونو څخه کولای شي امریکا ته راشي، مقررات وضع کړل. نوموړي قانون زیاته دهغو مهاجرینو مخه نیوله چې د جاپان اوچین ژېړ نژادو پورې یې اړه درلوده. وروسته د نورو هېوادونو د کډوالو په باره کې هم عملي شو. د دې قانون له مخې مهاجرین باید خپله پانګه هم له ځانه سره ولري. هغوی کولای شول چې له پنځوکلونو وروسته په امریکا کې د اوسېدنې تابعییت حاصل کړي او یا له امریکا څخه بهر شي. اوس بر عکس زیاتره نړېوا ل مهاجرین د درېمې نړۍ له هېوادونو څخه پرمختللو صنعتي هیوادونو ته کډوال کېږي چې بنستیزلامل یې اقتصادي اوسیاسي لامل دی. له بلې خوا ورځ په ورځ نفوس زیاتیږي او د نفوسو طبیعي زیاتوالی او داسې نور مشکلات ددې سبب ګرځي چې خلك له کلیو څخه ښارونو او بهرنیو هېوادونو ته مهاجرت وکړي. څرنګه چې هغوی د مهاجرت له پاره قانوني اسناد نه لري، نو له غیر قانوني اوقاچاقي لاروڅخه ګټه اخلي، نو د ستو نزو په منلو او آن د تلفاتو په قبلولو ځانونه ټاکلو هېوادونو ته رسوي. دغه نفوس د یوه هېواد فعال اقتصادي نفوس( له ۱۵ کلنۍ څخه تر ٤۵ کلنۍ پورې) احتوا کوي څرنګه چې دهغوی یو شمیر دکارکولو رسمي ویزه ، دمهاجرت کارت، دکار کولو اجازه او د کار ځانګړې مهارت نه لري ، نوله همدې امله په لږ معاش او خراب چاپیریال کې چې د دولت له نظارت څخه لېرې وي شاقه او غیر صحي کارونو ته مخه کوي.

دیادونې ورځ خبره دا ده چې یو شمیر پرمختللي پانګه وال هېوادونه د نفوسو د طبیعي کنترول له مخې د بشري قوې له کمښت سره مخامخ دي چې د دې ستونزې د حل لپاره له قانوني لارې مهاجر کارګران مني. په لویدیځه اروپا کې تقریبا ۱۱ میلیونه مهاجرکارګران کارکوي. د مهاجروکارګرانو د منلو له مخې المان په لومړنی درجه کې دی، ورپسې انګلستان،فرانسه، سویس او سکندیناوي هېواد ونه دي. د لویدیځې اروپا هېوادونو په وروستیو کلونوکې له ګاونډیو هېوادونو(ایتالیې، پرتګال او هسپانیې) څخه موسمي مهاجرو کارګرانو د کموالي د احساس له مخې، د جنوب ختیځې اروپا، ترکیې، د انتیل د ټاپوګانو او افریقایي هېوادونو کارګرانو ته متوجه شول. المانیان معمولا د ترکې اویوناني مهاجرو کارګرانو څخه، فرنسویان د شمالي افریقا د مهاجروکارګرانو څخه او انګلستان د مشترک المنافع هېوادونو له کارګرانو څخه ګټه اخلي. د امریکا متحده ایالتونه د مکسیکو له موسمي کارګرانو څخه کاراخلي. په همدې ډول د نړی له پرمختللو پانګوالو هېوادونو څخه مخ پرودې هېوادونو ته هم مهاجرت کېږي. د هغوی پانګه په کارکې پوهه په تیره بیا دهغوی په کارکې تجربه ده چې په خپلو هېوادونو کې یې حاصله کړې ده. په کال کې د دې مهاجرینو شمیر تقریبا له ۲۰۰ څخه تر ۳۰۰ زرو پورې رسیږي چې د کار او ښه ژوند په لټه کې خپل هېوادونه پرېږدي او د لویو وچو ترمنځ په مهاجرت لاس پورې کوي. نوې سیمې دغه مهاجرین په پرانیستې غېږه او د زیاتو امکاناتو او ښه ژوند په برابرولو سره مني. خارجي مهاجرتونه، له هغه هېوادونو څخه چې مهاجرت کوي د نفوسو دکمښت او هغو هېواد ونو ته چې مهاجر کیږي د نفوسو د زیاتوالي سبب ګرځي. د مخ پرودې هېوادونو ټول مهاجرین ځوان او فعال اقتصادي نفوس تشکیلوي. د دې مهاجرت له مخې د مخ پرودې هېوادونو فعال اقتصادي نفوس کمیږي چې په پای کې د اقتصادي رکود سبب ګرځي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي. د لاندې موضوعګانو په باره کې دې په خپلو منځو کې بحث وکړي او د مباحثې پایله دې د ډلې مشریه ټولګي کې وړاندې کړي.

۱.دیوه هېواد اوسیدونکي کوم نا وړه شرایط وطن پرېښودوته اړ باسي. دغه ستو نزه پخپلو کې

وارزوئ.

۲. په بهرنیوهېوادونوکې کوم لاملونه د مهاجرینو د جذب سبب گرځي. زموږ له هېواد څخه زیات مهاجرین کومو هېوادونوته تللي دي. ولې؟

۳. تاسې له کلو څخه ښارونو ته د مهاجرینو د مخنیوي لپاره اویاله وطن څخه دباندې د مهاجرت لپاره څه وړاندیز لرئ؟

٤. د هېواد په اقتصاد او نفوسو باندې د مهاجرتونو اغیزې ترکتنې لاندې ونیسئ.

۵. د مخ پرودې او پر مختللو پانگوال هېوادونو د مهاجرینو شرایط پرتله کړئ.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ .

۱. کوم لاملونه د مهاجرینو د جذب سبب گرځي؟

۲. کوم لاملونه د مهاجر کېدو سبب کېږي ؟

۳. له جغرافیایي لویو اکتشافاتو څخه وروسته کومو لویو وچو زیات مهاجرین منلي دي؟

٤. ولې د امریکا د متحده ایالتونوکانگرس په ۱۹۲٤ . ز .کا ل کې امریکا ته د مهاجرتونو قانون وضع کړ.

۵. کوم لاملونه له دریمې نړۍ څخه پر مختللو صنعتي هېوادونو ته دمهاجرت سبب گرځي؟

٦-کومو مهاجرتونو ته قانوني اوکومو مهاجرتونو ته غیر قانوني مهاجرتونه وایي؟

## له ټولگي څخه دباندې فعالیت:

زموږ په هېواد کې کوم لاملونه دکورنیواو بهرنیو مهاجرتونو د زیاتوالي سبب گرځي. د دې تحلیلي مطلب په باره کې مقاله ولیکئ او د جغرافیه د مضمون په راتلونکې ساعت کې یې خپلوټولگیوالو ته وړاندې کړئ.

# نژادونه

## نژاد :RACE

نژاد دخلکو ډلې ته ویل کېږي چې د ظاهري خېرې، د پوستکي او وېښتانود رنګ، بېلوونکې نښې او ارثي ګډې ځانګړتیاوې و لري. د نړۍ ټول خلک په دریو نژادونو ویشل شوي دي چې له سپین یا اروپایي نژاد، ژیړ یا مغولي نژاد او تور یا استوایي نژاد څخه عبارت دي. له یاد شوو نژادونو څخه هر یو نژاد ځانګړي ارثي مشخصات لري، لکه: د وېښتانو بڼه او رنګ، دپوستکي رنګ او دسترګو،پزې او دسردکوپړۍ جوړښت او داسې نورې ځانګړتیاوې.

**سپین نژاد:** لوړه ونه، سپین پوستکي، جګه پزه او خرمایي وېښتان او د پرانېستو سترګو ځانګړې بڼه او داسې نور لري .

**ژیړ نژاد**: ژیړ پوستکي، تور او صاف وېښتان، لړه ږیره، ګرد سر، بادامي سترګې لنډه پزه ، ټیټه ونه او لږ غونډې چاغ وي .

**تور نژاد**: تور یا نسواري ته ورته پوستکي او پلنه پزه، ګړګوتي وېښتان او پیړې شونډې لري.

**ګډ یا دوه رګه نژاد:** د مهاجرتونو او د مختلفو نژادونو ترمنځ دودونو په پایله کې منځته راغلي دی، لکه: مولات او سامبو نژادونه.

**سره پوستکي**: اصلاً په ژیړ نژاد پورې اړه لري، خو د مذهبي عقیدوله مخې په مخ او وېښتانو نکریزې وهي. نوله همدې امله د سور پوستکو په نوم مشهور شوي دي.

نژادونه د طبیعي چاپېریال د بېلابېلوشرایطو، اقلیم او خوړو سره د تطابق له مخې چې په انساني ژوند باندې اغېزه لري، را منځته شوي دي. نوموړي طبیعي شرایط په بېلابېلو نژادونو اغېزه کوي. د مثال په ډول په کومو ځایونو کې چې تور پوستکي ژوند کوي د لمر وړانګې په عمود ډول لګېږي او د هوا تودوخه زیاته وي او لمر دسیمې د اوسیدونکو په پوستکي په مستقیم ډول اغېزه کوي، له اړتیا او اندازې څخه زیاته تودوخه انسانانو ته تاوان اړوي. نو له همدې امله د دې هېوادونو د اوسېدونکو جسم ( اورګانېزم) د زرګونو کلونو په تېریدو سره له اندازې څخه دزیاتې تودوخې سره توافق کړی دی او په پای کې دتور رنګه نسجونو ماده یې په پوستکي کې را ټولېږي. دغه نسجي ماده (میلانین

د پوستکي ايپدرمس Epidermis رنګينه طبقه داسې حجرات لري چې د Melanin) د پوستکې رنګ جوړ وی، ژيړ، نصواري، سور اوآن داچې تور رنګ لرونکې وي.د هغو خلکو پوستکې چې ډېر ميلانين لري د بدن پوستکي يې زيات تور وي، دغه ماده د لمر د وړانګو د نفوذ مخه نيسي او پوستکي د لمر د وړانګو له سوځېدو څخه ژغوري. د وخت په تېرېدو سره په دې ډله کې د پوستکې توروالی مېراثي ګرځي، زيړه اوګرګوتي وېښتان د سر کاسه له تودوخې څخه ساتي.

سپين پوستکې زياتره په شمالي معتدلو سيموکې ژوند کوي، په داسې سيمو کې زيات اوربښت، لندبل او زياتره وخت وريځ وي او خلک يې له لمر څخه لږه ګټه اخلي، نو له همدې امله يې بدن زيات لمر ته اړتيا لري. د هغوی په بدن کې د ميلانين ماده يوازې په اوړي کې زياتيږي. هغه وخت چې د انسان بدن د لمر د وړانګو په واسطه د اړتيا وړ ويټامين ډي جذبوي د انسان پوستکي غنم رنګه ګرځي.

په هغو ځايونو کې چې ژيړ پوستکي ژوند کوي، په هغه ځايوکې معمولاً باد او طوفانونه لګېږي چې له ځان سره خاورې، ميده شګې انتقالوي. د کلونو په تېرېدو سره له دې بادونو او طوفانونو سره توافق کوي او د ژيړ پوستکو سترګې تنګېږي چې وکولای شي دخاورې او شګويه وړاندې وساتل شي. دغه نښه په ژيړ پوستکو کې ارثي ګرځي او د زياتره خلکو ورځني خواړه وريجي وي، چې ډېرلږ غذايي مواد لري. ټول نژادونه د ذکاوت او استعداد له مخې توپير نه لري، دهغوی ظاهری څېره لکه چې ورڅخه يادونه وشوه د طبيعي او محيطي شرايطو محصول ده.

په ۱۹۶۵ م کال کې د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د ټولو ډولونود نژادي تبعيض د له منځته وړلو لپاره نړيواله تړون لاسليک کړ. د هغه له مخې يې د هر ډول نظرياتو خپريدل چې په نژادي امتيازاتو ولاړ وي منع کړل. د نژادي تبعيض او توهين لپاره هر ډول هڅې جنايت ګڼي.

## په ټولګي کې دننه فعالیت

زده کوونکي دې په مساوي ډلو و ویشل شي او هره ډله دې په لاندې موضوعګانو پخپلو منځو کې بحث وکړي او د بحث پایله دې د ډلې داستازي په واسطه خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.

۱-ولې تور نژاد تور پوستکې او ظاهري ځانګړې څېره لري؟

۲-سره پوستکې دنړۍ په کومه لویه وچه کې استوګن دي او دځېرې د سوروالي علت یې توضیح کړئ؟

۳-ګډ نژاد په څه ډول منځته راځي؟

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ:

۱-د تور پوستکو ظاهري ځانګړ تیاوې بیان کړئ.

۲-سور پوستکې په نړۍ کې په کوم نژاد پورې اړه لري؟

سم ځواب او ناسم ځواب وپیژنئ

۱-دنړۍ ټول خلک په څلورو نژادونو، لکه: سپین، سور، تور او ژېړ نژادونو ویشل شوي دي.

۲-سپین نژاد لوړه ونه، سپین پوستکې، جګه پزه، تور ګرګوتي وېښتان لري.

۳- نژادونه د بېلابېلو طبیعي چاپېریالونو ،اقلیم او خوړو محصول دي.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

لاندې موضوع تحلیل کړئ او د جغرافیې په راتلونکې ساعت کې یې ټولګیوالوته وړاندې کړئ.

زموږ دهېواد خلک دکوم نژاد پورې اړه لري.

# د نژادونو جغرافیایي ویش:




*- د آسیا د لویې وچې نژادي ډلې:

**الف ژیړ نژاد**: د آسیا په لویه وچه کې د دې نژاد خلک د نورو نژادونو په پرتله ډېر نفوس لري. مغولان، تبتیان، سامویدیان، ترکمنان ، قرغیزیان د شمالي چین خلک،کوریایان په لږ څه تو پیر همدغه نژادي ځانګړتیاوې لري، د جنوب ختیځې آسیا خلک ( جنوبي چین، کامبوج، لاوس، تایلند، برما او ویتنام) او آن جاپانیان چې د پوستکې رنګ یې روښانه دی د همدغه نژاد برخه جوړوي. ددې نژاد ځینې فرعې ډلې دشمالي سایبریا د تندرا او تایګاه په ځنګلونو ( ستنې ډوله پاڼې لرونکې ځنګلونو) کې د خو زریزوخلکو د ډلې په څېر ژوند کوي.

**ب- سپین نژاد**: په هندوچین کې د سپین پوستکو نژاد نسبتاً لږ شمېر موندل کېږي، چې په ابتدایي ډول ژوند کوي. د سپین پوستکو د استوګنې اصلي ځای د همالیا د غرونو دلړیو لویدیځې سیمې او دهند نیمه وچه ده . افغانان، ایرانیان، بلوڅان، قفقازیان او روسان د سپین نژاد ښې بېلګې دي. همدارنګه سامي نژاده په عربستان، سوریه، اردن، اسرائیل، د ترکیې په یوه برخه

او کردستان کې استوګن دي. په سپین غنم رنګه نژاد پورې اړه لري.

**ج: تور نژاد**: تور نژاد په استوايي سيموکې ژوندکوي چې نژاد پېژندونکې هغوی ته نګريتو Negritos وايي. دغه تور پوستکې کوړی کوړی وېښتان لري چې سوچه بېلګه يې په سيلون، هندکې د همالیې د غره په جنوب ، د ملاکا په ټاپو وزمه، د انديمان او نيکوبار په ټاپوګانو کې تيت شوي دي. دغه خلك په نيمه ابتدايي حالت ژوند کوي او زياتره يې په ځنګلونو کې استوګن دي چې ډېره برخه يې د همالیه د غرونو په سويل کې ژوند کوي.

## *-د اروپا د لويې وچې نژادي ډلې:

د اروپا اوسيدونکې تقريباً ټول سپين پوستکې دي او په شمالي، ختيځې، الپي، ديناريکې



اومديترانه يي ډلو ويشل شوي دي. شمالي او ختيځ سپين نژاد داستوګنې ځای سکنديناوي هېوادونه، انګلستان، د فرانسې شمال، المان، لهستان (پولينډ) او د روسيې اروپايي برخه ده، الپي نژادونه د اروپا په منځنۍ او لويديځو برخوکې استوګن دي. په داسې حال کې چې مديترانه يې نژاد غنم رنګه ځېره لري د مديترانې د سمندرګي په شاوخوا هېوادونوکې ځای پر ځای شوي دي د اروپايي نژاد ديناريکې برخه په البانيه او دختيځې اروپا په ځينو هېوادونو کې ژوند کوي. لاپنيان د اروپا په ډېره شمالي برخه کې استوګن دي.

## * د افریقا دلویې وچې نژادي ډلې:

د افریقا نژادي ډلې توروپوستان، عربان، بربریان، آسیایان او اروپایان تشکیلوي. توروپوستان دافریقا ۷۰ سلنه نفوس جوړوي، چې ټول یې د لویې صحرا په جنوب کې استوګن دي. تورنژاد هم په پنځوډلو ویشل کېږي: چې له بانتو، نیلوت Nelotes پیګیمي Pygmies بوشمن Bushmen اوهوتن تت Hottentots څخه عبارت دي.



په افریقا کې د نفوسو ویش

ددې هرې ډلې په څېره کې زیات توپیرونه لیدل کېږي. بانتو د افریقا دتوروپوستانو ډېره لویه ډله ده چې د افریقا په لویدیځ کې په تیره بیا د دې سیمې دساحل په اوږدو کې په مرکزي افریقا کې، په ختیځ او جنوب ختیځو برخو کې او د مدغاسکر په ټاپوکې ژوند کوي. د هغوی د بدن پوستکې قهوه یې، پلنه پزه، پیړې شونډې او کوړې کوړې ویښتان لري.

نیلوت خلک جګه ونه لري( ۱۸۳سانتي متره) چې په سوډان، یوګندا او کینیا کې ژوند کوي.

پیګمیان په استوایي ځنګلونو کې استوګن دي. ونه یې ټیټه ده ( لوړوالی یې ۱٤۷ سانتي مترو پورې رسېږي).

بوشمن او هوتن تت ټیټه ونه لري او د کالاهاري ددښتې په شاوخواکې ژوند کوي.

عربان او بربریان د لویې صحرا په شمال کې استوګن دي. عربان غنم رنګه دي او تو ر ویښتان لري . د افریقا په شمال لویدیځ کې سپین پوستکې بربر قبیلې ژوند کوي چې په نسل کې داسپانیې اوایټالیې له خلکو سره ورته والی لري، نو له همدې امله د الجزایر، تونس اومراکش هېوادونو

خلك د بربر هېوادونو په نوم يادوي.

سپين پوستكې اروپايي مهاجر، له استعمار څخه وروسته په افريقا كې تيت شول. د مېشت كېدلو اصلي ځاى يې په شمال لويديځ كې ( المغرب) اويه جنوب كې ( جنوبي افريقا او زمبابوى)دي. همدارنګه په كينيا او زاير كې هم ژوند كوي، مهاجرآسيايان له اروپايانو څخه زيات دي. هنديان په جنوبي افريقا، كينيا او يوګندا كې استوګن دي. د مورشس د ټاپوګانو نفوس زياتره هنديان دي.د مدغاسكر زياتره نفوس مالايايان او پولينزيايان دي.

## * د امريكادلويې وچې نژادي ډلې:

د امريكا زيات اوسېدونكې سپين پوستكې يا له ګډ نژاد څخه دي. د امريكا د لويې وچې اصلي اوسېدونكې سره پوستكې دي. چې په اصل كې د ژېړ نژاد يوه برخه ده، چې د مذهبي باورونوله مخې خپل مخ او وېښتان په نكريزو سره كوي. شمېر يې په شمالي امريكا كې ډېر لږدى، خو په مكسيكو او السلوادور كې د نفوسو اصلي برخه ګڼل كېږي، د بوليويا، ګواتيمالا، اكوادور، پيرو او پاراګواى د لوړوسيمو نيم نفوس سره پوستكې دي. د امريكا په لويه وچه كې د سپين پوستكو د زياتوالي لامل د نړۍ له بېلا بېلو هېوادونو څخه امريكا ته د سپين پوستكو مهاجرت ګڼل كېږي. ژېړ پوستكو له چين او جاپان څخه دې لويې وچې ته مهاجرت كړى دى. تور نژاد



د امریکا په لویه وچه د نژادونو د وېش نقشه

د غلامۍ اوغلامانو د خرڅلاو د رواجولو په پايله كې امريكا ته له افريقا څخه راوړل شوي دي. له پورتوريكو، كيوبا او دومنيكن پرته نور ټول ټاپوګان د توريوستكو د استوګنې سيمې ګڼل كېږي او په ونزويلا، سورينام، فرانسوي ګويان او پانامې كې تور پوستكې ژوند كوي.

دوه رګه او ګډ نژادونه د سپين پوستکو او تور پوستکو د ودونو په پايله کې ( مولات Mollates) او د تور پوستکو او سور پوستکو د ودونو په پايله کې زانبوس(Zanbus) د څلورنيمو پيړيو په اوږدو کې را منځته شوي دي، زياتره دغه نژادونه د منځنی او سويلي امريکا په هېوادونوکې ژوند کوي.د اوقيانوسيه په ټاپوګانوکې زياتره نفوس سپين پوستکې اروپايي مهاجرين دي او لږ شمېر تور پوستکې او ژيړ پوستکې او دوه رګه نژادونه هم ژوند کوي .

## * د استراليا نژادي ډلې:

د اروپايانو له مهاجرت څخه مخکې په استراليا کې ٥٠٠ تور پوستکې قبيلې مېشتې وې چې د خلکوشمېريې څه ناڅه شپيته زرو تنو ته رسيده. د استراليا اروپايي کېدل له (١٨٣٠) .ز. کال څخه وروسته د اروپايانوله مهاجرت سره پيل شول . لومړني مهاجرين يې هغه محکومين وو چې دهېواد د پرېښودو په جزا محکوم شوي وو. اوس د دې لويې وچې دوه رګه وو نفوس اکثريت جوړوي. د هغې لامل داوه چې سپين پوستکې ښځې حاضره نه وې چې دې ټاپوګانو ته مهاجرت وکړي ، نو له همدې امله يې له بومي ښځو سره ودونه وکړل او ګډ نفوس يې را منځته شو.

### په ټولګي کې دننه فعاليت:

زده کوونکې دې په مناسبوډلو وويشل شي او له لاندې پوښتنو څخه دې ديو او بل په مشوره ځواب برابر کړي او د ډلې استازې دې خپلو ټولګيوالوته وړاندې کړي.

١-د نقشې له مخې په نړۍ کې د سپين نژاد د استوګنې ځای تثبيت کړئ.

٢ - د نقشې له مخې په نړۍ کې د ژيړ نژاد د استوګنې ځای تثبيت کړئ.

٣-د نقشې له مخې د تور نژاد د استوګنې ځای تثبيت کړئ.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ:

۱- ژیړ پوستکې زیاتره د آسیا د لویې وچې په کومو ځایونو کې استوګنه لري .

۲- اروپایي غنم رنګه سپین پوستکې د اروپا په کومو هېوادونو کې استوګنه لري.

۳- د افریقاد لویې وچې دنژادي ډلو نومونه واخلئ .

٤- د سره نژاد ځانګړتیا وې بیان کړئ.

٥- ګډ نژاد څه ته وایي او دغه نژاد زیاتره په کومه لویه وچه کې شتون لري؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت :

مهاجرین په کومو لویو وچو کې د نفوسو د زیاتوالي سبب شوې.

تردې مطلب لاندې مقاله ولیکئ او د جغرافیې په را تلونکې ساعت کې یې په ټولګي کې وړاندې کړئ.

# د نړۍ مهم دينونه او آينونه




**د نړۍ د مهمو دينونو په هکله څه پوهېږئ؟**

پورتنۍ نقشه په غور ولولئ او و واياست چې په نړۍ کې کوم دينونه زيات پېروان لري؟

دين د انسانانو د فرهنګ ډېره مهمه برخه بلل کيږي. هر يو دين له يوه ټاکلي ځای څخه پيل شوی او وروسته نورو سيموته خپور شوی دی. دينونه معمولاً له سياسي، نژادي، ژبني او اقتصادي سرحدونو څخه اوړي او د نفوذ ساحه يې له پورتنيو لاملونو څخه دهيڅ يو تابع نه ده، دينونه دپيروانو د عقيدې له مخې په لاندې برخو ويشل کيږي:

**۱ - انيمېزم Animism يا د طبيعي پديدو د عقيدو پيروان:** وروسته له دې چې يوشمېر انسانانو د خدای پرستۍ څخه مخه واړوله ، انميزم د انسانانود لومړنيو ايينونو څخه ګڼل کيږي، د دې آيين پيروان ټول شيان او جمادات روح لرونکې ګڼي. د دې آيين پيروانو په تيرو وختونو او دوروکې په تيره بيا له تاريخي دورې څخه مخکې، طبيعي په تيره بياحيرانوونکې (خارق العاده) شيانو او پديدو ته د خدايي خاصيت قايل وو، لکه بريښنا، تندر، رو ښنايي، طوفان،

باران او داسې نور د ماورای طبیعت قدرت په صفت پېژندل. دغه آیین اوس په قطبي، بیاباني او لېرې پرتو ځنګلي سیموکې په تور پوستکو او ژېړپوستکو خلکوکې لیدل کېږي.

۲-د ارباب الانواع د عقیدې پېروان: ددې عقیدې پېروانو باور درلوده چې هره حادثه او پدیده جلا خدای لري. دغه آیین دیونان له مدنیت څخه پېل شوی دی او د روم د مدنیت په وخت کې لوړې درجې ته ورسیده، لکه د اورغورځوونکې(اتشفشان) خدای، د برېښنا او تندرخدای، دسمندرونو خدای، د ستورو خدای، د باران خدای او داسې نور.

۳-د آسماني دینونو پېروان: دې دینونو عقیدوي او اخلاقي اړخ درلوده ، د خدای (ج) عبادت او پرستش څخه عبارت دي. ټولنیز او ځانګړي اخلاق داسماني دینونو له لاربښوونو او بنسټونوڅخه دي ،چې په بېلابېلو زمانو کې د بېلا بېلو رسولانو او انبیانوپه واسطه په ځانګړو نومونو لکه : یهودي، نصراني او د اسلام سپڅلی دین چې د ټولو دینونو بشپړونکي دی، یاد شوي دي لاربښوونه کېده .

له بېلابېلو دینونو څخه د خلکو پیروي ځینې وختونه په ټولنیز چاپیریا ل کې د زیاتو توپیرونو سبب ګرځي. مثلاً هندوان د غوایي غوښه نه خوري او د غوایي غوښه خوړل په کې منع ده. د هغو د ژوندانه په قلمروکې د غوایي د غوښې د خرڅلاو مرکزونه نه لیدل کېږي. همدارنګه مسلمانان او عیسویان چې خپل مړي ښخوي. د هغوی د ژوندانه په ساحه کې هدېرې لیدل کېږې. په هغو ځایونوکې چې هندوان اوسیږي، نو هلته د مړو د سوځیدو ځایونه شتون لري، ځکه چې هغوی خپل مړي سوځوي.

د رخصتۍ ورځې هم په بیلابیلو دینونوکې توپیرلري چې په اقتصادي فعالیتونو او نوروکارونو اغېزه کوي. د بیلګې په ډول په اسلام کې د جمعې ورځ او په عیسویت کې د یکشنبې ورځ رخصتي وي. په اسلامي سیموکې د معمارۍ ځانګړی سبک شتون لري او کورونه د حریم ټاکلي ځایونه لري. جماتونه ګلدستې، رواقونه، منارونه اوګنبځې په اسلامي هېوادونو کې ځانګړی سبک لري چې په عیسویت کې داډول سبک نه لیدل کېږي خو دګریکو رومن په کلیساوو کې انځورونه او مجسمې لېدل کېږي .

## دټولګي دننه فعاليت:

زده کوونکي په مناسبو ډلو و ويشئ. هره ډله دې دنړۍ ددينونو په نقشه کې دانميزم، ارباب الانواع او آسماني دينونو دعقيدو دنفوذ ساحه، په نښه کړي اوهره ډله دې راټول شوي معلومات خپلوټولګيوالو ته وښيي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ .

١. دنړۍ دينونه په عمومي ډول په څو برخو ويشل شوي دي؟

٢. ارباب الانواع له انيميزم سره څه تو پير لري؟

٣. کاملترين دين کوم يو دی؟

## له ټولګي څخه د باندې فعاليت:

دنړۍ د دينونو او آينونو نومونو واخلئ اود دين او آيين ترمنځ توپيرونه واضح کړئ.

# داسلام سپیڅلي دین




## دنړي د اسلامي هېوادونو په هکله څه پوهیږئ؟

پو رتنی نقشې ته ځیرشئ او و وایاست چې زیات اسلامي هېوادونه دنړۍ په کومه لویه وچه کې پراته دي؟

د اسلام سپیڅلی دین د الهي و حدانیت او نبوت او معاد په بنسټ ولاړدی، چې په پیغمبري د حضرت محمد(ص) په بعثت او د لومړني مبارك آیت په نازلیدو سره په مکه مکرمه کې انسانانو ته ابلاغ شو.

کله چې حضرت محمد(ص) له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړ، له هغه څخه وروسته داسلام سپیڅلی دین د خلکو په منځ کې په ډیره چټکی خپورشو اود ختیځ اولویدیځ په افکارو یې زیاتې او دایمي اغیزې وکړې. زیاتروخلکو دقناعت اوښه والي له مخې اسلام و مانه او نور یې هم اسلام ته دعوت کړل نو ځکه په ډېره لږه موده کې په پراخه ساحه کې خپورشو.

اوس د نړۍ په ټولو هېوادونو کې اسلامي دعوت په یوه ډول یا بل ډول شتون لري. نن ورځ مسلمانان د ځمکې په پراخه ساحه کې استوګن شوي دي. تقریباً د نړۍ د نفوسو پنځمه برخه

مسلمانان دي. د آسيالويه وچه دنړۍ د مسلمانانود استوګنې لومړنۍ سيمه ده. د دې لوېې وچې اسلامي هېوادونه په منځني ختيځ، منځنۍ اسيا، سويلي او سويل ختيځې اسيا کې پراته دي. د دې اسلامي هېوادونو د خاورې پراختيا ۱۵ ميليونه کېلومتره مربع او نفوس يې د آسيا دلوېې وچې د نفوسو دريمه برخه جوړوي. په آسيا کې ۲۶ هېوادونه مسلمانان دي چې له هغو څخه په ۱۸ هېوادونوکې اسلام رسمي دين دی.

د يادونې وړده چې د اسلام سپيڅلی دين د آسيا په سويل ختيځ کې(اندونيز يا کې) د هند ګجراتي او ايراني سوداګرو په ۱۳م. پېړۍ کې له سوداګرۍ سره يوځای خپورکړ چې د وخت حاکمانو هغه ومانه او د هغه د خپرولولپاره يې هڅې وکړې. نن ورځ د دې سيمې زيات مسلمانان په اندونيزيا، ماليزيا، بروني او فلپين کې استوګنه لري.

د افريقا لويه وچه د اسلام دويم مرکز ګڼل کېږي. د افريقا په لويه وچه کې د مسلمانانو داستوګنې سيمه د دې وچې په شمال کې پرته ده . دغه ناحيه د مديترانې د سمندرګي په سويل کې د سوانا د تحت استوايي سيمې په شمال کې ، د سره سمندرګي او په لويديځ کې د اطلس تر سمندر پورې غزېدلې ده. په نورو افريقايي هېوادونوکې په مختلفو فيصدۍ استوګن دي.

د اروپا او امريکا په لويه وچه کې د پاملرنې وړشمېر مسلمانان اوسېږي. په اروپا کې البانيه، اذربايجان، بوسني او هرزګوني او په امريکا کې سور ينام اسلامي سيمې ګڼل کېږي.

د ۲۰۰۰ ز. کال د احصايې له مخې په ۶۳ نورو هېوادونوکې هم له ۱- ۱۸سلنه پورې مسلمانان ژوند کوي. اوس په نړۍ کې داسې هېواد نه شته چې هلته مسلمانان نه وي د زياتو معلوماتو لپاره د دې لوست اړوند جدول ته مراجعه وکړئ.

د اسلامي نړۍ هېوادونه د اقتصاد او نفوسو له پلوه يوډول نه دي، خو په ځينو کارونو کې ګډې موخې لري. زيات اسلامي هېوادونه د طبيعي منابعو ،لکه : نفتو، طبيعي ګاز، د ډبروسکارو، مسو، ر برو او داسې نورو له پلوه ډېر شتمن دي. د نړۍ د نفتو۶۵،۵ سلنه زېرمې د فارس په خليج(په عرب خليج) کې پرتې دي. د همدغوسرچينود شتون ته د نړۍ د استعمارګرانو پام ګر ځېدلی

دی. په همدې ډول زیات اسلامي هېوادونه د استعماري هېوادونو د لاس وهنې اود متخصصینو د نشتوالي له مخې له خپلو منابعو څخه هم ګټه نه شي اخېستلای. په همدې دلیل په ارزانه بیه د لومړنیو اوموتوکو دسر چینو( منابعو) محصولات صادر وي او په مقابل کې په لوړه بیه له پرمختللو هېوادونو څخه کالي وارد وي. د اقتصاد له پلوه په شتمنو هېوادونو پورې تړلي دي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکې دې په مناسبوډ لوکې تنظیم شي او هره ډله دې د نړۍ په ټولو لویو وچو کې د اسلام د دین د خپریدو د علتونو په هکله پخپلو منځو کې مباحثه وکړي او د ډلې استازی دې د بحث پایلې په ټولګي کې وړاندې کړي. ښوونکی دې د بحث پایلې له خپل معلومات سره یوځای کړي او زده کوونکو ته دې توضیحات ورکړي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ.

١. د اسلام د دین بنسټ په څه شي ولاړدي؟

٢. په حضرت محمد(ص) لومړنی وحی څه وخت او په کوم ځای کې نازله شوه؟

٣. ولی اسلامي هېوادونه دنړۍ د استعمارګرانو د پاملرنې وړدي؟

سم ځواب په وبیژنی.

٤ - د جنوب ختیځې اسیا په کوم هېواد کې د نړۍ ډېر زیات نفوس ژوند کوي؟

الف: مالیزیا ب:اندونیزیا ج:بنګله دیش د:افغانستان

د راتلونکي مخ جدول ٢٠٠٠ میلادي کال د احصایي له مخې ترتیب شوی دی.

| ګڼه | دآسیا دلویې وچې هېوادونه | دمسلمانو سلنه |
|---|---|---|
| ۱ | افغانستان | ۹۹.٦ |
| ۲ | اردن | ۹۳.۵ |
| ۳ | ازبکستان | ۷٦.۲ |
| ٤ | اندونیزیا | ۷٦.۵ |
| ۵ | ایران | ۹۹.۲ |
| ٦ | عربي متحده امارات | ۸۲.۷ |
| ۷ | بحرین | ۸۲.٤ |
| ۸ | بورنیو | ٦٤.٤ |
| ۹ | بنګله دیش | ۸۵.۸ |
| ۱۰ | تاجکستان | ۷۸.٦ |
| ۱۱ | ترکمنستان | ۸۷.۲ |
| ۱۲ | پاکستان | ۹٦ |
| ۱۳ | سوریه | ۸٦.۲ |
| ۱٤ | فلسطین | ۸۷.۷ |
| ۱۵ | قزاقستان | ٤۲.۲ |
| ۱٦ | قرغزستان | ٦۰.۸ |
| ۱۷ | قطر | ۸۲.۷ |
| ۱۸ | سعودي عربستان | ۹٤ |
| ۱۹ | عراق | ۹٦ |

| ګڼه | د افریقا د لویې وچې هېوادونه | دمسلمانو سلنه |
|---|---|---|
| ۱ | الجزایر | ۹۹.۷ |
| ۲ | تانزانیا | ۳۵ |
| ۳ | تونس | ۹۸.۹ |
| ٤ | جیبوتي | ۹٤.۱ |
| ۵ | چاد | ۵۹ |
| ٦ | سنیګال | ۸۷.٦ |
| ۷ | سودان | ۷۰.۳ |
| ۸ | سومالي | ۹۸.۳ |
| ۹ | سیرالیون | ٤۵.۹ |
| ۱۰ | ساحل عاج | ۳۸.٦ |
| ۱۱ | صحرا | ۱۰۰ |
| ۱۲ | کومور و | ۹۸ |
| ۱۳ | ګامبیا | ۸٦.۹ |
| ۱٤ | ګینه | ٦۷.۳ |
| ۱۵ | ګینه بیساو | ۳۹.۹ |
| ۱٦ | لیبیا | ۹٦.۱ |
| ۱۷ | مالي | ۸۲ |
| ۱۸ | مصر | ۸٤.٤ |
| ۱۹ | المغرب | ۹۸.۳ |

| ګڼه | د اروپا دلویې وچې هېوادونه | د مسلمانو سلنه |
|---|---|---|
| ۱ | اذربایجان | ۸٤ |
| ۲ | الباني | ۳۸.۸ |
| ۳ | بوسیني و هرزګونیا | ٤۳ |

د امریکا په لویه وچه کې

| ګڼه | هېواد | د مسلمانو سلنه |
|---|---|---|
| ۱ | سورینام | ۱۹.٦ |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٢٠ | عمان | ٨٧.٤ | | ٢٠ | موریتاني | ٩٩.١ | | | | |
| ٢١ | کویت | ٨٣ | | ٢١ | نیجیر | ٩٠.٧ | | | | |
| ٢٢ | لبنان | ٥٥.٣ | | ٢٢ | نیجریا | ٤٥.٦ | | | | |
| ٢٣ | مالدیو | ١٠٠ | | ٢٣ | ولتا علیا بورکینافاسو | ٤٨.٦ | | | | |
| ٢٤ | مالیزیا | ٦٠.٤٥ | | | | | | | | |
| ٢٥ | یمن | ٩٨.٩ | | | | | | | | |
| ٢٦ | ترکیه | ٩٧.٤ | | ٢٤ | اریتریا | ٥٠ | | | | |

په برما، سریلانکا او فلپین کې زیات شمېر مسلمانان ژوند کوي او په هند کې دنفوسو ١٢ سلنه مسلمانان دي. د اسلامي نړۍ د کنفرانس غړي ٥٧ هېوادونه دي چې ٢٥ هېوادونه یې په اسیا ، ٢٧ هېوادونه یې په افریقا ٣ هېواودونه یې په اروپا او ٢ هېوادونه یې په امریکا کې دي.

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

له ورکړ شوې نقشې او د نړۍ د اسلامي هېوادونو له لست څخه په ګټې اخېستنې سره د اسلامي هېوادونو بې لیکنې نقشه کاپي او بشپړه کړئ او د جغرافیې د مضمون په راتلونکې ساعت کې یې دلویو وچو په بیلوالي په ټولګي کې وړاندې کړئ.

د اسلامي هېوادونو سیمه ییزه نقشه



# د نړۍ مهمې ژبې




## آيا د نړۍ مهمې ژبې پيژنۍ ؟

پورتنۍ نقشه په غور سره مطالعه کړئ. د دې نقشې مختلف رنګونه د نړۍ د بيلابيلو ژبو ښکارندويي کوي.

ژبه د افهام او تفهيم وسيله اود علايمو سيستم دی چې دپوهې د انتقال او حاصلولو، معاشرې او دخلکو دتفاهم له پاره کارول کېږي او د انسانانو دکار او فعاليت په پروسه کې منځته راغلې او په تدريجي ډول يې تکامل کړی. خبرې کول انسان ته ددې توان ور بخښي چې خپلې تجربې وساتي او هغه راتلونکې نسل ته انتقال کړي . د نړۍ هغه ژبې چې يوه ريښه ولري د ژبو دکورنۍ په نوم يادېږي. دنړۍ د ژبو کورنۍ په لاندې ډول دي:

## الف: هندو اروپايي ژبې

د ژبو دغه برخه د ژبو د ډلو ډېره پراخه ډله ده چې په بيلابيلو څانګو په هندو اروپايي (لاتين، بالتيک، سلاويک، جرمانيک، اريک او ارمني) اوهندو اريايي ويشل شوې ده. ( (ويدا،

سانسکریت، پرکریت، یوولس معاصر هندی ژبې اردو ، نیپالی ، بنگالی … ) او اریایی ژبې لکه دري ، پشتو ، بلوڅي ،پشه يي ، کردي او داسې نورې دي .

## ب: په نیگرو ژبه کې لاندې ژبې شاملې دي:

۱-د سوډان په سویلي برخې ، د چاد په جمهوریت، نایجریا اود افریقا په استوایي هېوادونوکې خلک په دې ژبې خبرې کوي.

۲-: دبا نتو ژبه: په دې ژبې دکانگو، زمبیا او انگولا دحوزې خلک خبرې کوي.

## ج: حامي او سامي ژبه

په عربي آسیایي هېوادونو او دافریقا د شمالي برخې په هېوادونوکې اکثریت لري.

- سامي ژبه: د عربستان په ټاپو وزمه، د مصر په عربي جمهوریت، لیبیا، الجزایر، مالي او په مراکش کې مروجه ده.
- حامي ژبه: په حبشه، الجزایر، نایجر او دسنیگال په یوه برخه کې خلک پرې خبري کوي.

## د: د التایي او اورالي ژبو کې لاندې پنځه ژبې شاملې دي:

دفن ژبه (د الپ، فنلنډ، اویستاک او د اروپایي روسیې شمالي برخې خلک پرې خبرې کوي).

ترکې ژبه ، منگولیایي ژبه ، د توگوس ژبه (د سایبریا په شمال کې په تیره بیا د تایگا او تندرا سیموکې مروجه ده) ، جاپاني او کوریایي ژبې دي .

نورې ژبې

۱- مالیزیایي او پولنزیایي ژبه: مالیزیایي او پولنزیایي ژبه د جاوا، سوماترا په ټاپوگانو، دکمبودیا په یوه برخه او د بورنیویه په ټاپوگانوکې رواج لري.

۲- دامریکا اصلي او بومي ژبه د امازون په حوزه کې مروجه ده.

۳- د دراویدن ژبه: دهند په جنوب کې او د سریلانکا په یوه برخه کې رواج لري.

٤- چیني ژبه دیوې کتلې په توگه دچین په هېواد کې رواج لري.

آیا پوهیږئ چې دنړۍ زیات خلک په کومو ژبو خبرې کوي؟

- ماندرین ژبه د ختیځې آسیا له ډیر و معروفو ژبوڅخه ده. دنړۍ پنځمه برخه خلک یا تقریباً ۸۵۳ میلیونه چینایي او په مجموع کې په نړۍ کې یو میلیارد او دوسوه دیارلس میلیونه تنه پرې

خبرې کوي.

- انګلیسي ژبه چې د هند و اروپايي څانګې یوه ژبه ده چې میلیونونه انسانان په هغې خبرې کوي او دنړۍ په ٤٩ هېوادونو کې رسمي ژبه ده.
- عربي ژبه چې دسامي ژبې له کورنۍ څخه ده دنړۍ له ۲۲ هېوادونو څخه په زیاتو هېوادونو کې رسمي ژبه ده او په هغې خبرې کوي.
- نړیوالې ژبې چې د ملګرو ملتونو په سازمان کې پرې خبرې کېږي د انګلیسي ، فرانسوي ، الماني عربي، روسي ، چېنايي او هسپانوي څخه عبارت دي .

## په ټولګي کې دننه فعالیت

زده کوونکې دې په مناسبوډلو وویشل شي او دنقشي له مخې دې دنړۍ دلویو ژبو سیمي وټاکې. د ډلې استازی دې لاس ته را غلې معلومات خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړې. ښوونکی دې وړاندې شوي مطالب له خپلو معلوماتوسره په مناسب ډول را ټول کړي.

## پوښتني

لنډ ځواب ورکړئ .

۱- ژبه یا لسان تعریف کړئ.

۲- سامي او حامي ژبې دنړۍ په کومو هېوادونو کې رواج لري؟

۳- ولې په نړۍ کې چېنايي ژبه زیات ویونکې لري؟

٤- په هندو اروپايي ژبو کې کومې ژبې شاملې دي؟

٥- التايي او اورالي ژبې په کومو څانګو ویشل شوي دي؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکې دې د ژبې د اهمیت په باره کې څو کرښې ولیکي او د جغرافیې دمضمون په راتلونکې ساعت کې دی خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړي.

# د مدني زده کړو برخه

## لومړی څپرکی

په دې څپرکي کې به له لاندې سرلیکونو سره بلدشئ:

- پلوراليزم،
- دیپلوماسي
- پارلمانتاريزم،
- تکنالوژي،
- نړيوال کېدل،
- سياست،
- ستراتيژي،
- مدرنيزم، پسامدرنيزم.

# د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په پای کې لاندې موخو ته ورسېږي.

• پلوراليزم به وپېژني،

ډيپلوماسي به وپېژني،

• پارلمانتاريزم به بيان کړای شي،

• له تکنالوژۍ سره به مينه پيدا کړي،

• د نړيوال کېدلو په مطلب به پوشي،

• سياست به تشريح کړای شي،

• د ستراتيژي له اصطلاح سره به بلدتيا پيدا کړي،

•مدرنيزم او پسامدرنيزم به وپېژني،

# پلوراليزم

په تېر کال کې مو په اقتصادي موضوعاتو کې لکه: د توليد، راکړې ورکړې، استهلاك، د توليد د لاملونو، ټولنپيژندنې او روان شناسی په اړه معلومات تر لاسه کړ، په دې لوست کې به له پلوراليز سره بلد شئ.

**خبرې پرې وکړئ**

- پلوراليزم له کومې کلمې څخه اخېستل شوی دی او د هغه معنا څه ده؟
- د پلوراليزم ډولونه کوم دي؟

د سياسي مکتبونو له نويو اصطلاحګانو څخه يوه د پلوراليزم اصطلاح ده چې په ډېرو علمي غونډو کې ورڅخه يادونه کېږي.

## آيا پوهېږئ پلوراليزام له کومې کلمې څخه اخېستل شوی دی؟

د پلوراليزم اصطلاح د لاتيني(Pluralis ) له کلمې څخه چې د ( ډېرو) په معنا ده اخېستل شوې ده. لومړی دغه کلمه په دوديز ډول په کليساکې وکارول شوه، چا، چې په کليساکې بېلابېلې دندې درلودلې، پلورالست به ورته ويل کېده. دا اصطلاح د لومړي وار لپاره په ۱۸۴۱ م کال کې د لوتسه له خوا په خپل « مابعد الطبيعه» نومې کتاب کې فلسفې ته را ننويستلې ده.

پلوراليزم يوه نظر يه ده چې د خلکو، سياسي ډلو، او دګنو اقتصادي اوټولنيزو سازمانونو په ګډون د هېواد د چارو لپاره را منځته شوې ده، په عمومي ډول هره نظريه چې د کارونو په اصل او بنياد کې له يوه څخه ډېره وي پلوراليزم ورته ويل کېږي.

**فعاليت** د خپلو ټولګيوالو په مرسته د پلوراليزم څو بېلګې وليکئ.

## د پلوراليزم د ډولونو په هکله څه پوهېږئ؟

پلوراليزم بېلابېل ټولنيز، سياسي، فرهنګي، اخلاقي او داسې نور ډولونه لري.

### ټولنيز پلوراليزم

په مدني جوړښتونو کې د احزابو، ټولنو، انجمنونو، په ټولنيزو مصالحو کې د رايو د ډولونو، ترديې چې په هرځای کې د اقتدار او قدرت د ډېروالي د ډولونو د قبلولو لپاره کاربدلی دی. د بېلګې په توګه: کولی شو چې ډېر هېوادونه په مختلفو درجو سره د کثرت ګرا ( ډېربنت غوښتونکو) په قطار کې راولو.

**سياسي پلوارليزم**: په هره ټولنه کې د سياسي او ټولنيزو ډلو د ډېربنت او خپلواکی د باور نظريه ده. په

پلوراليستي دولت کې خلک کولی شي چې د دولت په حاکمیت کې برخه واخلي او په جمهوري ریاست او پارلماني ټاکنو کې ګډون وکړي.

**فرهنګي پلوراليزم**: د فرهنګونو د ډېربښت او نقد کولو، په ځانګړي ډول په ادابو او ټولنیزو دو دونو کې له نورو فرهنګونو سره د هغې ښکاره توپير دی. په دې معنا چې بېلا بېلې ډلې په سیاسي او دیني ژوند کې یو له بل سره توپير لري، خو په یوه ټولنه کې په سوله ییز ډول ژوند کوي او د یوه سیاسي، ټولنیز او اقتصادي قانون په سیوري کې ځای لري، د بېلګې په توګه په لندن، نیویارک، شیکاګو او داسې نورو کې قومي ډلې او بېلابېل نژادونه د یوه او بل په څنګ کې ژوند کوي. او د یوه سیاسي، ټولنیز او اقتصادي قانون لاندې اوسي.

**فعالیت** د خپلو ټولګیوالو په مرسته د فرهنګي پلوراليزم دوه بېلګې ولیکئ.

**ستاسې د نورو معلوماتو لپاره**

**انجمن**: د یوې ټولنې جوړښت دی چې په یوه فکر او مشوره سره ګډېږي او ټاکلو موخو ته د رسیدلو لپاره په خپلو منځو کې راغونډېږي.

**د لوست لنډيز**

- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------

**پوښتنې**

۱- له پلوراليزم څخه مقصد څه شی دی؟

۲- د پلوراليزم د ډولونو نومونه واخلئ.

۳- سیاسي پلوارلیزم بیان کړئ.

**کورنۍ دنده**

د پلوراليزم په هکله درې کرښې معلومات ولیکئ.

# ډیپلوماسي

په تېر لوست کې مو د پلورالیزم په اړه معلومات ترلاسه کړ، په دې لوست کې به د ډیپلوماسی په هکله معلومات ترلاسه کړئ.

## خبرې پرې وکړئ

• ډیپلوماسي څه شی دی؟



د بهرنیو هېوادونو لوړپوړو چارواکو سره لیدنې

د پیلوماسي په فرانسوي ژبې څخه د ډیپلومات په معنا یعنې هغه څوک چې په بهرني هېواد کې سیاسي استازیتوب کوي اخېستل شوی دی . او د پیلومات هم له یوناني او لاتیني ژبې، ډیپلوماتي کلمې څخه اخېستل شوی دی چې د سند، بریلیک او د ډیپلوم لرونکي په معنا ده.

په اصطلاح کې ډیپلوماسي ((د سیاست د علم په تړاو)) درې اصلي معنا وي لري:

۱- په پراخه توګه، ډیپلوماسي د دولتونو اړیکو ته وایي.

ځینې سیاسي شنونکي بیا ډیپلوماسي د قدرت یو عنصر بولي. ځینې نور هغه یوازې د ملي سیاست د پلي کولو وسیله بولي.

۲- ډیپلوماسی ته په پراخه توګه د خبرو اترو ( مذاکرې) سره هم تړاو ورکړل شوی دی.

۳- ډیپلوماسي د نړیوالو اړیکو د اداره کوونکي تشکیلاتو د کړنو او د هغو کسانو مسؤولیت ته چې د نړیوالو اړیکو د سمون او تنظیم دنده لري ویل کېږي.

همدارنګه ډیپلوماسي د هېواد د رسمي رئیسانو، د لوړپوړو مسؤولینو او د حاکمې دستګاه او په ځانګړې توګه د بهرني سیاست او د ملي او دولتي ګټو د چارو او موخو په معنا ده.

## آیا پوهېږئ په ځینو لیکنو کې د ډیپلوماسی معنا څرنګه راغلې ده؟

په ځینو لیکنو کې د ډیپلوماسي «د بهرنیو چارو په اړه علم»، د مذکراتو د هنر او د اړیکو په معنا راغلې ده. دلته مذاکره د سیاست په ډګر کې د خبرواترو په معنا ده.

د اتلسمې پېړۍ په پای کې د ډیپلوماسی کلمې په اروپایي هېوادو کې رواج پیدا کړ او په ډیپلوماتیکو فعالیتونو، لکه په (کنګرو، غونډو او ډیپلوماتیکو مشورو) کې کارول شوې ده.

## ستاسې په آند ډيپلوماتيک څه شی دی؟

د ډيپلوماتيک کلمه د يوناني ژبې ډيپلومات څخه اخېستل شوې ده چې په اصل کې د يوې پاڼې يا لوله شوی پاڼې په معنا ده او په اصطلاح کې هغه سندته وايي چې د هغې په واسطه به وګړی ته يو لقب يا امتياز ورکول کيده.

## آيا پوهېږې ډيپلومات څوک دی؟

هغه وګړي چې په نورو هېوادونو کې سياسي منصب لرونکی، د بهرنيو چارو د وزارت کار کوونکي او په بهر کې د هر هېواد سياسي کار کوونکي دي، د ډيپلومات په نوم يادېږي. يا په عامه معنا ډيپلومات هغه وګړي ته وايي چې د خپل هېواد له خوا په نړيوال ډګر کې استاذيتوب لري او هڅه کوي چې ترڅو په سمو، ښو او غوره لارو وکولای شي په نړيوالو اړيکو کې د خپل هېواد ملي ګټې لاسته راوړي. له دې کبله په بهر کې د هېواد د ډيپلوماتانو دنده ده چې نړيوالو ته زموږ د ملي هويت د پېژندلو په موخه هاند او هڅه وکړي

**ستاسې د نورو معلوماتو لپاره**

**کنګره څه ته وايي؟**: کنګره له يوناني کلمې Congressus يعنې د خبرو اترو او جاړجوړې څخه اخېستل شوې ده او په نړيوالې اصطلاح کې دا لغت د هېوادونو د مشرانو او يا د هغوی د استازو غونډې ته چې د يوې موخې لپاره جوړېږي ويل کېږي.

### د لوست لنډيز

- ---------------------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- ډيپلومات له کومې کلمې څخه اخېستل شوی دی؟

۲- ډيپلوماسي څه شی دی؟

۳- ډيپلوماتيک څه شی دی؟

**کورنۍ دنده**

د ډيپلوماسۍ د دريو اصلي معناو په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# پارلمانتاریزم

په تېر شوی لوست کې مو د پلورالیزم په اړه معلومات ترلاسه کړ، په دې لوست کې  به د پارلمانتاریزم سره بلدشئ.

## خبرې پرې وکړئ

- پارلمان څه شی دی؟
- پارلمانتاریزم څه شی دی؟



د افغانستان د ولسي جرګې د ماڼۍ یو انځور

یوه بله اصطلاح چې په  سیاسي ادبیاتو کې ډېره کارول کېږي، پارلمانتاریزم ده. د پارلمانتاریزم په رژیم کې د پارلمان د کلمې په اصطلاح باندې تکیه شوې  ده.

## ایا پوهېږئ پارلمان څه شی دی؟

پارلمان د یوه هېواد د قانون جوړونې لوړې  مجمع (ټولنې) ته ویل کېږي چې په معمولي ډول سره د خلکو د مستقیمو، پټو او ګډو رایو په ترڅ کې ټاکل کېږي او د دموکراسی تېپدلی زړه ګڼل کېږي. پارلمان د مجلس له مخې په دوو برخو وېشل کېږي.

یو مجلسي یا یو اتاقه پارلمان -دوه مجلسي یا دوه اتاقه پارلمان.

لومړی مجلس د نماینده ګانو د مجلس په نوم یادېږي.

دویم مجلس د سنا د مجلس  په نامه یادېږي. زموږ د هېواد پارلمان د ملي شورا په نامه یادېږي چې له ولسي جرګې او مشرانو جرګې څخه تشکیل شوی دی.

**ستاسو په نظر پارلمانتاریزم څه شی د ی؟** پارلمانتاریزم د Parler ( د خبرو کولو او حکم کولو) له فعل څخه اخېستل شوی دی. پارلمانتاریزم یا پارلماني سیستم له هغه حکومتي سیستم څخه عبارت دی چې په هغې کې اجراییه قوا په خپلو چارو کې د مقننه قوې یا د پارلمان په وړاندې مسؤوله وي.

د یادولو وړ ده چې د پارلمانتاریزم رژیم دوه رکنې دی.

د هغه په لومړی سرکې د دولت رئیس (پاچا یا جمهور رئیس) ځای لري چې په اساسي ډول غیر مسؤول دی او د اجراییه قوا په دویم سرکې (صدراعظم) له خپلې کابینې سره وي چې سیاسي مسؤولیت په غاړه لري. د صدراعظم  ټاکل او د وزیرانو تأیید په پارلمان کې د خلکو د استازو د رایو په اساس ترسره کېږي. اجراییه قوا د پارلمان په وړاندې مسؤوله او ځواب  ورکوونکې ده، پارلمان کولی شي چې له اجراییه قوا څخه په فردي

یا ټولیز ډول پوښتنه وکړي یا یې استیضاح کړي او وزیران به د هغې پوښتنو ته یا په کتبي یا شفاهي ډول ځواب ورکوي. د استازو د قانع کیدلو په صورت کې به خپل کار ته ادامه ورکوي. د پارلمان د باور رایې د نه ورکولو په صورت کې کابینه سقوط کوي. په وار وار لیدل شوي دي چې د پارلمان مجلس د باور رایې له نه ورکولو څخه استفاده کړې ده او اجراییه قوا سقوط شوې ده.

داکار د هېواد د پاېښت په سیاست باندې ډېره بده اغېزه کوي او د اجراییه قوا د منظم فعالیت مانع ګرځي. که د پارلمان او اجراییه قوا ترمنځ اختلاف رامنځته شي، صدراعظم او وزیران دا حس کړي چې د عمومي افکارو او دعوامو پشتیباني (ننګه) ورسره مل ده، کولی شي چې له ولس مشر څخه د پارلمان انحلال وغواړي او د کابینې برخلیک (سرنوشت) نویو ټاکنو او د خلکو رایو ته وګرځوي. که چېرته ډېر رایې ورکوونکي په ریښتیا سره د دولت له هیأت څخه ننګه وکړي، خامخا به هغو استازوته رایه ورکوي چې د دې هیأت ملاتړي وي، نو وزیران به په دې لوبه کې په ډېر قوت سره کارته دوام ورکړي. که په نویو ټاکنو کې ډېر خلک د اجراییه قوې له مخالفینو سره ملګري وو کابینه رنګېږي، نور غړي به د نوې کابینې د جوړښت لپاره وګمارل شي.

**ستاسي د نورو معلوماتو لپاره**

**استیضاح**: د اساسي قانون د ۹۲ مادې له حکم سره سم، له وزیرانو څخه د وضاحت غوښتنه.

**د لوست لنډیز**

• ----------------------------------------

• ----------------------------------------

• ----------------------------------------

**پوښتنې**

۱-پارلمان څه شی دی بیان یې کړئ؟

۲- د پارلمانتاریزم رژیم څو رکني دی او د هغه په سرکې څوک وي؟

۳- په کوم حالت کې د پارلمان انحلال له ولس مشر څخه غوښتل کېږي؟

**کورنۍ دنده**

د هغو هېوادونو په باره کې چې د یو مجلس یا پارلماني سیستم لرونکی وي، څو کرښې ولیکئ.

# تکنالوژي

په تېر شوی لوست کې مو د پارلمانتاریزم په اړه معلومات ترلاسه کړ، په دې لوست کې به له تکنالوژۍ سره اشنا شئ.







## خبرې پرې وکړئ

• تکنالوژي له کومې کلمې څخه اخېستل شوې ده، معنایې څه شی دی؟

• د دې پېړۍ حیرانوونکو اختراعاتو او پرمختګونو له څه شی څخه سرچینه اخېستلې ده او د څه شي محصول دی؟

د (   ) انځورد ستلایت انتونه

دحیرانوونکو، اخترعګانو، اکتشافاتو او پرمختګونو پېښې چې په تیزۍ او پرلپسې ډول سره په دې پېړۍ کې د انسان په لاس ترسره شوي دي، له علم او پوهې څخه یې سرچینه اخیستلې ده.

الله (جَلَّ جَلاَلُه) په قرآنکریم کې فرمایلي دي چې:

**عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ** د العلق سورت ۵ آیت

ژباړه: پوهه یې ورکړې ده انسان ته د هغو شیانو چې دا پرې نه پوهېده.

ستاسو په اند تکنالوژي له کومې کلمې څخه اخېستل شوې ده؟ د(   ) انځور د تکنالوژۍ ځوبګلګي

تکنالوژي د یوناني کلمې Tekhne (فن اوهنر) او Lojos (منطق)، یعني د منطقي پېژندنې او وینا له علم څخه اخېستل شوې ده.

تکنالوژي په صنعت، کرنه، روغتیا، تجارت او داسې نورو عملي چارو کې له علم څخه دګټې اخېستلو معنا لري.

ټولنپوهان تکنالوژي: پوهه، مهارت او داسې وسیله معرفي کوي چې د طبیعي موادو په بدلون سره د انسان د مصرفي او د اړتیا وړ توکو لپاره کارول کېږي.

هغه هېوادونه چې د پوهې کچه یې د مادي انکشافاتو او اخترعاتوله مخې اوچته ده د خپلو خلکو د ترقۍ، لوړتیا او ارامۍ لپاره له تکناولوژۍ څخه ګټه اخلي.

**فعالیت** د خپلو ټولګیوالو په مرسته ولیکئ چې کوم هېوادونه د خپلو اتباعو د اسوده ګۍ لپاره له تکنالوژۍ څخه بنه استفاده کوي؟

### ستاسو د نورو معلوماتو لپاره

**تکنالوژي او ښوونه او روزنه:** د علم او تخنیک پراختیا شوني نه ده، خو د ښووني او روزني په چارو سره یې سمون پیدا کړ، ځکه خو ښوونه او روزنه په ښوونځیو او پوهنتونونوکې ترلاسه کېږي، باید پوه شو چې د تکنالوژۍ بنیاد د ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي اړتیاوو پوره کول او د تحقیق پرمختګ د تعلیمي مؤسساتو په ګډون سره پرمخ ځي. د علم

او تکنالوژۍ بدلونونه په تعلیمي او تحقیقي وسایلو کې د بدلون او نوښت لامل شوي دي، لکه: لابراتورونه سمعي او بصري وسایل، برقي ماشینونه، کمپیوټر، انټرنېټ چې د تکنالوژۍ د لاس ته راوړنو څخه دي او په تعلیمي نظام کې د زده کوونکو او محصلانو د علمي کچې د لوړتیا لپاره ور څخه ګټه اخېستل کېږي. تکنالوژۍ له ښوونې او روزنې سربېره په بېلابېلو برخو کې ډېر غوره خدمتونه ترسره کړي دي، د بېلګې په توګه: په مواصلاتو کې، موټر، ریل ګاړی، مترو، ډول ډول مواصلاتي،مسافروړونکې کشفي،څارګرې او جنګي الوتکې، مصنوعي سپوږمکۍ، بحري بېړۍ، او داسې نور. په طبابت کې د بېلابېلو داخله او جراحي ناروغیو په پېژندنه کې د تکنالوژۍ له پرمختللو وسایلو څخه کار اخېستل شوی دی او مرګوني ناروغۍ د دې طبي تکنالوژۍ په واسطه تداوي او رغول کېږي. همدارنګه د کرنې په برخه کې د پرمختللو تخنیکي ماشیني وسایلو، د کرنې د اصلاح شوو تخمونو ډولونو، کیمیاوي سرو، د اوبو لګولو منظمو سیستمونو، د نباتي ناروغیو ضد دواګانو جوړولو، د کرنیزو حاصلاتو د پورته وړلو لپاره بزګرانو ته غوره مشورې ور کول کېږي.

**فعالیت** د خپلو ټولګیوالو په مرسته په کرنه کې د تکنالوژۍ د اغیزې په هکله خبرې وکړئ.

**ستاسې د نورو معلوماتو لپاره:**

مصنوعي سپوږمۍ: یوه دستګاه ده چې د ځمکې، سپوږمۍ او یا د نورو ستورو په مدارونو کې ځای په ځای کېږي، مصنوعي سپوږمۍ له علمي تجهیزاتو او ماشینونو څخه ډکه وي، لکه: د عکاسۍ کمرې، د اوازونو رانیوونکې او د راډیو خپروونکې وسایل، دغه تجهیزات (سامانونه) له انرژۍ څخه لاس ته راغلي دي او د لمر له رڼا څخه ګټه اخلي. له مصنوعي سپوږمۍ څخه د ستورو او یا د هوا پېژندنې د معلوماتو د اخیستلو او یا د معلوماتو د لېږدونې لپاره کار اخېستل کېږي.

### د لوست لنډیز

- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

### پوښتنې

۱-تکنالوژي د ټولنپوهنې له حیثه تعریف کړئ.

۲- د نوې تکنالوژۍ د تخنیکي وسایلو څخه چې په ښوونه او روزنه کې کارول کېږي نومونه واخلئ.

۳- له مصنوعي سپوږمۍ څخه په کومو ځایونو کې استفاده کېږي؟

**کورنۍ دنده**

د تکنالوژۍ د اهمیت په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

# نړیوال کېدل

په تېر شوي لوست کې مو د تکنالوژۍ په هکله معلومات ترلاسه کړل، او س د نړیوال کېدلو له اصطلاح سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

• نړیوال کېدل کومه معنا ورکوي؟

نړیوال کېدل له هغو منل شوو اصطلاحګانو څخه ده چې په وروستیو کلونو کې په سیاسي فرهنګ او په نړیوالو رسنیو کې پېژندل شوې ده چې سیاست پوهانو، روشنفکرانو، اقتصاد پوهانو او داسې نورو په خپلو لیکنو کې کارولې ده.



د نړیوال کېدلو نښان

خو نړیوال کېدل په عربي ژبه کې د عولمه (د نړیوال کېدلو) په معنا او مصدر ده. چې د عالم له کلمې څخه اخېستل شوې ده.

په ښکاره ډول يې معنا نړیوال کېدل دي د نړیوال شموله په معنا ده. الله (جَلَّ جَلالُهُ په قرآنکریم کې فرمایلي دي:

﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ﴾ دانبیاسورت ۱۰۷ ایت.

ژباړه: موږ ته نه يې لېږلی (اي پیغمبره) مګر د عالمیانو لپاره رحمت، د قرانکریم په بل ځای کې هم الله تعالی فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ...﴾

د حجرات سورت ۱۳ ایت

ژباړه: (( اي خلکو موږ تاسو له یونارینه او یوې ښځې څخه پیدا کړي یاست او تاسو مې ډلې ډلې او قبیلې قبیلې ګرځولي یاست، بې له شکه په تاسو کې د الله (جَلَّ جَلالُهُ په نزد عزتمن ستاسې ډېر تقوا دار ستاسې دی.))

قرآنکریم دلته د بشر تر منځ د هر اړخیز عدالت حکم کړی دی، د ملت ځانګړتیاوې يې ناځرګندې پر ېښې نه دي، ځکه په قرآنکریم کې الله پاک هغوی د بېلابېلو ډلو او قبایلو په نومونوسره یاد کړي دي چې یو له بل سره وپېژني او مرسته وکړي. نو اسلام نړیوال دین دی، په یوه قوم یا په ملت پورې تړلی نه دی، خو اسلام له نړیوال کېدلو څخه خپل تعبیر لري او غربیان ترې خپل تعبیر لري.

د نړیوال کېدلو اصطلاح تر ۱۹۶۰ م او د ۱۹۷۰ م لومړیو پورې علمي رواج پیدا کړی نه و.

د مشهورو نظر پوهانو له نظره نړیوال کېدل، د زمان او مکان یو پیاوړی بهیر دی چې د نړۍ خلک لږ یا ډېر نسبتاً په آګاهانه ډول سره په نړیواله ټولنه کې ورداخلېږي.

د نړیوالتوب لپاره له پورته تعریفونو سربېره نور تعریفونه هم شته، لکه: نړیوال کېدل او ټولیز کېدل.

### د نړیوال کېدلو د خواو (ابعادو) په اړه څه پوهېږئ؟

نړیوال کېدل بېلابېلې سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، حقوقي، تکنالوژیکي او ټولنیزې خواوې لري چې دلته يې یو څو په لنډ ډول سره وړاندې کېږي.

**د نړیوالتوب اقتصادي اړخ:** دا اړخ د لویدیځ د څېړونکو په اند ډېر مهم اړخ ګڼل کېږي چې نړیوال

تجارتي بازار، د پيسو نړيوال صندوق، نړيوال بانک، د تجارتي او گمرکي تعرفو نړيوال تړون څوملیتي شرکتونه، خصوصي کېدل، د کم ظرفيته بازارونو بندول، د بهرنيو هېوادونو د بې پوښتيوانه (بې سنده) پيسو او اسعارو له منځه وړل په کې شامل دي.

## د نړيوال کېدلو ټولنيز اړخ

په دې ځای کې په نړۍ کې ورځ په ورځ د زياتيدونکي بېوزلۍ، د قوميت مسئلې او نژاد پرستي چې نړيوال شکل لري، نومونه اخستلی شو. د ټولیز نړيوال کېدلو عناصر، په چټکۍ سره د مهاجرتونو ډېروالی، صنعت، تجارت، سياحت، سپورت، د ژوند طريقې او داسې نور دي.

په لنډ ډول ويلی شو چې: هره نړيواله پديده د مثبتو او منفي پايلو لرونکي وي، د نړيوال کېدلو له ځينو ښيگڼو څخه لکه: په خپلو کې د ډېرو اقتصادي محصولاتو يو ځای کول او د اطلاعاتو او خبرتيا په بهير کې د خنډونو د له منځه وړلو نومونه اخستلی شو. د نړيوال کېدلو زيانونه عبارت دي له: په نړۍ کې د کار او کسب له منځه وړل، په نړۍ کې د بيوزلي او شتمن ترمنځ واټن پيدا کېدل، د دولتي سود او گټې ډېربښت چې د مادي قدرت لرونکي وي.

**فعاليت**

د خپلو ټولگيوالو په مرسته د نړيوال کېدلو د اړخ د زيانونو په هکله درې کرښې وليکئ.

**ستاسې د نورو معلوماتو لپاره**

**ملي گټې**

په عمومي مفهوم سره هغه عناصر چې د يوه هېواد ډېرې مهمې اړتياوې او ارزښتونه جوړوي او د هېواد د بهرني سياست د تصميم نيونې په بهير کې وروستی او ټاکونکې موخې گڼل کېږي، دا موخې د هېواد د خپلواکۍ ساتلو، د ځمکې تماميت، ملي امنيت، نظامي او د اقتصادي گټو څخه عبارت دي.

### د لوست لنډيز

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- نړيوال کېدل تعريف کړئ.
۲- د نړيوال کېدلو د اړخونو يوازې نومونه واخلئ.
۳- د نړيوال کېدلو ټولنيز اړخ وليکئ.

**کورنۍ دنده**

د نړيوال کېدلو د زيانونو په اړه څلور کرښې وليکئ.

# سیاست

په تېر شوي لوست کې مو ولوستل چې نړیوال کېدل د یو ټولنیز بهیر په معنا دی چې له ډېر پخوا څخه پیل شوی دی او د پراختیا په حالت کې دی. په دې لوست کې به له سیاست سره بلدشئ.

## خبرې پرې وکړئ

- د سیاست لغوي معنا څه ده؟
- سیاست په اصطلاح کې کومه معنا ورکوي؟

تاسې د سیاست له کلمې سره بلدیاست او دا اصطلاح مو هره ورځ د ډله ییزو ارتباطي رسنیو مخصوصاً له تلویزیون څخه لیدلې او اوریدلې ده او همدارنګه عام خلک په مجلسونو کې له سیاست څخه خبرې کوي، لکه: د هېواد سیاست سالم دی، دولت د خلکو د بیکارۍ په برخه کې پاتې دی، سربېره پردې مونږ او تاسو د تلویزیونونو له لارې د ګردي مېز، د خبري برنامو، مرکو، مشورو، تودې خبرې او داسې نورو سیاسي خبرو شاهدان یو، نو په دې اساس باید د سیاست په معنا ضرور پوه شو.

سیاست ډېرې معناوې لري چې ځینې یې له: حکم چلول، ریاست کول، اداره کول، اصلاح کول، تدبیر نیول، عدالت، قضاوت، جزا، شکنجه، بندي کول او له داسې نورو څخه عبارت دی او په اصطلاح کې سیاست Politics له یوناني کلمې Polis یعنې ښار څخه اخېستل شوی دی.

**آیا پوهېږې پوهانو سیاست کوم ډول تعریف کړی دی؟**

۱- په انساني ټولنه باندې د حکومت کولو فن ( فرهنګ روبر)

۲-په هېواد باندې د حکومت کولو فن ( د لیتره تعریف)

۳- د دولت مطالعه (هارولد لاسکی)

اسلامي پوهانو هم د سیاست تعریفونه کړي دي چې دلته یې دوه تعریفونه وړاندې کېږي:

۱-حسن ابراهیم د تاریخ او فلسفې استاذ، سیاست په حکومت او خلافت سره تعریفوي.

۲- استاذ محمد کامل لیله د قاهرې په پوهنتون کې د حقوقو او سیاسي علومو استاذ، سیاست په حکومت او قدرت سره معنا کوي. نن سبا د سیاست کلمه هغې ته ویل کېږي چې د حکومت او ټولنې ورځنۍ چارې پرمخ بیایي او اقتصادي ماهیت او علمي مفهوم لري.

**فعالیت** هغه سیاسي بحثونه چې د هېواد په تلویزیونو کې کېږي په کومو نومونو سره یادېږي؟ د خپلو ټولګیوالو په مرسته د هغوی نومونه ولیکئ.

**سیاست په څو ډوله دی؟** سیاست په دوه ډوله دی.

۱- **داخلي سیاست**: حکومتونه د مناسبو او سنجیده تدبیرونو په نیولو په خاصو مادي او معنوي شرایطو سره د هېواد چارې سمبالوي ترڅو چې د ټولنې غړي په خپلو ټولنیزو دندو عمل وکړي.

۲- **بهرنی سیاست**: له نورو دولتونو سره د حکومتونو چال چلند دی چې هغې ته نړیوالې اړیکې ویل کېږي چې په نړیوالو اصولو باندې ولاړې دي.

## د سیاست په علم کې کوم موضوعات شامل دي؟

عبد الحمید ابوالحمد د(( مباني علم سیاست)) په کتاب کې د سیاست د علم موضوع په دریو برخو ویشي:

۱- هغه کسان چې د سیاست د علم موضوع (دولت) ګڼي.

۲- هغه کسان چې د سیاست د علم موضوع ( قدرت) ګڼي.

۳- هغه کسان چې د سیاست د علم موضوع سیاسي پدیده ګڼي.

**فعالیت** سیاست له کومې لارې څخه پلې کېږي، د خپلونورو دوستانو په مشوره یې خلاصه کړئ.

**ستاسې د نورو معلوماتو لپاره**

سیاسي پدیده: هره پېښه او یا بهیر چې په ټولنه کې منځ ته راځي، په یو شکل د شکلونو د ټولنې له سیاسي برخلیك سره اړیکه لري، په داسې ډول چې د ټولنې د خلکو، مسؤولینو او د ټولنې د مدیرانو فکر خپل ځان ته راواړوي او د مشاهدې او بررسۍ وړوي، سیاسي پدیده ګڼل کېږئ.

**د لوست لنډيز**

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

**پوښتنې**

۱-سیاست په اصطلاح کې له کومې کلمې څخه اخیستل شوی دی بیان یې کړئ.

۲- حسن ابراهیم د تاریخ او فلسفې استاذ د سیاست څرنګه تعریف کړی دی؟

۳- ځینو پوهانو د سیاست د علم موضوع ته څه ویلي دي؟ بیان یې کړئ.

**کورنۍ دنده**

د سیاست په اړه پخپلو کتابچو کې درې کرښې ولیکئ.

# ستراتېژي

په تېرو لوستونو کې مو اشاره وکړه چې سياست بېلې بېلې معنا وې لري چې د هغې ځينې عبارت دي له: حکم چلول، رياست کول، اداره کول، اصلاح کول، تدبير نيول، او داسې نور، په اصطلاح کې په انساني ټولنو باندې د حکومت کولو له فن څخه عبارت دی؛ په دې لوست کې به د ستراتېژۍ له کلمې سره بلدشئ.

## خبرې پرې وکړئ

- ستراتېژي له کومې کلمې څخه اخېستل شويده او معنا يې څه ده؟
- تاسو د دولسم ټولگي له فراغت څخه وروسته د خپلو لوړه زده کړو په اړه څه ستراتېژي لرئ؟

ستراتېژي د هغو اصطلاحگانو له ډلولونو څخه ده چې په معاصرو ټولنيزو او سياسي ادبياتو کې ډېره کارول کېږي.

ستراتېژي د يوناني کلمې Strategos دلښکر په معنا اوagein د فرمان ورکولو په معنا سره اخېستل شوې ده، د دې لغوی معنا پراساس د ( لشکر مشر) ته ويل کېږي.

آيا پوهېږئ د ستراتېژۍ اصطلاح د کومې معنا لپاره کارول کېږي؟ ستراتېژي په اصطلاح کې د دولتونو نسبتاَ د اوږدې مودې د سياسي، اخلاقي او اقتصادي نظامونو رهبرۍ او تگ لارې ته وېل کېږي.

ځينې وختونه ستراتېژي، هنر، علم، فن، هدايت او د يوه ځانگړې کار په اړه د اړوندو نظامونو او مقرراتو د ټولگې رهبرۍ يا په بل عبارت سره د لار موندنې علم ته وېل کېږي.

لارموندنه ( راهبرد) څه شی دی؟

د زور او ځواك په کارولو سره د يوه ټاکلي هدف د لاسته راوړلو لپاره د تجهيز ( د وسايلو د برابرولو) عمل ته ويل کېږي.

د لومړي ځل لپاره دغه اصطلاح د پوځي چارو لپاره په کار واچول شوه، د عيسي عليه السلام له ميلاد څخه شپږ پېړۍ مخکې د پوځي ځواکونو د رهبرۍ او حکم چلوونکي ته (ستراگوس يا ستراتيژ) ويل کيده.

**فعاليت** ستراتېژي په اصطلاح کې په کومه معنا سره راغلې ده، د خپلو ټولگيوالو په مرسته څو کرښې وليکئ.

### آيا پوهېږئ ناپليون بوناپارت ستراتېژي څرنگه بيان کړې ده؟

ناپليون بوناپارت د فرانسې امپراتور ستراتېژي د (جگړې د لار موندنې هنر) بللی دی. د نولسمې پېړۍ په لومړيو کې ستراتېژي د جگړې د هنر، فن او هدايت او د هغې موخو ته رسيدل تعريف کړې دی. نن ورځ دغه اصطلاح په سياسي، اقتصادي، پوځي او اخلاقي چارو کې کارول کېږي او د هېواد کورنۍ او بهرنۍ برخې په برکې نيسي.

ستراتېژي په سياست کې يو اساسي هدف ته د رسيدلو لپاره په مناسب وخت کې د ټولو امکاناتو برابرول او شرايطو ته بدلون ورکول دي؛ چې يوه اوږد، ملي هدف ته د رسيدلو لپاره د ټولو اقتصادي، اجتماعي او سياسي قوتونو تيارول او جلبول دي، لکه: د هېواد صنعتي کول يا د يوه نهاد د رفا او ملي قدرت کچې ته د رسيدلو سرحدته ستراتېژي ويل کېږي.

ستراتېژي د يوه دولت يا څو دولتونو په کچه د اقتصادي، سياسي او پوځي پلانونو ترمنځ د هماهنگۍ او همکاري د علم

رامنځته کولو او پوځي موخو ته د رسيدلو په غرض له ټولو امکاناتو څخه کار اخيستل دي.

ستراتېژي په ټوله موده کې په يوه ټاکلي مرحله کې اساسي بدلون نه کوي، يوازې په انتقال سره له يوې مرحلې څخه بلې مرحلې ته بدلېږي او خپل ځای هغه ستراتژۍ ته چې له نوې مرحلې سره برابره ده پرېږدي. له دې امله له عمومي سياست سره برابره ستراتېژي عمومي موخې ته د رسيدلو لپاره ده.

د ستراتېژي اصطلاح غالباً له تاکتيک سره کاريدلې ده چې د ستراتېژي د يوې عمومي طرحې(پلان) د سرته رسولو د عملي طريقې په معنا ده.

**فعاليت** د خپلو ټولګيوالو په مرسته د نن ورځې ستراتېژي تعريف کړئ.

**ستاسې د نورو معلوماتو لپاره**

**تکتيک څه شی دی؟:** د تاکتيک Taktik له ريښې څخه اخيستل شوی دی. د هنر په مفهوم سره دی چې شيان يو د بل په څنګ کې سره کېښودل شي، ( تنظيم او ترتيب) ته هم ويل کېږي. تاکتيک د دښمن د مقابلې لپاره له رزمي قوتونو او امکاناتو څخه د ګټې اخيستلو طريقې ته هم ويل کېږي.

تاکتيک د جګړې په ډګر کې په لاره، وسايلو او ماهرانه پلانونو باندې د سرلښکر له پوهې څخه عبارت دی چې د هدف د لاس ته راوړلو لپاره کارول کېږي. تاکتيک د ستراتېژۍ خلاف دی چې د لوړتيا، نوښت او بدلون تابع دی او د مقتضياتو پر بنا بدلون مومي.

**د لوست لنډيز**

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

**پوښتنې**

۱-ناپليون بوناپارت ستراتېژي ته څه ويلې دي وې ليکئ.

۲- د نولسمې پېړۍ په لومړيو کې يې ستراتېژي څرنګه تعريف کړې ده؟

۳-ستراتېژي په سياست کې په کومه معنا راغلې ده؟ بيان يې کړئ.

**کورنۍ دنده**

د ستراتېژي او تاکتيک توپير په دوه وکرښو کې وليکئ.

# مدرنیزم، پسامدرنیزم

په تېر لوست کې مو زده کړل چې ستراتېژي په اصطلاح کې د دولتونو د سیاسي، اخلاقي او اقتصادي نظام نسبتاً د اوږدې مودې تګ لارې ته وېل کېږي، په دې لوست کې دمدرنیزم او د پسامدرنیزم سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ



د مدرنې ماڼۍ انځور د ساده ماڼیو انځور

•مدرنیزم له کومې کلمې څخه اخیستل شوی دی او کومه معنا ورکوي؟

•مدرنیزم څه شی دی؟

یوه بله اصطلاح چې له ډېر پخوا څخه د علم خاوندانو متفکرانو، پوهانو، محقیقنو، علمي او سیاسي شخصیتونو کاروله مدرنیزم او پسامدرنیزم ده. موږ ټولو د مدرن کلمه د ګڼو خبري رسنیزو وسیلو څخه اورېدلې ده او په ورځنیو خبرو کې مو کارولې ده، لکه: مدرن قصر، مدرن کور، مدرن موټر، مدرن لباس او داسې نور، اوس پوښتنه رامنځته کېږي چې مدرن څه شی دی؟

مدرن د لاتیني مدربون Modernus لفظ دی چې په دې وروستیو کې د تازه او نوې په معنا سره راغلی دی، په خبرو اترو کې هم مدرن د اوسني وخت په نوي شي باندې دلالت کوي او د زوړ شي پر ځای چې نور د منلو وړ نه وي قرار لري. له مدرن عصر څخه مراد هغه زمانه ده چې د رنسانس سره یوځای پیل شوې ده، وده او پرمختګ کوي.

**آیا پوهېږئ چې په اروپا کې کوم شخص د مدرنیته اصطلاح وکاروله؟**

د مدرنیته اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۸ م پېړۍ کې د ژان ژاک روسویه اثارو کې کارېدلې ده، له هغه څخه وروسته یې د هغې وخت د ډېرو لیکونکو په اثارو کې دود پیدا کړ، په دري ژبه کې د تجدد او نوښت کلمه د مدرنیزم سره برابره ده.

### مدرنیزم یا تجدد

د علومو اوتمدن له پرمختګ سره د سنتي (دودیزو) ارګانونو د همغږي کولو بهیر ته وېل کېږي، مدرن هغه چاته وېل کېږي چې د هېواد دوستۍ، له بې وسو سره د مرستې، خپلواکۍ، د ازاد فکر، د شهامت او ځان تېرېدنې روح په خپلو افکارو او عقایدو کې ولري او خپله ملي فرهنګي شتمني وساتي، مدرنیزم سربېره له مثبتو خواوو څخه منفي اغېزې هم په ټولنه کې پر ېښې دي، لکه: د جرمونو ډېرښت، سرغړونې، د نشه يي توکو کارول، د سفلیس مرګوني ناروغۍ، ایډز، په جګړو کې د انسانانو وژل او داسې نور.

**فعالیت** مدرن څوک دی؟ په دې هکله د خپلو ټولګیوالو په مرسته یو څوکرښې ولیکئ؟

## پسامدرنیزم (وروستۍ نوې کېدنه)

ډېره موده کېږي چې دا اصطلاح، په ادبیاتو، فلسفه او ان په معمارۍ کې کارول شوې ده چې د ۱۹٦۰م.د لسیزې له نیمایي څخه یې د ټولنپېژندنې د علم په ساحه کې ځانته لار پرانیستې ده. د پسامدرنیزم فکري نظر د (نیچه) او د (هایدگروفروید) په لیکنو او اثرونو کې راغلی دی؟ چې دواړه د پسامدرنیزم د بنسټ ایښودونکو څخه دي.

د امریکایي ټولنپېژندونکي پوه (دانیل) په نظر د پسامدرنیزم دوره، د بې قانونۍ دوره، د ټولنیز هویت نفي کوونکې، د افراطي ځان غوښتنې، د لنډمهال خوند غوښتنې دوره، د نوې غوښتنې فرهنگ سره د ضدیت، د دیموکراتیکي سیاستونو او پانگه والي اقتصاد او مدني ارزښتونوضددوره ده.

د پسامدرنیزم پوهان او متفکران د مدرنیزم په هکله ځینې نظرونه لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- پسامدرنیزم، د روښانوونکو فکرونو په دوره باندې نیوکه کوي او د دې دورې له لاسته راوړنو سره ضدیت لري

۲- پسامدرنیزم، په مدرنیزم نیوکه او مخالفت ورسره کوي او له مدرنیزم څخه مخکې دورې ته د بېرته گرځېدلو غوښتونکي دي.

۳- مدرنیزم دټولنیزو ستونزو، لکه: بې وزلي او د اقتصادي امنیت د نشتوالي په له مینځه وړلو کې بریالی شوی نه دی.

٤- ډېرو مدرنو ټولنو خپلې هیلې او ارزوگانې له لاسه ورکړي دي او دې پایلې ته رسیدلي دي چې د انسانانو ژوندانه شرایط ورځ په ورځ بد شوي دي او راتلونکي ته ډېر لږ ډاډه دي.

**فعالیت** د پسامدرنیز اصطلاح د کومو لیکوالو او پوهانو په اثرونو کې لیکل شوې ده؟ د خپلوټولگیوالو په مرسته د هغوی نومونه ووایئ.

**ستاسې د نورو معلوماتو لپاره**

**رنسانس**: د اروپا په تاریخ کې هغې دورې ته وېل کېږي چې له څوارلسمې پېړۍ څخه تر شپاړسمې پېړۍ پورې ادبیات، صنایع او علوم په دې دورو کې له سره او بیا ژوندي شوي دي.

**د لوست لنډیز**

- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

**پوښتنې**

۱-مدرنیزم تعریف کړئ.

۲- د مدرنیته اصطلاح لومړی د کوم کس او په کومه پیړۍ کې کارول شوې ده؟

۳- د (پسامدرنیزم) په اړه د دانیل نظریه ووایئ.

**کورنۍ دنده**

د مدرنیزم منفي اثرونه په درې کرښو کې ولیکئ.

# دویم څپرکی

په دې څپرکي کې به له لاندې سرلیکونو سره آشنا شئ:

- د ملګروملتونو سازمان،
- د ملګرو ملتونو د سازمان اصلي او فرعي ارګانونه،
- په افغانستان کې د ملګروملتو کارنامې،
- اساسي (بنسټيز) حقونه،
- د بشر دحقونو تاریخچه،
- د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه،
- د بشر حقونه د اسلام له نظره،
- د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون،

## د څپرکي موخې

له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د دې څپرکي په لوستلو سره لاندې موخې لاسته راوړي.

- د نړیوال سازمان سره به آشنا شي،
- د نړیوال سازمان اصلي او فرعي ارګانونه به وپېژني،
- له اساسي حقونو سره به مینه پیدا کړي،
- د نړیوالو بشري حقونو د اعلامیې سره به آشناشي،
- د بشر حقونه به د اسلا م له نظره وپېژني،
- د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره به آشنا شي،

# د ملګرو ملتونو سازمان

په تېر لوست کې مو د مدرنیزم او پسامدرنیزم په هکله معلومات ترلاسه کړ، په دې لوست کې به د ملګرو ملتونو له سازمان سره بلدشئ.

## خبرې پرې وکړئ



دا انځور د ملګروملتونو د سازمان نښان

•هغه لومړني کارونه ( مقدمات) چې د ملګرو ملتونو د منځ ته راتګ لامل شول، کوم دي؟

هغه مقدمات ( لومړی هڅې) چې د ملګرو ملتونو د جوړېدو سبب شوي دي عبارت دي له:

د اتلانتیک منشور، په ۱۹۴۲ میلادي کال کې د ملګروملتونو اعلامیه، په ۱۹۴۳ م کې د دریو هېوادونو ( امریکا، انګلستان او پخواني شوروي اتحاد) تر منځ د عمومي امنیت اعلامیه، د تهران کنفرانس، د دمبارتن اوکس کنفرانس، د یالتا کنفرانس او د سانفرانسیسکو کنفرانس.

د ملګروملتونو د سازمان منشور هغو اسنادو ته ویل کېږي چې د همدې سازمان د اساسي قانون په حکم کې حساب شوي وي. دا منشور په ۱۹۴۵ م کې د جنوري په ۲۶ په سانفرانسیسکو کې لاس لیک شو او د ۵۱ هېوادونو استازو تصویب کړ. د منشور حکم د ۱۹۴۵ م کال د اکتوبر له ۲۴ څخه عملي شو.

ځینې تصویب کوونکي هېوادونه عبارت دي له:

((افغانستان، پخواني شوروي اتحاد، د امریکې متحده ایالتونه، ارجنټاین، انګلستان، فرانسه، چین، استرالیا، برازیل او داسې نور.

زموږ ګران هېواد افغانستان په ۱۳۲۵ هـ.ل کال کې چې د ۱۹۴۶ میلادي کال سره سمون لري، د ملګرو ملتونو په سازمان کې شامل شوی دی چې اوس ۱۹۵ هېوادونه د ملګروملتونو د سازمان غړی دي. وروستی هېواد چې د ملګرو ملتونو د سازمان غړیتوب یې ترلاسه کړی دی، جنوبي سوډان دی چې پلازمینه یې د (جوبا) ښار دی.

**فعالیت** د خپلوټولګیوالو په مرسته سربېره پر هغو هېوادونو چې نومونه یې مخکې واخېستل شول د لسو نورو هېوادونو چې د ملګروملتونو د سازمان غړي دي نومونه ولکئ.

### آیا پوهېږئ چې ملګري ملتونه کومې موخې لري؟

د ملګروملتونو موخې او هدفونه په لاندې توګه دي:

۱- د نړیوالې سولې او امنیت ساتل.

۲- نړیوالو دوستانه اړیکو ته پراختیا ورکول، د خلکو ترمنځ د برابری د اصل پربنسټ د خپل برخلیک د ټاکلو او د نورو هغو هڅو او کوښښونو برابرول چې د نړیوالې سولې په ټینګېدو کې مناسب وي.

۳- د نړیوالو اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، انسان دوستی، د بشر حقونو او بنسټیزو خپلواکیو ته په پراختیا ورکولو کې، د ستونزو په حلولو کې د نړیوالو مرسته کول.

٤- د یو مرکز مینځ ته راوړل چې دغه مرکز د پاسنیو هدفونو او موخو په لاس ته راوړلو کې ګټور ثابت شي.

د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور له مخې نړیوالې رسمي ژبې: اسپانوي، انګلیسی، چیني، روسي، فرانسوي او عربي دي.

**فعالیت**

د خپلوټولګیوالو په مرسته د ملګرو ملتونو د لنډو هدفونو په هکله دوه کرښې ولیکئ.

**ستاسې د نورو معلوماتو لپاره:** په ۱۹۹٤ میلادي کال کې د ډمبارتن اوکس کنفرانس: دا کنفرانس په ۱۹٤٤ میلادي کال په واشنګتن ډي سی ښار کې جوړ شو. د هغې غړې عبارت دي له:

د امریکا متحده ایالتونه، ایتالیا، او پخوانی شوروي اتحاد چې د کنفرانس په لومړني او د خبرو اترویه ډېرو مهمو پړاوونو کې یې ګډون وکړ، چین د امریکا په ملګرتوب او بریتانیا د بحثونو او خبرو اترو په دویم پړاو کې ګډون وکړ. په دې کنفرانس کې د ملګروملتونو د سازمان د جوړولو لپاره لومړنی مسوده ولیکل شوه.

### د لوست لنډیز

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱-هغه وروستی هېواد چې د نړیوال سازمان غړیتوب یې ترلاسه کړ، څه نومېده او د هغه هېواد د پلازمېنې نوم ولیکئ.

۲- زموږ هېواد له لاندنیو کلونو څخه په یوه کې د ملګروملتونو په سازمان کې شامل شوی دی.

الف: ۱۹٤۵م کال ب: ۱۹٤٦م کال ج: ۱٦٤۷ م کال د: ۱۹٤۸ میلادي کال

۳- د ملګروملتونو دوه هدفونه ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

د ملګروملتونود سازمان په هکله څلور کرښې ولیکئ.

# د ملګروملتونو د سازمان اصلي او فرعي ارکان

په تېر لوست کې مو د ملګروملتونو د سازمان په هکله معلومات ترلاس کړ، خو په دې لوست کې د ملګروملتونو اصلي او فرعي ارکانو سره اشنا کېږئ.


په نیویارک کې د ملګروملتونو د سازمان مرکز

**خبرې پرې وکړئ**

- د ملګروملتونو د سازمان اصلي ارکان کوم دي؟
- د ملګروملتونو د سازمان فرعي ارکان کوم دي؟

د ملګرو ملتونو د سازمان اصلي ارکان عبارت دي له:

عمومي غونډه، امنیت شورا، ټولنیزه او اقتصادي شورا، د قیمومیت شورا، د عدالت او دارالانشا نړیوال د یوان، چې له دې ارکانو څخه هر یو دلته په لنډه توګه در پېژندل کېږي.

۱- **د ملګروملتونو د سازمان عمومي غونډه( مجمع)**: د ملګروملتونو د سازمان له اصلي ارکانو څخه ده چې د سازمان ټول غړي په هغې کې ګډون لري.

د عمومي غونډې تصمیمونه ( هوډونه) عبارت دي له:

د نړیوالې سولې او امنیت ساتل، د امنیت شورا د غیر دایمي غړو ټاکل او داسې نور چې د رأیو په اکثریت سره ټاکل کېږي.

۲- **د ملګروملتونو د امنیت شورا**: د امنیت شورا د ملګروملتونو د سازمان له مهم رکن څخه ده چې پنځلس غړي لري چې پنځه غړي یې ( امریکا، روسیه، فرانسه، انګلستان او چین) دي چې د وِیتو(Veto) حق لري او لس غړي یې غیر دایمي دي چې د عمومي غونډې له خوا ټاکل کېږي. د شورا تصمیمونه لږترلږه د نهو مثبتو رأیو په ګټلو سره منل کېږي.

**فعالیت** د ملګرو ملتونو د سازمان غونډه پر کومو مسایلو او ستونزو تصمیم نیسي؟
د خپلو ټولګیوالو په ملګرتیا هغه موضوع ګاني په لنډه توګه ولکئ.

۳- **د ملګروملتونو د سازمان د قیمومیت شورا**: د قیمومیت شورا غړي د ملګروملتونو له غړو څخه ټاکل کېږي. نوموړې شورا دنده لري چې د خپل واک لاندې سیمو د څارنې، پرمختګ او ترقی راپورونه مطالعه او د دې سیمو د پرمختګ لپاره د خپلواکۍ لارښوونه وکړي.

۴- **اقتصادي او ټولنیزه شورا**: نوموړې شورا په ملګرو ملتونو پورې د اړوندو شخصي او تشکیلاتي فعالیتونو د هم غږي کولو، په اقتصادي او ټولنیزو چارو کې، لکه: په نړیوال تجارت او د ژوند چاپېریال پورې تړلو مسایلو، د بشر حقونو، د فرهنګي چارو، روغتیا او ټولنې د کنترول لپاره جوړه شوې ده.

۵- **د عدالت نړیوال دیوان ( نړیواله محکمه)**: نوموړی دیوان پنځلس قاضیان لري چې غړي یې

له پنځلسو هېوادونو څخه دي. نوموړی دیوان دوه دندې لري:
الف: هغو ټولو ستونزو ته رسیدل چې د ملګرو ملتونو سازمان ورته پاملرنه کوي.
ب: د مشورتي نظریو ښودل.
د دې دیوان مقر دهالند د هېواد د ( هاګ) په ښار کې دی.
**۲- دارالانشا**: د ملګروملتونو د سازمان اداري مؤسسه ده چې د سرمنشي او نورو اداري کارکوونکو څخه جوړه شوې ده. د دې اداري غړي په ټوله نړۍ کې دندې ترسره کوي.
د ملګروملتونو سرمنشي د سازمان د اداري چارو سمبالول، د بېلابېلو ارکانو او د هغو مؤسساتو چې د ملګرو ملتونو د سازمان سره تړاو لري د هم غږي کولو مسؤولیت په غاړه لري.
**آیا پوهېږئ چې د ملګروملتونو د سازمان فرعي ارکان کوم دي؟**
د ملګروملتونو سازمان برسېره پر اصلي ارکانو ډېر فرعي ارکان هم لري چې د دوی هریو له اصلي ارګانونو څخه په یو پوري تړاولري چې په دې برخه کې د سازمان د ډېرو مهمو ارکانو د نومونو په اخېستلو بسنه کوو.
د ملګروملتونو د سازمان فرعي ارکان عبارت دي له:
د نړیوالو حقونو کمیسیون، د پناه وړونکو لپاره د ملګروملتونوعالي کمیسیون، د ملګرو ملتونو د پراختیا او سوداګرۍ کنفرانس، د ملګرو ملتونو د ټولنې (جمعیت) صندوق، د ملګروملتونو له خوا د عمراني چارو برنامه او داسې نور.

**فعالیت** د خپلو ټولګیوالو په مرسته د عدالت د نړیوال دیوان دندې ولیکئ.

**ستاسې د نورومعلوماتو لپاره**: ویټو(Veto) د ردکولو د حق په معنا ده، داکلمه لاتیني کلمه ده او د ( زه ردوم) په معنا ده. دا یو داسې حق دی چې د ملګروملتونو د سازمان د امنیت شورا دایمي غړي یې د هغې د تصمیمونو د نفي کولو لپاره لري.

**د لوست لنډیز**
- -----------------------------------------------------------------
- -----------------------------------------------------------------
- -----------------------------------------------------------------

**پوښتنې**
۱- د ملګروملتونو د اصلي ارکانو نومونه واخلئ.
۲- د اقتصادي او ټولنیزې شورا په هکله په لنډه توګه معلومات راکړئ.
۳- د ملګروملتونو د سرمنشي دنده بیان کړئ.

**کورنۍ دنده** د ملګروملتونو د سازمان د لسو فرعي ارکانو نومونه واخلئ.

# په افغانستان کې د ملګروملتونو د سازمان کارونه

په تېر لوست کې مو ولوستل چې د ملګروملتونو د سازمان اصلي ارکان عبارت دي له: عمومي غونډه (مجمع)، د امنيت شورا، اقتصادي او ټولنيزه شورا، د قيموميت شورا، د عدالت نړيواله محکمه او دارالانشأ. په دې لوست کې په هېواد کې د ملګروملتونود سازمان له کارنامو سره اشنا کېږو.

## خبرې پرې وکړئ

• د ملګروملتونو سازمان زموږ په هېواد کې په کومو برخو کې فعاليت کوي؟
• د بن له توافقاتو څخه وروسته زموږ په هېواد کې د ملګروملتونو کوم فرعي ارکان فعاليت کوي؟

د مهاجرينو په چارو کې د ملګروملتونو د عالي کميسارۍ نښان

د ملګروملتونو سازمان د بن د توافقاتو پر بنسټ دا دنده پرغاړه واخېسته چې په افغانستان کې د سولې د بهير په ټينګولو او د موافقتنامې د موادو په عملي کولو کې په مستقيمه توګه څارنه وکړي او هغو نړيوالو مرستو ته چې زموږ له هېواد سره په بېلا بېلو برخو کې کېږي نظم ورکړي. د ملګروملتونو د سازمان کارونه زموږ په هېواد کې پرلاندې څلورو برخو کې ترسره کېږي:

۱- په افغانستان کې د ملګروملتونو د سياسي استازو دفتر(UNAMA)
۲- د ملګروملتونو پراختيايي پلان UNDP
۳- دکډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کميشنرۍ UNHCR
٤- نړيوال سوله ساتونکي قوتونه ISAF

**يوناما**UNAMA

د ملګروملتونو يوناما يا سياسي دفتر په افغانستان کې د سياسي ستونزو د څارنې لپاره د امنيت شورا د(( پرېکړه ليک)) له مخې تأسيس شوی دی.

د بن له توافقاتو څخه وروسته، (( يوناما)) ډېر کوښښ وکړ چې د نړيوالو نظر د افغانستان د دولت په ننګه راواړوي او د سوله خوښوونکو هېوادونو د مرستو په را اړولو سره، له افغانستان سره د سولې د بيا ژوندي کولو، بيا رغونې او د دموکراسۍ د ارزښتونو په ټينګښت کې مرسته وکړي. يوناما د خپل تأسيس له لومړيو ورځو څخه تراوسه پورې د افغانستان له دولت سره په بېلابېلو برخو کې مرسته کړې ده.

د لويې جرګې په جوړېدو او جوړښت کې، ان د رأيو ورکوونکو د نومونو د ثبت څخه نيولې د استازو د ټاکنو او د هغوی د پلازمېنې کابل ته په لېږدولو کې يې مرسته کړېده همدارنګه يوناما د اساسي قانون د کميسيون او د هغې د دارالانشأ سره هم مرسته کړېده.

**فعاليت** د خپلو ټولګيوالو په مرسته د يوناما مرستې په ځو کرښو کې وليکئ.

**د ملګروملتونو پراختيايي پلان** UNDP

د ملګروملتونو د سازمان پراختيايي پروژه د نړۍ په ۱٤٤ هېوادونو کې فعاليت کوي، چې د ملګروملتونو د سازمان له سيستم سره مرسته وکړي.بېوزلی، لوږه، ناروغتيا، بې سوادي، سيمه ييزې ستونزې، پرښځو باندې ناروا تبعيضونه را کم کړي. زموږ په هېواد کې د ملګروملتونو پراختيايي برنامې، د لوی جرګې له خوا د اساسي قانون د برابرولو مسؤوليت

د یو ګډ هوکړې لیک په چوکاټ کې پر غاړه درلود او دې مرستې د اساسي قانون د تدوین او برابرولو ټول پړاوونه ترسره کړل.

## د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري UNHCR

له نړیوالو سازمانونو څخه یو هغه سازمان چې د افغانستان له خلکو سره یې د هغوی د ټاکنو ( انتخاباتو) په لړ کې مرسته وکړه، دغه سازمان او همدا شان نوموړي سازمان د مهاجرینو په ځانګړې توګه له پاکستان څخه د هېواد ولایتونو ته له مهاجرینو سره ډېرې مرستې کړې دي.

عالي کمیشنرۍ د خپلې دندې له ترسره کولو سربېره ان په هغو مواردو او ځایونو کې چې یوناما هغو ځایونو ته د رسیدلو وس او توان نه درلود، د یوناما پرځای یې دنده ترسره کړې ده او د څارونکي په توګه یې په ټاکنو ( انتخاباتو) کې ګډون کړی دی.

## نړیوال سوله ساتي ځواکونه ISAF

دې ځواکونو لومړی د کابل د ښار او د هغه د شاوخوا د امنیت د ساتلو دنده په غاړه درلوده او وروسته یې ورو ورو دغه امنیتي چتر څینو نورو ولایتونو ته هم پراختیا ورکړه، همدا شان نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د کورنیو چارو د وزارت او ملي امنیت په مرسته، د اساسي قانون د لویې جرګې د پرانستلو د ځای امنیت هم وساته.

**فعالیت** زموږ په هېواد کې چې د مهاجرینو په چارو کې ملګروملتونو کمیسارۍ څومره مرستې کړې دي، په اړه یې د خپلو ټولګیوالو په مرسته درې کرښې ولیکئ.

**ستاسو د نور معلوماتو لپاره**

**سیستم څه شی دی؟** د سیستم کلمه د یوناني Sustema کلمې څخه اخېستل شوې ده. چې د ټولګې ( مجموعې) په معنا ده. د سیاست په علم کې د حکومت په معنا ده او د نظام معنا ته ژباړل شوې ده. د بېلګې په توګه: فیودالي نظام، پانګه والي نظام، او یا پارلماني نظام.

### د لوست لنډیز

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱-د بن له توافقاتو څخه وروسته، د ملګروملتونو سازمان کومې دندې پر غاړه واخېستې؟

۲- یوناما زموږ له هېواد سره له کومو لارو مرسته کوي.

۳- د ملګروملتونو پراختیایي پروژې زموږ په هېواد کې د کومو موضوعګانو د برابرولو دنده پرغاړه لرله؟ ویې لیکئ.

**کورنۍ دنده**

د خپلو ټولګیوالو په مرسته د ملګرو ملتونو د سازمان مرستې په لنډه توګه په پنځو کرښو کې ولیکئ.

# اساسي حقونه

په تېرلوست کې مو ولوستل چې د ملګروملتونو سازمان زموږ په هېواد کې په لاندنیو څلورو برخو کې کارکوي.

۱- په افغانستان کې د ملګروملتونو سازمان د سیاسي استازي دفتر UNAMA.

۲- د ملګروملتونو انکشافي ( پراختیايي) پروژه. UNDP

۳- د کډوالو په چارو کې د ملګروملتونو عالي کمیشنريUNHCR

٤- نړیوال سوله ساتونکي قوتونه ISAF

په دې لوست کې د اساسي ( بنسټیزو) حقونو سره بلدېږو.

## خبرې پرې وکړئ

- اساسي حقونه کوم وخت رامنځ ته شول؟
- اساسي حقونه څه شی دي؟

د انسان اساسي حقونه هغه نه ختمېدونکي نعمتونه دي چې الله (جَلَّ جَلاَلُه) بشرته ورکړي دي. اساسي حقونه د یوې ټولنې د انسانانو لومړنیو او ضروري حقونو ته ویل کېږي. اساسي حقونه هغه وخت رامنځ ته شول چې انساني ټولنه مینځ ته راغله. د نویو اساسي حقونو فکر د اتلسمې پېړۍ په لومړیو او د نولسمې پېړۍ په پیل کې مینځ ته راغی.

په دې برخه کې دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې په ربښتني توګه اساسي حقونه څه شی دي؟ اساسي حقونه د عمومي داخلي حقونو یوه څانګه ده چې د حکومت جوړښت او سازمان، د حاکمې طبقې د افرادو مسؤولیتونه، د افرادو حقونه او مکلفیتونه، د دولت په وړاندې د خلکو مسؤولیتونه او حقوق او د دولت دندې د ملت د افرادو د حقونو او ازادیو په پام کې نیولو سره څانګړې کوي.

**فعالیت** د خپلوټولګیوالو په مرسته د اساسي حقونو د لرغونتیا په هکله خو کرښې ولیکئ.

**آیا پوهېږئ اساسي حقونه کومو موضوعګانو ته ویل کېږي؟** د اساسي حقونو موضوع، د ټولنې افراد او دولت جوړوي چې لاندیني مسایل په کې شامل دي. د دولت بڼه او شکل، د ( اجراییه، مقننه او قضاییه قوا) جوړښت او تشکیلات او د دې درې ګونو قوتونو صلاحیتونه او مسؤولیتونه او د هغوی د نړیوالو اړیکو د ټینګولو څرنګوالی، د سیاسی او ټولنیزو سازمانونو د جوړیدلو څرنګوالی او د هېواد په دولتي سیستم کې برخه اخېستل او د اتباعو اساسي حقونه او وجیبې دي.

### د اساسي حقونو ځانګړتیاوې

اساسي حقونه ځینې ځانګړتیاوې لري چې ځینې عبارت دي له:

- د حقوقو د علم یوه څانګه ده.
- د داخلي یا ملي حقونو په نامه دي.
- د عمومي حقونو په نامه دي.

• د هغې موضوع د دولت حقونه او اختيارات او د دولت او افرادو ترمنځ اړيکې دي.
• د سلسلهٔ مراتب له پلوه د عمومي حقونو دڅولونو په سرکې ځای لري.
• د معمول په توګه په يوه رسمي سندکې د اساسي قانون په نامه ترتيبيږي.

### د اساسي حقونو سرچينې

د اساسي حقونوسرچينې په هره ټولنه کې توپير لري چې د هغوی مهمې سرچينې عبارت دي له:

په اسلامي هېوادونوکې اسلامي شريعت، اساسي قانون، عادي قانون، قضاييه چارې، دودونه، عادتونه او د پوهانو نظرونه.

په اسلامي هېوادونوکې، اساسي حقونه د اسلام له پاک شريعت څخه سرچينه اخلي، د بېلګې په توګه زموږ د هېواد د اساسي قانون په دريمه ماده کې راغلي دي:(( په افغانستان کې هېڅ قانون، نه شي کولی چې د اسلام د دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي)).



د افغانستان اساسي قانون انځور

**فعاليت** د خپلوټولګيوالو په مرسته  د اساسي حقونو دوه موضوعګانې وليکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

قضاييه چارې: په ورته او مشابه قضايا وو او پېښو کې د محکمو د هغو غوڅو او سره ورته تصميمونو او فيصلو له ټولګې څخه عبارت دي چې يو د اساسي حقونو له سرچينو څخه ګڼل کېږي.

### د لوست لنډيز

• ------------------------------------------------------------------
• ------------------------------------------------------------------
• ------------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱-د اساسي حقونو جوړښت په کومه پېړۍ کې شوی دی.
۲- د اساسي حقونو په موضوع کې کوم مسايل شامیل دي؟
۳- د اساسي حقونو د دريوعمده ځانګړتياوو نومونه واخلئ.

**کورنۍ دنده**

د خپلو ټولګيوالو په مرسته وليکئ چې: اساسي حقونه زموږ د هېواد د اساسي قانون په کوم څپرکي کې ځای شوي دي؟

# د بشر د حقونو تاریخچه

په تېر لوست کې مو ولوستل چې اساسي حقونه د عمومي داخلي حقونو یوه برخه ده چې د دولت په وړاندې د حکومت جوړښت او تشکیل، د حاکمې طبقې دندې او مسؤولیتونه، د خلکو مکلفیتونه، د یوه هېواد د وګړو حقوق او خپلواکۍ تعینوي. په دې لوست کې د بشر د حقونو تاریخچې سره بلدېږو.

## خبرې پرې وکړئ

- د تاریخ په اوږدوکې د بشر د حقونو څو ډوله اړیکې د پام وړګرځېدلې وې؟
- د بشر د تاریخ له پیل څخه تر ۱۷۸۹ م. پورې د بشر ټولې هلې ځلې دکومو حقونو د ترلاسه کولو لپاره متمرکزې وې؟

## د بشر د حقونو تاریخي مسیر

**لومړی پړاو: له ۱۷۸۹م کال څخه مخکې**: د بشر د حقونود لاس ته راوړلو په اړه ډېره اوږده مرحله ګڼل کېږي، د دې مرحلې ځانګړتیاوې د بشر د حقونو د لاس ته راوړلو په موخه دي.

د بشر د تاریخ له لومړیو څخه تر (۱۷۸۹م)پورې ټول کوښښونه او هلې ځلې د بشر د حقونو په ټولو طبیعي او ذاتي حقونو باندې متمرکزې وې چې له حقونو او ارزښتونو څخه ګټه واخلي. د دې مرحلې په تېرېدلو سره په لازمي ډول د بشر حقونو په اړه درې ډوله اړیکې په پام کې نیول کېږي: د انسان اړیکه له انسان سره، د انسان اړیکه له چاپېریال سره د انسان اړیکه له تولید سره.

**دویم پړاو د بشري حقونو تدوین**: د فرانسې هېواد استازي په ۱۷۸۹ م کال کې د اګست په ۲۶ د فرانسې مرکز د پاریس په ملي غونډه کې سره کیناستل او د یوې رسمي اعلامیې په ترڅ کې یې د بشر طبیعي حقوق اعلان کړل. هغوی ټینګار وکړ چې بشر ازاد پیدا شوی دی باید ازاد ژوند وکړي او د حقونو له مخې یو له بل سره برابردی. دا اعلامیه ټولو سیاسي ټولنو د بشر د طبیعي او نه بېلېدونکو حقونو د ساتنې موخه وګڼل شوه چې عبارت ده له:

ازادي، امنیت، مالکیت او په پای کې د ظلم په وړاندې مقاومت. دا اعلامیه ۱۷ مادې لري چې د یوه رسمي او تاریخي سند په بڼه منځ ته راغله.

**دریم پړاو د بشر د حقونو څرګندیدل په ۱۰ دسامبر ۱۹۴۸ م کې**:

لومړۍ نړېوالې جګړې(۱۹۱۴م - ۱۹۱۸م )او دویمې نړېوالې جګړې( د ۱۹۳۹ م - ۱۹۴۵م )څخه وروسته د نړۍ هېوادونه په ځانګړې توګه په جګړه کې شامل هېوادونه د ډېرو مادي او معنوي زیانونو سره مخامخ شول.

په لومړۍ نړېواله جګړه کې نږدې لس میلیونه انسانان مړه شول او د درې میلیونو په اندازه ټپیان شول او په زرګونو خلک د ولږې له لاسه له منځه ولاړل. په دویمه نړېواله جګړه کې له ۵۵ میلیونو څخه زیات خلک ووژل شول او د ۹۰

میلیونوڅخه زیات خلک ټپیان شول، ښارونه، کلي او نور ځایونه له مینځه لاړل.

**څلورم پړاو د بشر د حقونو استحکام په ۱۹۲۲ م کې.**

د بشر د حقونود نړیوالې اعلامیې په څنګ کې، د بشر دحقونو نور ددې سندونه ددې کلونو په اوږدوکې تصویب شول چې د بشر د حقونو مکمله اعلامیه ګڼل کیږي.

۱- د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون.

۲- د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون( ژمنې) په اړه نړیوال تړون.

۳- د ټولنیزو او اقتصادي حقونو نړیوال تړون: د بشري حقونو د دې اساسي اسنادو په تعقیب د بشر د حقونو په اړه له ۲۰ څخه زیات تړونونه او معاهدې په تصویب شوي دي.

**پنځم پړاو د بشر د حقونو د معیار د رامنځ ته کېدلو پړاو ۱۹۹۲م**: د دې مرحلې له لویو ځانګړتیاوو څخه د بشر د حقونو د نړیوال کېدلو په اړه هلې ځلې دي، د اتیایمي لسیزې په دویمه نیمایي کې د سړې جګړې پایله راښایي. هغه ایډیولوژیګانې چې د هغوی هر یو په خپل ګمان او تعبیر سره د بشر حقوق زمزمه کول کمزوري او بې اغېزې شول، د بشر د حقونو نړیوال کېدلو ته یې لاره برابره کړه.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

کنوانسیون: څو اړخیزو نړیوالو سندونو ته ویل کیږي چې د شکل له مخې د معاهدې ( تړون) سره ورته والی لري.

**د لوست لنډیز**

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

**پوښتنې**

۱-په لومړي پړاو کې د بشر د حقونو په تاریخي بهیر کې څو دولة اړیکې د پام وړ وګرځېدلې؟

الف: دوه دولة اړیکې. ب: درې دولة اړیکې. ج: څلور دولة اړیکې. د: پنځه دولة اړیکې.

۲- دویم پړاو د څه په نوم یادیږي؟ د فرانسې د هېواد استازو د رسمي اعلامیې په راویستلو سره کوم حقوق تأیید کړل؟

۳- دریم پړاو د څه شي په نوم یاد شوې دی؟ او په کومه نېټه رامنځ ته شوی دی؟

**کورنۍ دنده**

د پنځمې دورې ځانګړتیاوې په دریو کرښو کې ولیکئ.

# د بشر حقونو نړیواله اعلامیه

په تېرو لوستونو کې مو ولوستل چې د بشر د حقونو تاریخي بهیر پنځه پړاوونه تېر کړې دي چې لومړی پړاو د ۱۷۸۹م څخه مخکې، دویم د بشر د حقونو د تدوین پړاو، درېیم د بشر د حقونو څرګندېدو پړاو، څلورم د بشر د حقونو د پیاوړتیا پړاو، پنځم د بشر د حقونو د معیار د رامنځته کېدلو پړاو. په دې لوست کې د بشر د حقونو له نړیوالې اعلامیې سره بلدېږو.

## خبرې پرې وکړئ




د( ) د بشر د حقونو اعلامیه انځور

• هغه ازادۍ چې د انسان د ژوند لپاره ارزښت لري په حقوقي ادبیاتو کې په کوم نامه یادېږي؟

تاسو د ارتباطي جمعي وسایلو له لارې د اعلامیې له نوم سره بلدیاست، شاید ستاسو په ذهن کې دا راوګرځي چې اعلامیه څه شی دی؟ هغه سند چې په هغې کې دوه یا څو هېوادونه د یوې مسلې په هکله خپله تګ لاره، د نظرونو یووالی او د خپلو هڅو شریکول، په ځانګړې توګه په رسمي ډول سره اعلام کړي، اعلامیه ورته ویل کېږي، لکه: د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه، په فرانسه کې د بشر د حقونو اعلامیه او داسې نور.

حقوق او ازادۍ د انسان د ژوند لپاره ډېر ارزښت لري چې په ادبیاتو کې د حقونو او د بنیادي ازادیو یا په لنډ ډول سره د بشر د حقوقو په نوم یادېږي. دغه حقوق او خپلواکۍ د ظلم او استبداد په ضد د انسانانو د ګډو سرښندنو او مبارزو په پایله کې د تاریخ په اوږدوکې پوخوالي او کمال ته رسیدلي دي.

په شلمه پېړۍ کې د نړیوال ګډ سازمان له خوا د یوې پوره ټولګې په بڼه چې پخپله د استبداد پر ضد د تاریخي مبارزو د یوې برخې محصول دی، د یوې اعلامیې په چوکاټ کې اعلان شوې او په رسمیت وپېژندل شوه.

## آیا پوهېږئ د بشر حقوق څه شی دي؟

د بشر حقوق هغه حقوق دي چې هر فرد د دې له کبله چې بشر دی له هغې څخه برخمن دی. د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه په ۱۹۴۸م د ډسمبر په لسمه په تاریخي جلسه کې په ۴۸ موافقو رایو او په ۸ ممتنع رایو پرته له هیڅ مخالفي رای د نړیوال سازمان په غونډه کې تصویب شوه. کومو هېوادونو چې موافقه رایه ورکړه، عبارت وو له: افغانستان، استرالیا، فرانسه، کاناډا، چین، د امریکا متحده ایالات او داسې نور، کومو هېوادونو چې ممتنع رایه ورکړې وه، عبارت وو له: پخواني شوروي اتحاد، بلاروس، چکوسلواکیا، پولنډ، اوکراین، یوګوسلاویا، جنوبي افریقا او سعودي عربستان. د بشري حقونو نړیواله اعلامیه د یوې سریزې او دیرشو مادو لرونکې وه.

**فعالیت** د خپلوټولګیوالو په مرسته د لسو هېوادونو چې موافقه رایه یې ورکړې وه، نومونه ولیکئ.

د بشر د حقونو ځانګړتیاوې: د بشر حقوق د لاندې ځانګړتیاوو لرونکي دي:

• د بشر حقوق فطري او ذاتي دي.
• د بشر حقوق نه بېلدونکي دي.
• د بشر حقوق نړیوال دي،
• د بشر حقوق الهي ډالۍ ده.

## مدني او سیاسي حقونه او خپلواکۍ

### آیا پوهېږئ مدني او سیاسي حقونه او خپلواکۍ کومې کومې دي؟

د بشر د حقونو د ځینو مدني او سیاسي خپلواکیو حقونه عبارت دي له:

الف: د ژوند حق، فردي مصؤنیت او آزادي، نه ازارول، د غیر انساني جزاګانو او سپکولو مخنیوی، د ېوزلی مخه نیول، د قانون ساتنې حق، د ذمې د برائت حق، د تابعیت حق، د واده حق، د کورنی حق، د بیان او مطبوعاتو ازادي، د غونډو د جوړېدلو د ازادۍ حق، په عمومي چاروکې د ګډون آزادي، په ټاکنو کې د ګډون حق او داسې نور...

ب: اقتصادي او فرهنګي حقوق: د ټولنیز مصؤنیت حق، د کار حق، د دندې د خوښولو حق، د مساوي کار په بدل کې د مساوي مزد حق، د اتحادیې د جوړولو آزادي، د استراحت او تفریح حق، د سوکالۍ او روغتیا حق، د ټولنیز حمایت په برخمن کېدلو سره د میندو او ماشومانوحق، د ښوونې او روزنې حق، په علمي او فرهنګي ژوند کې د ګډون حق، د مادي او معنوي سرچینو او د فرهنګي فعالیتونو او آثارو د ژغورنې حق او داسې نور.

د یادونې وړده، هر کله چې په نړیوالو کنوانسیونونو، تړونونو او حقونو کې کوم مواد د اسلام د سپیڅلي دین مخالف وي، د اساسي قانون د دریمې مادې په اساس: (( په افغانستان کې هیڅ قانون نه شي کولی چې د اسلام د سپیڅلي دین داحکامو او معتقداتو مخالف وي)) د منلو وړ نه دي.

فعالیت د خپلو ټولګیوالو په مرسته ۸ مدني حقوق لست کړئ.

**ستاسو د نورو معلومات لپاره**

مدني حقوق: له مدني حقونو څخه مطلب د ځینو اساسي او ټولنیزو ازادیو لړل دی چې د هغوي په برخه من کېدلو سره اتباع حق لري چې د محاکمو او یا د اجرایي لاملونو له لارې د حمایت لاندې را شي.

**د لوست لنډیز**

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

**پوښتنې**

۱- لاندې جمله پوره کړئ.

د بشر حقوق........................ چې هر فرد ........................ بشر دي...........................

۲- د نړیوال سازمان د عمومي غونډې په نړیواله اعلامیه کې چې د بشر حقونو په اړه یې ممتنع رایه ورکړه، یوازې د دریو هیوادونو نومونه واخلئ.

۳-د بشر د حقونو ځانګړتیاوې بیان کړئ.

کورنۍ دنده پنځه فرهنګي حقوق ولیکئ.

# اسلامي بشري حقوق

﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً﴾ د الاسرا سورت، ۷۰ آیت

ژباړه: په تحقیق سره موږ د ادم اولاد ته عزت ورکړی دی او هغوی مو په وچه او بحر کې په حرکت راوستل او د هغوی لپاره مو له پاکو موادو څخه روزي مقرکړه او هغوی ته مو په ډېرو مخلوقاتو چې موږ پیدا کړیدی برتري ورکړیده.

په تېر شوي لوست کې مو د بشر د حقونود نړیوالي اعلامیې په هکله معلومات ترلاسه کړ، په دې لوست کې به د اسلامي بشري حقونو سره بلدشئ.

## خبرې پرې وکړئ

- حق په لغت کې څه معنا لري؟
- حقوق څه ته وایئ؟

د اسلام له نظره د بشري حقونو د پېژندنې لپاره د دې پوښتنې کول ضروري دي چې پوه شو چې د حقونو له پېژندنې څخه د مسلمانانو مطلب څه دی؟

حقوق د حق جمع ده، حق ډېرې معناوې لري، لکه: الحق چې د الله (جَلَّ جَلاَلُه) نوم دی. حقدار، حقیقت، رښتیا، عدل، صداقت، همدارنګه حق مطابقت (برابروالي) ته وېل کېږي، یعنې خبرې یې رښتیا دي او له حقیقت سره مطابقت لري.

حق د برخې په نامه، لکه: چې موږ وایو دا زما حق دی. حق، د شخص لپاره دګټې د ثبوت په معنا، لکه: پلار پر زوی حق لري. د حقوق پوهانو په نزد حق له واک، سلطې او امتیاز څخه عبارت دی چې د یو ه شخص لپاره پېژندل شوی دی او نور د هغې په رعایت کولو باندې مکلف دي. اوس چې مو د حق معنا وپېژندله، ضروري ده چې حقوق وپیژنو:

ستاسو په خیال حقوق د حقوق پوهانو په اصطلاح کې کومې معنا ته وېل کېږي؟

حقوق د حقوق پاهانو په اصطلاح کې په دوو معناوو سره دي.

۱- د قانوني قواعدو د ټولګې په معنا دی چې په دې تعبیر سره (حقوق) له قوانیو سره مرادف دی، لکه: مدني حقوق، د جزا حقوق، د تجارت حقوق او داسې نور.

۲- د یو شخص لپاره دګټې د ثبوت په معنا دي چې قانون د هغه ساتنه کوي، لکه: د ژوند حق، د مالکیت حق، د لیرد حق، او داسې نور.

### آیا پوهېږئ د اسلامي حقونو سرچینې کومې دي؟

د اسلامي حقونو سرچینې: د الله (جَلَّ جَلاَلُه) کتاب، د رسول الله ﷺ سنت، د امت اجماع او قیاس دي

**ستاسو د نورو معلوماتو لپاره:**

## د اسلامي بشري حقونو د اعلامیې سره بلد شئ

پورتنی اعلامیه په (۱٤۱۱. هـ.ق) د محرم په ۱٤ نېټه، چې د (۱۳٦۹. هـ.ش) د اسد د ۱۵ نېټې سره برابره ده، د اسلامي کنفرانس د بهرنیو چارو د وزیرانو له خوا په ۲۵ مادو کې تصویب شوه، کله چې د اسلامي بشري حقونو څخه خبره کوو، باید دغه څلور مهم ټکي په پام کې ونیسو:

حقونه الهی ورکړه ده، حقونه د مکلفیت تابع دي، حقونه د مراتبو د سلسلې لرونکي دي، په انساني اړیکو کې یوه سلسله اولیتونه شتون لري. د اسلامي بشري حقونو مفهوم پر دوو مهمو بنسټونو ولاړ دی:

د افرادو انساني کرامت او عدالت. اسلام تل په دې خبره ټینګار کړی دی چې الله تعالی ټول انسانان د عزت خاوندان ګرځولي دي او د هغوی درناوی یې کړی دی. د یادونې وړ ده، لویدیځه نړۍ چې د بشر د اساسی حقونو نوم یادوي، دغه حقونه د اسلام په دین کې د هماغو لومړنیو ورځو څخه د بشر لپاره پېژندل شوي دي او پر هغو یې ټینګار کړی دی، کولای شو چې له هغو څخه یې ځینو ته اشاره وکړو: د ژوند حق، د جنین حق، د ازادۍ حق، د برابرۍ حق، د عادلانه محاکمې حق، د ښځو حقونه او نور.

د یادونې وړ ده چې ټول حقونه او ازادۍ د شرعي احکامو پورې تړلي دي، اسلامي شریعت یوازې او یوازې د دې اعلامیې د هرې مادې د توضیح او تفسیر مرجع ده.

**فعالیت** د اسلامي بشري حقونو مفهوم په څو بنسټونو ولاړ دی، په دې اړه څو کرښې ولیکئ.

**د لوست لنډیز**

•------------------------------------------------------------

•------------------------------------------------------------

•------------------------------------------------------------

**پوښتنې**

۱- لاندې جمله پوره کړئ.

حق د.......... او امتیاز څخه............ دی چې د.......... لپاره پېژندل شوی دی او نور د هغې په رعایت کولو باندې.......... دی.

۲- د اسلامي حقونو د سرچینو یوازې نومونه واخلئ.

۳-کله چې د اسلامي بشري حقونو څخه خبرې کوو، کومې نکتې په نظر کې ونیسو؟

**کورنۍ دنده**

د اسلامي بشري حقونو د اعلامیې او د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې درې مشابهات (ورته والي) لست کړئ.

# په افغانستان کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

په تېر لوست کې مو د اسلامي بشري حقونو په اړه معلومات ترلاسه کړل، په دې لوست کې به په افغانستان کې د بشر د حقونو له خپلواک کمیسیون سره بلدشئ.

د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون نښان

## خبرې پرې وکړئ

- خپلواک کمیسیون څه ته وایي؟
- د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون څرنګه جوړ شو؟

د لوست له پیل څخه مخکې بایدپوه شو چې کمیسیون څه شی دی؟ کوم هیأت چې د یوې موضوع د مطالعې او څېړنې دنده په غاړه ولري کمیسیون ورته وېل کېږي،لکه:

د ښوونې او روزنې کمیسیون، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون او داسې نور. د افغانستان د بشري حقوقو کمیسیون د افغانستان د اساسي قانون د اته پنځوسمې مادې د حکم او د ملګروملتونو د عمومي اسامبلې د ۱۹۹۳ د دسمبر د ۲۰ نېټې د ۱۳٤ ګڼې پرېکړه لیک پر بنسټ، د بشر د حقوقو په پام کې نیولو باندې د څارنې، د هغو د ښه کولو او ملاتړ او د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو، واکونو او د فعالیت د څرنګوالي د چارو د تنظیم په منظور، وضع شوی دی. د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون ۹ غړي لري چې نارینه او ښځې پکې شاملې دي ، د پنځو کلونو د مودې لپاره ټاکل کېږي او د کمیسیون رئیس د ولس مشر له خوا ټاکل کېږي. د کمیسیون هرغړی د کمیشنر په نوم یادېږي.

آیا پوهېږئ د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون د خپل کار په سرته رسولو کې کومې سرچینې د خپلو کړو د ملاک ( واک) لاندې راولي؟

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون د افغانستان د اسلامي جمهوریت په چوکاټ کې تأسیس او په خپلواک ډول فعالیت کوي. د خپلو فعالیتونو په سرسته رسولو کې د هېواد د اساسي قانون حکمونه او د هېواد نور نافذ شوي قوانین د خپل کار د ملاک( واک) لاندې راولي. د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون د یوه مرکزي دفتر لرونکی دی، چې په کابل کې موقعیت لري او ساحوي دفترونه یې په هرات، قندهار، ګردیز، مزارشریف او داسې نورو ولایاتو کې په فعالیت بوخت دي. هلته د دې دفترونو له جوړولو څخه موخه د یوې اداري له خوا د بشر د حقونو څارل دي.

**فعالیت**

د خپلو ټولګیوالو په مرسته د ۸ ساحوي (سیمه ییزو) دفترونو نومونه ولیکئ.

**آیا پوهیږئ د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون د کومو موخو د تحقق لپاره فعالیت کوي؟**

د کمیسیون ځینې موخې عبارت دي له: په هېواد کې د بشري حقونو په رعایت باندې نظارت، د بشر له حقونو څخه حمایت او تصمیم، د بشري حقونو او ازادیو ته د خلکو د لاس رسی له څرنګوالی او وضعیت څخه څارنه، له بشري حقونو څخه د سرغړونو، د بشر حقونو د ماتولو او داسې نورو په هکله تحقق او څارنه.

## د بشر د حقونو ماتول څه شی دی؟

هر عمل چې د یوه فرد، ټولنې او د قانون چلوونکي له خوا د بشري حقونو د ملي او بین المللي قوانینو د ماتیدلو سبب وګرځي، د بشر د حقونو ماتول ورته ویل کېږي.

که څه هم، دغه عمل د دولت د مامورینو له خوا د دندې په وخت کې ترسره شي، یا د حقوقي اشخاصو له خوا یا د ادارو له خوا په عمدي توګه ترسره شي. د بشر د حقونو د ماتولو ډېرې مهمې بېلګې دا دي: د ژوند اخېستل، ډله ییزې وژنې، غیر قانوني حبس، وهل، جنسي تجاوز، د ملکیت غصبول، نژادي تبعیض، جنګي جرمونه، اختطاف او داسې نور.

**فعالیت** د بشر حقونو لس ماتوونکي که مولیدلي وي ویې لیکئ.

**ستاسې د نورو معلوماتو لپاره:** اختطاف: د تهدید زور، دویرې د ډولونو یا له چل او فریب څخه په کار اخېستلو یا د یو چا د جسمي او روحي کمزوریو څخه په استفادې سره د یو چا تختول، یا د یوه نوي زیږدلي ماشوم بدلول په بل ماشوم باندې اخطاف یا تختونه بلل کېږي.

**د لوست لنډیز**

- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

**پوښتنې**

۱- د افغانستان د بشرد حقونو کمیسیون په کومه موخه جوړشوی دی؟

۲- د افغانستان د بشر حقونو کمیسیون د غړو شمېر څو کسوته رسېږي؟

۳- د افغانستان د بشر حقونو د کمیسیون درې موخې بیان کړئ.

**کورنی دنده**

د افغانستان د بشر د حقونو کمیسیون د فعالیتونو په هکله په څلورو کرښو کې خپل نظرونه ولیکئ.